


# د خلکو بنسټیزو حقونو ته ځغلنده کتنه:

# ننګونې او فرصتونه

داکتر رنګین دادفر سپنتا

تله ۱۳۹۳

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

۱۳ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه
افغانستان
لپاره
AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

د موضوعي خپرونو لړۍ

# د خلکو بنسټیزو حقونو ته ځغلنده کتنه: ننګونې او فرصتونه

داکټر رنګین دادفر سپنتا

تله ۱۳۹۳

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

دغه څېړنه د امریکا د متحده ایالاتو سولې د انستیتیوت او د فنلند
د سفارت په مالي مرسته ترسره شوې ده.

د پښتنۍ انځور: په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي په اړه د افغان میرمنو د اعتراض یوه څنډه (انځورنه له فیروز مشعوف)

ژباړن: محمود کوچی

د خپروني کود: ۱۴۲۲P

© ۱۳۹۳ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ټینې حقوق محفوظ دي. کیدای شي دغه خپرونه تکثیر او بیا چاپ شی او یا دبیا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او یا په هره بڼه او هره وسیله لکه: برقي ضبطی او نورو وسایلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د لیکوال او د افغانستان د څېړنی او ارزونی د واحد د مشخصاتو یادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پیرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګریزه استفاده منع ده. که چیرې دغه خپرونه بیا خپره او یا د بریښنایي بڼه په واک کې ورکړل شی، باید دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کرښه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او یا په انترنتی صفحه ولیکل شي. د هر ډول ګټې اخیستنی لپاره چې پورته یې یادونه ده شوې باید مخکی له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد لیکلې اجازه له انټرنیټی سایټ www.areu.org.af او یا له ۰۷۹۹ ۲۰۸۵۴۸ (۰) ۰۰۹۳ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

# لیکوال په اړه

ډاکتر رنګین دادفر سپنتا د ۲۰۱۰ له جنورۍ نه د ۲۰۱۴ کال تر سپټامبره پورې د افغانستان د ملي امنیت د سلاکار په توګه دنده تر سره کړې. د ۲۰۰۷ کال له جنورۍ نه د۲۰۱۰ کال تر جنورۍ پورې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر په توګه او په ۲۰۰۵ زیږدیز کال کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د ولسمشر کرزي سلاکار پاتې شوی دی. هغه له ۱۹۹۲ کال نه تر ۲۰۰۴ کاله پورې د اخن په تخنیکی پوهنتون کې استاد و او د خپلې ډاکتری سند یې هم په ۱۹۹۲ کال، کې له همدغه پوهنتون او ماستري یې بیا په ۱۹۸۱ کال د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو په برخه کې د انقرې له پوهنتونه اخیستې ده. د ډاکټر سپنتا له اثارو نه یو هم د جګړه مارو تر سیوري لاندې د ملت جوړونې اثر دی، او له تره ګرۍ سره جګړه د هپلرز جوچن د ملت جوړونې کتاب چې په ۲۰۰۴ کال کې خپور شویدی.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومښتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنیډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس ادارې (SDC)، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې(GIZ)، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه (SCA)او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# مننه

دغه تحقیق او پلټنه د مرکه کوونکو، اوریدونکو، د افغانستان د څېړنې ارزونې او پلټنې د ځانګړې ادارې د کارکوونکو،استاد داکتر محمدهاشم کمالي، میرمن ارونی جیاکودی او علی شاه حسن زاده له مرستې او همکارۍ پرته ناشونې وه. استاد محمد هاشم کمالی، لومړنۍ طرحه له نظره تیره کړه، د هغه له اصلاحي وړاندیزونو څخه مې ګټه پورته کړه چې ترینه مننه کوم. هغه د پوهنتونی بوختیاو سره، سره دومره وخت وموند چې خپلې مشورې یې په دې برخه کې راسره شریکې کړې، نادر نادري چې بې کچې درناوی یې پر عادت بدل شوی یو لړ وړاندیزونه راسره شریک کړي چې د دغه متن په کره والي یې اغیز ښندلی چې د خپل دغه ځوان ملګري نه هم مننه کوم.

میرمن ارونی جیاکودی د پروژې همغږې کوونکې د افغانستان دڅېړنی او ارزونې واحد، له ادارې سره چې تل یې د لیکونو په راکړه ورکړه کې ونډه لرلې او هڅه یې کړې چې دغه لیکنه پخپل وخت ولیکل شي.همدا رنګه له علي شاه حسن زاده نه د هغو مرکو په خاطر چې له اوریدونکو سره یې تر سره کړي او د ارزونې په بشپړولو کې یې راسره مرسته کړې مننه کوم خو له شک پرته د ټولو هغو کمیو پړه زما په غاړه ده چې په دغه تحقیق کې لیدل کیږي او هیله مې دا ده چې دغه نیمګړتیاوې په راتلونکې کې لرې کړم.

تله ۱۳۹۳

داکتر رنګین دادفر سپنتا

# د موضوعاتو لیکلړ


لنډیز ۲

۱. د څېړنې تګلاره ۳

۲. د وګړو بنسټیز حقونه ۴

۲.۱ اساسي حقونه الزامي دي او اساسي حقونه ارماني ۴

۲.۲ د خلکو د بنسټیزو حقونو سرچینه او پرمختګ ۵

۲.۳ د خلکو یا ولسونو اساسي حقونو لومړنۍ اعلامیې ۵

۲.۴ د بشر ټولنیز او بنسټیز حقونه ۷

۲.۵ بنسټیز حقونه او د ولسواکۍ نظام ۸

۲.۶ بشري او د خلکو حقه حقونه ۹

۳. په افغانستان کې د خلکو د بنسټیزو حقونو د قانوني کیدو تګلاره ۲۱

۳.۱ د افغانستان پر وړاندې د دولت بنسټیزه نظامنامه ۱۹۲۴ ۱۳

۳.۲ د افغانستان د علیه دولت اساسي اصول او حقونه ۱۳۱۰ ۱۵

۳.۳ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۴۳ ۱۵

۳.۴ دافغانستان د جمهوري نظام اساسي قانون ۱۳۵۵ ۱۷

۳.۵ دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسي اصول، ۱۳۵۹ ۱۸

۳.۶ اساسي قانون ۱۳۶۶ ۲۰

۳.۷ دافغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون ۱۳۸۲ ۲۱

۴. پایله ۴۲

۵. وړاندیزونه ۴۳


# انځورونه


۱ انځور: د افغان خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اعتراض کې خبریالانو خپلې خولې په تور ټوکر تړلې دي. ۸

۲ انځور: په افغانستان کې د کورني تاوتریخوالي یو قرباني ، د رپوټونو له مخې د دغې میرمنې میړه د هغې شونډې او پزه پرې کړېدي. ۲۴

۳ انځور: د هرات یو شمیر اوسیدونکو د نا امنیو او سړي تښتونې له امله په لاریون لاس پورې کړی ۳۷

# لنډنومونه

| | |
|---|---|
| AIHRC | د بشري حقونو خپلواک کمیسیون |
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد |
| IRoA | د افغانستان اسلامي جمهوریت |
| MoJ | د عدلیې وزارت |
| PDPA | د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند |
| UDHR | د بشري حقونو نړیواله اعلامیه |

## سریزه

د افغانستان دڅېړنې او ارزونې واحد ، مشر نادر نادري له ما وغوښتل چې د هیواد په نافذه قوانینو کې د خلکو د بنسټیزو حقونو په اړه یو څه ولیکم. زما له نظره د دغې غوښتنې لپاره وخت ډېر مناسب و ، ځکه زه پوهیدم چې له دغې غوښتنې دوه اونۍ وروسته د رسمي او دولتي مسولیتونو څنې وزګاریږم، او کولای شم چې بیرته تحقیق او پلټنې ته ستون شم، له بله پلوه دغه موضوع هم زما لپاره ډېره په زړه پورې وه. لومړی دا چې زما د سیاسي ژوند یوه برخه داده چې ان د دولتي څوکیو او منصبونو پر مهال مې هم د خلکو د بنسټیزو حقونو د خوندیتوب لپاره کار کړی او د بشري ازادیو او د خپل هیواد د اوسیدونکو د حقونو په اړه مې ټول ژوند ځانګړی شوی و او په تیرو لسو کالو کې هغه لیکنې چې ما پخپل نوم یا مستعارو نومونو لیکلې وې، په ټولو وینا او مرکو کې مې د دغو حقونو او ازادیو ننګه کړې، دویمه دا چې تحقیق او پلټنې ته زما بیا ستنیدنه په واقعیت کې هغه څه دي چې زه ورسره د زړه له تله مینه لرم، همدا رنګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اوسني اساسي قانون په اړه مې پخوا هم یو لړ پلټنې او مطالعې کړې وې.

د سیاست د ورځنیو چارو په دلیل زموږ په هیواد کې کله نا کله د اکاډیمیکو لیکنو تمه هم کیږي، کله چې د یو حقوقی متن په شننده پیل وکړي، د هغه د تطبیق په اړه ستونزې او تشې هم باید روښانه شي؛ خو دلته اصلي کار د هیواد د وګړو د بنسټیزو حقونو څېړنه ده، د متن په پام کې نیولو او څه نا څه د هغه د سپړلو په برخه کې.په متن کې یو لړ ښکاره انشایي تیروتنې، د پلټنې له دود سره سم یو لړ شمیر تیروتنو ته اشاره شوې، له همدې امله د شته تناقضاتو په اجرایي برخه کې یو لړ واقعیتونو او ریښتینولۍ ته پاملرنه نه ده شوې، خو په ټوله کې د پایلو په برخه کې یو لړ اشارې شویدي.

د موضوع د حدودو په برخه کې چې باید بحث پرې وشي لا له وړاندې ورکړل شوې وه او لیکوال هم له دغه ډول بندیزونو سره مخالفت نه لاره. له همدې امله دغه لیکنه د افغانستان د اساسي قانون یا د سیاسي او ټولنیز وضعیت په اړه چې زموږ په هیواد کې د قانون جوړونې بنسټ جوړوي نه ده. همدا رنګه د قوانینو نه پلې کیدل او د تیورۍ او واقعیتونو تر منځ بیلتون او د اساسي قانون اجرایي واقعیتونه هم د دغې لیکنې له موخو څنې دي.

په دغې لیکنه کې د افغانستان په اساسي قانون کې د دغه هیواد د وګړو تسجیل شوو حقوقوته کتنه شوې او له ورکړل شوې موخې سره سم د افغانستان پر اوسني اساسي قانون ډېر ټینګار شوی. کله ناکله هم د اړتیا له مخې او د ځانګړو ځایي سرچینو د کموالی له امله اړتیا وه چې د ډېرو نورو هیوادونو حقوقي ادبیاتو ته هم اشارې وشي.

له دغې خبرتیا سره سم چې په افغانستان کې د خلکو د حقه حقونو په تړاو پلټنه، د په شا تګ له پرمختګونو جلا د هغو مبارزو په اړه چې په سیاسي او ټولنیزو برخو کې شوي ګرانه ده، زه ټینګار کوم چې دلته یوازې د لیکنې یوه برخه په پام کې وه، نه له هغه نه ډېرې برخې.

په دغې برخه کې په افغانستان کې لومړي اساسي قانون ته چې په کال (۱۹۲۳)کې تصویب شوی و ، کتنه شوې چې په هغه کې د خلکو ازادي او بنسټیز حقونه تسجیل شوي وو، ورپسې د هیواد وروستیو اساسي قوانینو، پرمختګونو او په شاتګونو ته کتنه شوې.او په پای کې د بنسټیزو حقونو د تسجیل او په نافذ اساسي قانون کې یې ارزونه شوېده.

# لنډیز

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د (۱۳۸۲) کال اساسي قانون چې د یو لړ نا انډولۍ او ژبنیو ستونزو څخه ډک قانون دی، خو بیا هم د دغه هیواد د وګړو د اساسي حقونو د خوندیتوب لپاره هماغومره ګټور قانون دی چې موږ یې ستر ګام بللی شو. په دغه قانون کې د خلکو اساسي حقونه لکه د وګړو تر منځ برابروالی، د انساني کرامتونو خوندیتوب، پر تبعیض لګیدلي بندیزونه، د ازادۍ حق، د بیان ازادي، اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی، د اړیکو ازادي او محرمیت، د قانون خلاف غړ پورته کونه او د خلکو لپاره د زده کړې او استوګنې برابرول ټول هغه څیزونه دي چې په دغه قانون کې تسجیل شویدي.

د خلکو اساسي حقونه چې هیواد په لومړني اساسي قانون کې چې په ۱۹۲۳ کال کې تسجیل شوی ورپسې د دغو حقونو خوندیتوب په هغو اساسي قوانینو کې چې په ۱۳۱۰، ۱۳۴۳، ۱۳۵۵، ۱۳۵۹، ۱۳۶۲، او ۱۳۸۲ کلونو کې په بیلابیلو بڼو ځای پر ځای شول.

هماغه شان چې د خلکو اساسي حقونه د افغانستان په اساسي قانون کې تسجیل شوي او دولت یې د ضمانت لپاره ټټر هم وهلی، عدلي، قضایي او تنفیذي اداري نه دی توانیدلي چې دغه قانون په سمه توګه پلی کړي همدا رنګه د قانون نه واکمنیدل او هغه ناسمه اخیستنه چې له قانون څخه کیږي هغه لاملونه دي چې د خلکو پر بنسټیزو حقونو یې تیریو ته لاره هواره کړیده. د اساسي قانون له مخې خلکو کولای شول چې د خپلو شکایتونو د رسولو لپاره د ولسي او مشرانو جرګو د شکایتونو د اوریدو کمیسیونونو او یا بشري حقونو ته شکایت وکړي، خو په عملي توګه د هغوی شکایتونه نه سم اوریدل شوي او نه هم دغه شکایتونه ارزول شویدي.

د اساسي قانون د اووه دیرشو مادو په منځ کې تناقض لیدل کیږي، لومړی دا چې د هر قانون د پلي کولو لپاره ویل شوی چې د اسلامي ارزښتونو سره مطابقت باید ولري، او بیا دا هم په کې راغلي چې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه دې هم له پامه نه غورځول کیږي. د افغانستان یو شمیر حقوق پوهان او عالمان پر دې نظر دي چې د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه کې داسې مادې هم شته چې د اسلامي احکامو سره اړخ نه لګوي،هغوی دې پایلې ته رسیدلي چې بیله شکه دریمه ماده تر اومی هغې برتري لري. خو د افغانستان د بشري حقونو ځیني فعالان، د ښځو د حقونو ملاتړي او د ملي شورا ځیني غړي د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې او اسلامي ارزښتونو تر منځ تناقض نه مني، یو شمیر د نظر خاوندان وایي هغه څه چې نن د بشري حقونو د نړیوالو میثاقونو په نامه پیژندل کیږي دا ټول هغه څه دي چې شریعت یې پلي کول په نظر کې نیولی دي او له همدې امله په هغو کې تناقض نه لیدل کیږي.

په ځینو قوانینو لکه د ښځو پر وړاندې د زور زیاتي قانون، چې د میرمنو بنسټیز حقونه په کې خوندي شوي، په خلکو کې له شته دودونو او له شرعي احکامو سره سم او برابر ښودل شوي او همدغه دلیل دی چې د خلکو اساسي حقونه په سمه توګه خوندی نه شي. د قوانینو د مسودې د جوړولو پر مهال ځیني دولتي اداري لکه ستره محکمه، مدني بنسټونه، اکاډیمیک قشر او مذهبي بنسټونه نه وي چې کله بیا قوانین تصویبیږي بیا همدغه قوانین د وګړو بنسټیز حقونه اغیزمنولای شي.

هغه قشر چې تر ډیره یې بنسټیز حقونه په پام کې نه دی نیول شوي هغه ښځې او ماشومان دي، نجونې په ماشومتوب کې نکاح کیږي او نارینه و په دغې ټولنه کې خپلو حقونو ته د رسیدو په لاره کې د ښځو لاسونه لنډ کړیدي. په دغې ټولنه کې چې تر ډیره واکونه د نارینه و په لاس کې دي تر ډیره له تاوتریخوالی او زور زیاتي څخه هم کار اخیستل کیږي، د نجونو په ښوونځیو کې د هغوی لپاره د څښاک د اوبو زهری کولو او ککړولو نه نیولې بیا د هغوی پر مخونو د تیزابو شیندل او د پټ په نامه د هغوی قتلونه او یا هم د هغوی د غړو اندامونو تر پرې کونې پورې.

په افغانستان کې د قوانینو په نه پلي کولو کې بنسټیزه ستونزه یوازې په متن او ژبه او یا هم د جوړښتونو تر منځ توپیرونه نه دي، اصلي ستونزه زموږ په هیواد کې د قانون سره نا بلدي او د قانونمندۍ له فرهنګه لرې والی یې ستره ستونزه ده. ځانځاني او د ځانځانۍ په اړه پوهاوی او د هغه ټولنیز تړون لا هم زموږ په هیواد کې ویجاړوونکي غبرګونونه له ځانه سره لري. د افغانستان واکمنان او ان د طالبانو د لومړنی پیدایښت پر مهال خلکو ته داساسي حقونو یا هم د حقوقو فلسفه ډیره نا پیژانده وه، هغوی یې په اړه پوهاوی نه لاره، تر څنګ یې ټولنیز بنسټونه چې د دغو ارزښتونو د ملاتړو یا پلي کوونکو په توګه عمل وکړي، هم نه وو نو پایله دا شوه چې په متن او د قوانینو په نص کې ستونزې راولاړې شي، د دولت له خوا د قوانینو نه پلی کیدل د دې لامل شو چې د خلکو د حقونو ضمانت په سمه توګه و نه شي.

# ۱. د ښځېرنې تګلاره

د دغې ښځېرنې پر مهال د کتابتونونو له موادو نه د معلوماتو په راغونډولو او د لومړنیو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د مرکه کوونکو او ګډونوالو له نظریاتو ګټه پورته شوې.

د افغانستان دښځېرنې او ارزونې واحد یو زیار ایستونکی ځوان هم چې زما ملاتړ یې کاوه راسره ملګری کړ او پریکړه دا شوه چې دغه کار په دوو برخو وویشل شي. لومړی دا چې د افغانستان د اوسني اساسي قانون له مخې دې تیوریکې تګلاره جوړه شي او بله دا چې داسې امپریک یا تجربوي ښځېرنه دې تر سره شي او د نظر له خاوندانو دې هم په دې برخه کې د نظر غوښتنه وشي چې په دغو دواړو برخو کې یو لړ ستونزې وې. د تیوریکې تګلارې د نه باور تر کچې د ښځو و سرچینو او د افغاني خبرو اترو په برخه کې چې د افغانانو د بنسټیزو حقونو برخه وه له ستونزو سره مخامخ شوم، یا هم کتابتونونو ته د تګ او د زیاتو سرچینو د میندلو لپاره د امکاناتو کموالي دغه ستونزې لا پسې ډیرې کړې. زما د ښځېرنې اصلي ژبه له دې امله چې د سرچینو زیاتوالی او د پوهنتوني دورې تجربې مې ورسره ملې وې هغه په جرمنۍ ژبه زما تسلط او حاکمیت و، خو په دې برخه کې هغه د ګوتو په شمیر څو کتابونه او اثار چې زما په شخصي کتابتون کې راسره وو، تر ډیره مې لاسونه تړلي و بله ستره تشه چې زما پر وړاندې پرته وه هغه د تجربو په برخه کې وه د دې لپاره چې مرکه کوونکي په تیره بیا دولتي کارکوونکي مې په ازاده توګه هغوی د نظر د بیانولو په اړه هڅولي وي خبرې تر ډیره زما همکار چې د افغانستان ارزونې او ښځېرنې واحد غړی د ښاغلی علی شاه حسن زاده تر سره کړېدې.په دې توګه د نوموړي د زیاتو هڅو او زیار منندوی یم، دا چې ښاغلي حسن زاده زیاته هڅه کړې چې په ځانګړو پوښتنو مرکه کوونکي اړ باسي چې پخپلو پوښتنو له هغوی نه ټاکل شوي ځوابونه تر لاسه کړي، خو بیا هم په ځینو برخو کې ځوابونه داسې وو چې د دغه متن لپاره اړین نه بریښي.

په دې برخه کې بله ستونزه دا وه چې زه د دغه تحقیق د لیکونکي په توګه مجرب کس نه وم او د ورکړل شویو نظریاتو ډلبندي زما لپاره ستونزمنه چاره وه. یا خو له دغو ټولو سره، سره ټوله هڅه مې دا وه، هماغه چې زما نه غوښتنه شوې وه د دغې ارزونې لپاره یو لړ مطلبونه چمتو کړم، د راکړل شوي لنډ تنګ وخت سره، سره چې د اګسټ د میاشتې له نیمایي نه د سپټامبر تر پایه را ته وخت راکړل شوی و چې دغه پلټنه بشپړه کړم. خو د هغو تجربو او اکاډیمیک فرهنګ پر مټ چې زه ورسره بلدیم نو ډیره ګرانه وه چې په دومره لنډ تنګ وخت او د ښځېرنې د سرچینو د کموالي او ځانګړو ښځېرنو ته نه لاسرسی نه شو کیدای چې داسې ښځېرنه دې تر سره شي چې څرنګوالی یې ډیر پورته وي، خو دغه چمتو شوې ښځېرنه زما له نظره کولای شي چې د یوې ژورې ښځېرنې پیل شي چې په راتلونکې کې د حقوقفقو او سیاسي علومو د محصلینو او زده کوونکو او همدا رنګه د دغې برخې د مینه والو لپاره د یوه ماخذ په توګه وکارول شي.

## ۲. د وګړو بنسټيز حقونه

بنسټيز حقونه له ملي واکمنۍ سره يو ځای،دولت، قانون او ولسواکي په ټوله کې د نړۍ د اوسنيو ولسواکو قانوني دولتونو بنسټ جوړوي، د ملي واکمنۍ حق او د وګړو بنسټيز حقونه دواړه له دې امله چې انسان د سياسي واکمنۍ خاوند دی، نو يو له بل سره تړاو لري.[1]

بنسټيز حقونه په يوې سياسي ټولنه کې د خلکو حقوقي ځای ځايګی تعريفوي او ضمانت يې کوي. دغه حقونه د دولت په وړاندې د دفاعي حقوقو او د خلکو د ځانی امنيت او امتيازاتو په توګه دي چې د دولت د خپلسريو پر وړاندې د هغوی له حقونو ننګه کوي. د نړۍ په بيلابيلو هيوادونو کې د حقوقي بحثونو په لړ کې بنسټيزو او ټولنيزو حقونو ته لړه پاملرنه کيږي، په داسې حال کې چې سياسي حقونو ته په يو اړخيز ډول د خلکو اقتصادي او ټولنيزو حقونو ته نه پاملرنه د خلکو لپاره د ازاديو او حق غوښتنې ډيرې محدودوي. اقتصادي او ټولنيز حقونه له حقوقي نظره خلکو ته په ټولنيزو لاسته راوړنو کې د ګډون حق ورکوي او هغوی ته د اقتصادي توليداتو، ټولنيزو او فرهنګی ارزښتونو لپاره ډګرونه پرانيزي او د سياسي ګډون لپاره لاره پرانيزي.

په اساسي قوانينو کې د بنسټيزو حقونو تسجيل او ددولت او فرد تر منځ د اړيکو ټينګښت دی. د دولت رعيت وړاندې تر دې چې د يو هيواد اوسيدونکی اوسي يوازې د وخت واکمنان، يا پاچاهان او يا خليفه ګان وو، هغه منفعل موجود چې واکمنانو د خپلې خوښې پر بنسټ د هغه د زده کړو په بدل کې ترې ماليه اخيسته او هغه يې جنګ جګړو ته استاوه او يا يې هم اړ ايست چې اضافی يا جبری کارونو ته غاړه کيږدي.

په داسې حال کې چې د ټولنيز پرمختګ له امله دغه حقوقي اړيکي بل ډول شول او خلک د سياسي واکمنۍ په مشروعيت وپوهيدل او د هغوی انګيرنوهم يا په تمثيلي او يا هم عملي بڼه پرمختګ وکړ.

د فرانسې په انقلاب کې " بشري حقونه او وګړي" په نامه اعلاميه کې هغه څه چې خپاره شول هغه د انسان کلمه وه. په هغې اعلاميه کې ټول انسانان په پام کې نيول شوي، په داسې حال کې چې په اساسي قوانينو کې د ملی دولتونو رابطه د مشروع ورکوونکو سرچينو يعني خلکو سره بشپړيږي، خلک د حقونو او امتيازاتو وړ ګرځي چې ډير ځله خلک د ملی واکمنۍ او دولت له حوزې محروميږي.

### ۲.۱ اساسي حقونه الزامي دي او اساسي حقونه ارماني

مثبت اساسي حقونه هغه حقونه دي چې د "اساسي قانون په حکمونو" کې تسجيل شوی وي او د دولت له خوا دهغو رعايتول الزامي دي، د بيلګې په ډول له استوګنې يا ارتباطاتو نه د خلکو محروميت، په دې شرط چې دغه حقونه له قانونی مجوزڅخه پرته نقض يا تر پښو لاندې شي، زيان رسيدونکی کس کولای شي د خپلو حقونو د تر پښو لاندې کيدو په تړاو د دولت پر ضد د دعوی اقامه وکړي، خو ځيني حقونه هم شته چې د اساسي قانون د هيلو او ارمانونو په کتار کې راځي او د هغو ارماني خصلتونو له امله چې لری يې د خلکو لپاره داسې مادي زمينې نه شته چې په نه مراعتولو يې دولت محکمې ته راکاږي. د بيلګې په توګه د هيواد د اوسنی اساسي قانون دری څلويښتمه ماده له همدغو مادو ځنی يوه ده. همدا رنګه دغه جمله چې وايي "د دولت ټولې کړنې د قانون تابع دي" تر ډيره د يو پروګرام، يو ارزښت يا يو ارمان په توګه د قانون چلوونکو او جوړوونکو لپاره مطرح شوې او خلک چې نيغ په نيغه د قانون د نقض له امله نه دي زيانمن شوي او داسې خاصه بيلګه هم و نه لري نه شی کولای اداره محکمې ته راکاږي. په داسې حالاتو کې په افغانستان کې د روانو تجربو له مخې خلک حق لري ملي شورا ته چې پر حکومتي ادارو د څار او نظارت دنده لري شکايت وکړي، خو قانون جوړوونکې اداري ته شکايت کول د واکمنو محکمو په پرتله چې د دعوې د اقامې دنده لري تو پير لري. د شکايتونو په حق کې د بيلګې په ډول د ولسي او مشرانو جرګو د شکايتونو د اوريدلو کميسيونونه يا هم د بشري حقونو خپلواک کميسيون ته که څوک شکايت کوي او يا هغه اعتراض وړاندې کوي چې ګواکې د هغه بشري حقونه تر پښو لاندې شوي، خو د دغو ارګانونو اجرات د قضايي څانګو لپاره الزامي بڼه نه شي خپلولی. ځکه دغه اداري د قضايي حکمونو د صادرولو واک نه لري او نه يې پريکړې الزامي دي، خو د دغو ادارو پريکړې په هغو هيوادونو کې چې هلته قانون او حقوق له نورو لومړيتوب لري د نورو ادارو لپاره د اخلاقي فشار په توګه چې له رسنيو او عمومي افکارو سرچينه اخلي کولای شي څه نا څه عملي بڼه خپله کړي.

1 Thomas Meyer, Was ist Demokratie(Wiesbaden, 2009), 40.

## ۲.۲ د خلکو د بنسټيزو حقونو سرچينه او پرمختګ

د خلکو اساسي حقونه د روڼ اندۍ او پرمختګونو له پېر سره تړاونه لري. په بله وينا دغو حقونو د ولسواکو نظامونو او ديموکراتيکو دولتونو په راپورته کېدو سره چې هلته اساسي قوانين تدوين شوي وي اجرايوي الزاميت پيدا کړی دی. په اساسي قوانينو کې د دغو حقونو د تدوين تسجيل په اساسي قانون کې د هغو هڅو او پر له پسې خونړيو مبارزو لاسته راوړنه ده چې په دغو هيوادونو کې د پاچاهانو او کليساو پر ضد تر سره شويدي.

د خلکو يا ولس تعريف د تاريخ په اوږدو کې تل د بدلون او تغير په حال کې دی. لا هم د ولس اصطلاح د يو حقوقي اصل په توګه په بيلابيلو هيوادونو کې د خلکو د ټولو بنسټيزو او ولسي حقونو څرګندونه نه شي کولای. دا بيا په هغو هيوادونو کې چې هلته ګڼ کډوال کاريګر اوسيږي ډير جوت وي.

د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ اعلاميه چې په پرمختللي پير کې په ۱۷۷۶ کال کې خپره شوه پخپل ذات کې لومړنۍ اعلاميه ده چې منځپانګه يې د ولسي خلکو د اساسي حقونو ننګه او ملاتړ دی. په بله وينا په دغه اعلاميه کې د خلکو له حقونو څخه په بنسټيزه توګه يادونه شوې ده.

هغه څه چې د انګلستان په مګنا کارتا (Magna Charta) کې په ۱۲۱۵ کال[۲] کې ليدل کيږي د اشرافو د حقونو توکي چې د مالکيت خاوندان دي د سلطنت پر وړاندې څرګنديږي، نه داسې چې هغه شان چې د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ په اعلاميه کې يې يادونه شوې.[۳] خو هغه څه چې په دغې ليکنه کې په پام کې دي په اساسي قوانينو کې ليکل شوي د خلکو اساسي حقونه دي چې په هغو کې نژادی، مذهبي او جنسيتي توپيرونه په پام کې نه نيول کيږي او انکار هم ترينه نه شی کيدای. دغه شان حقونه د دولتونو په پرمختګونو سره چې د خلکو پر مټ جوړ شوي او ولسواک نظامونه ولري او ورسره، ورسره په اوسني مهال کې پياوړی شوی وي.

## ۲.۳ د خلکو يا ولسونو اساسي حقونو لومړنۍ اعلاميې

هغه اعلاميه چې د لومړي ځل لپاره په کې د ولسي خلکو د اساسي حقونو خبره ياده شوې د شمالي امريکې د ويرجينيا د دولت اعلاميه وه چې په ۱۷۷۶ کال کې خپره شوه او له مهمو برخو يې د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ په اعلاميه کې هم کار واخيستل شو. دغه اعلاميه همدا رنګه د فرانسې د ستر انقلاب لپاره چې په ۱۷۸۹ کال کې تر سره شو د انساني حقونو د پوره کولو لپاره د الهام په ښې سرچينې بدله شوه. د دغې اعلاميې اصلي منځپانګه د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ د اعلاميې چې په ۱۷۹۱ کال کې خپره شوه د هغه هيواد د اساسي قانون ضميمه جوړه شوه.

اروپايانو تر دې څو پيړۍ وړاندې چې د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ په اعلاميه کې دياډو شويو نظرونو ځنې يې د اساسي قانون برخه جوړه شي، د خپلواکۍ د پوره کيدو لپاره يې په دغې اعلاميه کې پراخه مبارزې ترسره کړې وې. د اروپا د روڼ اندو او د دغې قارې د خلکو مبارزې د ديني، تحقيقي او علمي پلټنو د څو پيړيو مخينه لري. هغه تاريخ چې د منځنيو پيړيو د کليسايي واکمنۍ او د اګيزاسيون پر وړاندې د روڼ اندو او پوهانو د مبارزو او سربښندنو ښکارندويي کوي. د خپلواکيو د پرمختګ او د نورو ازاديو د ترلاسه کولو لګه د انساني کرامتونو او د ناقانونه کړنو او استبداد پر ضد مبارزې نورې هم پراخه شوې. په دې توګه د ولسواکۍ پلويانو د ولسواکۍ د پرمختيا لپاره په پرله پسې توګه ثبت شوې دموکراسي پراخه کړه.

پر حقوقي ستنو د باور پيدا کيدو لپاره د انسان د اساسي ازاديو تر لاسه کول د انسانانو حقه حقونه دي، په دې توګه ټول انسانان داسې حقونه لري چې له پيدايښت سره يې تړلي دي او د هغوی په ختم کې دغه حقونه او غوښتنې اغېزل شويدي. له دغه باور نه په الهام اخيستلو سره اساسي حقونه هغه حقونه دي چې انسانانو ته طبيعت بخښلي او انسانان په طبيعت کې اوسيږي؛ دولتونه دغه حقونه انسانانو ته نه بخښي او نه هم انسانان له هغو محروموليی يا بې برخې کولای شي. د دولتونو دنده د دغو حقونو ساتنه او خوندي کونه ده. د توماس ماير، په خبره اساسي حقونه له انسان سره يو ځای زيږيدلي، او مستقيم حقونه نه تجزيه کيدونکي دی او انصراف هم ترينه نه شي کيدای، دغه حقونه له هر ډول ديني يا نورو توجيهو پرته انسانانو سره تړاونه لري.[۴]

۲ http://www.bl.uk/treasures/magnacarta/translation/mc_trans.html (لاسرسی د ۲۰۱۴د سپتمبر ۹مه)

۳ http://www.let.rug.nl/usa/documents/1776-1785/the-final-text-of-the-declaration-of-independence-july-1776.php.

۴ Thomas Meyer,Was ist Demokratie, 40.

"د ټولنيز قرارداد له مخې تفکر...، (په واقعيت کې)،د منځنيو پيړيو له افکارو په شا تګ او د سياسی واکمنۍ د دينی سرچينې مشروعيت چې د بحث وړ نه ده نندارې ته وړاندې کړ چې له مخې يې فرد او د هغه اساسي حقونه بايد د پام وړ وګرځي، په دې دليل چې پر انسان باندې هر ډول ميتا فزيکي قيموميت (پر فلسفې د باورپه نتيجه کې ټولنيز قرارداد ) خپل الزاميت بايلود."[5]

په اساسي قوانينو کې د بنسټيزو حقونو تسجيلول د توماس ماير په وينا له دواړو خواو د ارزښت وړ دي له يوه پلوه اساسي حقونه او د انسان بنسټيزې ازادی د قانون پر مټ تضمينيږي، او له بلې خوا انسان د فعال کس په توګه د ټولنيزو قراردادونو په تکوين کې له اساسي حقونو او ازاديو برخمن کيږي او د دغو حقونو له مخې کولای شي د دولت پر ټولو کړنو څارنه او نظارت وکړي.[6]

په تاريخی اسنادو کې يو ارزښتناک سند چې د خلکو حقونه په کې په مدونه توګه راغلي هغه د ويرجينيا اعلاميه ده چې وروسته بيا د هغې مهمې برخې د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ په اعلاميه کې منعکسې شوې. په دغه اعلاميه کې د نورو حقونو په پرتله پر بنسټيزو حقونو ډير ټينګار شوی. له دې امله هيڅ شورا يا دولت نه شي کولای د دغو حقونو په لغوه کولو هغه حقونه چې له انسان سره هم مهاله رامنځته شوي او لغوه کيدونکي نه دي هغه لغوه کړي.

د فرانسې خلک او د بشري حقونو اعلاميه له دې امله چې د امريکې د متحده ايالاتو د خپلواکۍ له اعلامیې څخه اغيزمن شويدي او د هغو د اغيز د حقوقی ارمانونو او تفکر څو ځلې زيات دی. په ختيځ کېد روڼ اندی او ازادي غوښتونکي غورځنګونه د فرانسې د خلکو او بشري حقونو له اعلاميې نه نيغ په نيغه الهام اخيستی. د ترکيې مشروطه غوښتونکو غورځنګونو، د ايران او افغانستان مشروطه غوښتونکو ټولو د اروپا د روڼ اندی له پيره الهام اخيستی. د دغو هيوادونو اساسي قوانين له ترکيې نه پرته چې د اسلامي حقوقو د ارزښتونو او رومن و ژرمنيک نه ترکيب شوي جوړ شوی قوانين دي. په دغې سيمه کې د مشروطه غوښتونکو د غورځنګ پلټنې ښيي چې د ملي واکمنۍ حق، د انسانانو د اساسي حقونو غوښتنه د مشروطه غوښتونکو او اصلاح طلبانو اصلي غوښتنې حوړوي. دغه څه يوازې زموږ د سيمې هيوادونو پورې تړلي نه دي بلکې په اروپا کې چې د دغو ارزښتونو زانګو يادیږی هم انسانان توانيدلی چې دغه ارزښتونه د ټولنيزو انقلابونو په تر سره کولو سره بشپړ کړي. يورن اپسن (Jörn Ipsen)په دې باور دی چې:

"د اساسي حقونو تسجيل، د نړۍ د اساسي قوانينو د ارزښتونو له مخې په واقعيت کې د حقوقی تدبيرونو بيانول دي چې د دولت د لاسوهنو له امله د فردي ازاديو د خونديتوب لپاره چې د انقلاب په ترسره کولو تر لاسه شوي.... دغه حقونه د حقوقي پړاوونو په وهلو سره د حقوقي تګلارو لوړ پوړونه جوړوي."[7]

د بشري حقونو اعلاميه او د فرانسې خلک ۱۷۸۹په واقعيت کې هغه لومړني حقوقي سندونه دي چې د حقوقي سرچينې او د فرانسې او اروپايي هيوادونو د اساسي قوانينو لپاره (اروپا پرته له بريتانيا ) څخه ارزښتناک رول لاره، د دغې اعلاميې د لومړۍ مادې نه تر دريمې پورې راغلي:

لومړۍ ماده – "انسانان په ازاده توګه نړۍ ته راغلی او په ازاده توګه يې ژوند کړی او د قانون پر وړاندې يو شان او برابر حقوق لري ټولنيز امتيازات او ښيګڼې د عمومي مصلحتونو پر بنسټ ورکول کيږي."

دويمه ماده – "د هرې سياسي ټولنې موخه د طبيعي حقونو خونديتوب دی چې زوال نه لري. دغه حقونه: خپلواکي، مالکيت،امنيت او د ستم او زور زياتي پر وړاندې مقاومت دی."

دريمه ماده – "د هرې واکمنۍ ريښه په اساسي ډول په ملت يا خلکو کې وي. هيڅ ډله يا کس نه شی کولای هغه واک وچلوي چې له خلکو يې سرچينه نه وي اخيستې."[8]

---

۵ Thomas Meyer, Was ist Demokratie, 24

۶ Thomas Meyer,Was ist Demokratie, 42

۷ JörnIpsenIpsen, Staatsrecht, (München, 2014), 17.

۸ د بشري حقونو او خلکو اعلاميه ۱۷۸۹ فرانسه، ۱، ۲، و ۳ ماده کال 1789 http://www.aihrc.org.af/home/document/737 د دسمبر ۲۹ مه (لاسرسی د سپتامبر میاشت ۲۰۱۴ کال).

## ۲.۴ د بشر ټولنیز او بنسټیز حقونه

بشري ټولنیز او سیاسي حقونه هم د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه او هم د نړۍ د ځینو هیوادونو په اساسي قوانینو کې یاد شوي دي. خولیبرال اساسي قوانین او د دغه مکتب یو شمیر متفکر کسان د بشر د اقتصادي او ټولنیزو حقونو په څنګ تیریږي. ټولنیز، سیاسي او بشري حقونه د بشري حقونو به نړیواله اعلامیه کې راغلي او له همدې امله ده چې د بشري حقونو په لیبرالي مبارزو کې د بشري حقونو پر سیاسي اړخ زیات ټینګار کیږي، خو د بشري حقونو پر سر، خبرو اترو کې دغه څه تر ډیره له یاده وځي. د بشري حقونو د اعلامیې په ۲۲ ماده کې راغلي:

"هرسړی د ټولنې د یوه غړی په توګه د ټولنیز خوندیتوب حق لري او دا جواز هم لري چې د ملي او نړیوالو همکاریو، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو او اړتیاو له مخې یې د خپل حیثیت او انساني کرامت د پرمختیا او د خپل شخصیت د ازادی د پرمختیا لپاره د هر هیواد د سرچینو او تشکیلاتو په نظر کې نیولو سره تر لاسه کړي."[۹]

د اروپا د شمالی او مرکزی هیوادونو اساسي قوانین ښیي چې د عدالت غوښتنې لپاره د خلکو مبارزې په دغو برخو کې تر یوه بریده لاسته راوړنې هم لري. له تاریخی پلوه بنسټیز سیاسي حقونه هغسې چې موږ یې نن په اړه فکر کوو د اتلسمې پیړۍ د سترو ټولنیزو پر مختګونو او د هغه مهال د ټولنیزو غورځنګونو سره نژدې ریښې لري په داسې حال کې چې بشری ټولنیز حقونه تر ډیره د نولسمې پیړۍ د ټولنیزو غورځنګونو او طبقاتي هغه یې بیا د صنعتی ټولنې زیږنده دي. بیلابیل انقلابونه او پراخه ټولنیز غورځنګونه په ټولنه کې د برابرو ازادیو، د مالکیت، شتمنۍ، جنسیت او طبقاتي ځای ځایګی پرته د نولسمې پیړۍ په وروستیو او د شلمې پیړۍ په درشل کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودې.

د ټولنیزو بشري حقونو موخه تر ډیره د انسانانو د ښه ژوندانه د شرایطو برابرول دي؛ ښو خوړو ته لاسرسی، د ښه کور درلودل، د ښو کاري زمینو برابریدل، روغتیایي بیمه، د انساني کار زمینه، د رخصتیو او استراحت شته والی، له تقاعده وروسته د ښه او هوسا ژوندانه ضمانت او د دې په شان نور مسایل. حقوقي بحثونه په ځینو پرمختللو هیوادونو کې لکه د امریکې متحده ایالاتو کې، د اقتصادي نظام د پرمختیا او لیبرال سیاست د شته والي له امله د انسانانو ټولنیزو بنسټیزو حقونو ته پاملرنه د سوسیالیستي تګلارې په نظر کتل کیږي او په دې برخو کې د دولت ژمنې نفی کیږي او د فردی ازادیو د حقونو د نفی کولو په معنا کارول کیږي. تر هغه ځایه چې د اوباما روغتیایي بیمه هم تر ډیره له همدې امله د یو لړ مقاومتونو او د دیوان سالارۍ له امله ماتې سره مخامخ شوه.

د ټولنیزو بشري حقونو د پلویانو په ګومان دغو حقونو ته نه پاملرنه په واقعیت کې د ولسواکۍ د جوړښتونو متناقض دوام ته نه پاملرنه ده.په دې معنا چې په دیموکراتیکو مسلو کې ولسواکي د مشارکت یا ګډون په معنا د بشر د بنسټیزو حقونو په خپلولو ټینګار کوي. خو که خلک د عملي او مادي چانسونو د نشتوالي له امله نه شي کولای له برابرو زده کړو او روغتیایي خدمتونو څخه بې برخې وي، څنګه کولای شي په سیاسي ګډون یا مشارکت کې له برابرو حقونو څخه ګټه پورته کړي؟ له دې امله د لیبرالو ولسواکیو پر خلاف په سوسیال ولسواکۍ کې په سیاسي ګډون په یوازې توګه د ولسواکۍ د راوستو لپاره کافي نه بولي. د سوسیال دیموکراتانو په تګلاره کې د سیاسي مشارکت لپاره د سیاسي مشارکت او برخه اخیستنې انډول د دیموکراسۍ د تحقق اصلي شرطونه بولي. د توماس مایر (Thomas Meyer)، په باور د اساسي حقونو ضمانت باید د هغو تضمینونو سره همغږی وي چې ابزار او وسیلې یې هم له دغو حقونو سره یو شان وي، له هغه پرته ډیموکراسي په عملي ډګر کې هغې تګلارې ته پاتې کیږي چې منځ یې تش یا متاک وي.[۱۰]

په مخ په ودې هیوادونو کې د وروسته پاتې والي او په ټولنیزو برخو کې د دولتونو وروسته پاتې والی او ټولنیزو خدمتونو او بشري حقونو ته د دغو دولتونو نه پاملرنه ډیره کمه وي. په تیره بیا په هغو هیوادونو کې چې د بازار اقتصاد او د سوسیال دموکراتانو ټولنیزې تګلارې پلې کوي، هغوی د خپلو خلکو د ټولنیزو حقونو ضمانت د سیاسي حقونو چې د ډموکراسۍ له الزاماتو ځني دي پلي کوي. د انګلستان د ټولنیزو علومو کارپوه توماس مارشال، (Thomas H. Marshall) په اساسي قوانینو کې په ټولنه کې د بشري حقونو د اصل په تړاو یا د (د خلکو د ټولنیز اصل)[۱۱]په اړه همدغه خبره کوي د هغه له نظره د ټولنیزو بشري حقونو تحقق د دې لامل ګرځي چې خلک وتوانیږي د بشري حقونو له شکلې بڼې نه عیني تحقق ته لاره بیامومي. د بیلګې په ډول د بیان له ازادی نه په ګټې اخیستنې سره په هغه صورت کې چې یو کس د زده کړو له امکاناتو او اطلاعاتو ته د لاسرسي له نعمته بې برخې پاتې شي، نو په ستونزمنه لاره به وتوانیږي چې د سیاسي نظریو او ټولنیزو تګلارو په بشپړولو کې ګټور پریوځي.[۱۲]

---

۹ د نړیوالو بشري حقونو اعلامیه ۲۲، ماده ۱۹۴۸. ,"http://www.un.org/en/documents/udhr/index.shtml#a22

۱۰ Thomas Meyer,Was ist Demokratie, 44.

۱۱ Thomas H. Marshall, Bürgerrechte und Sozial Klassen, (Frankfurt, 1992), 44.

۱۲ Thomas H. Marshall, Bürgerrechte und Sozial Klassen, 58.

د ملګرو ملتونو د نړیوالو اساسي حقونو تړون چې په ۱۹۶۶ کال تصویب شوی، د بشر د سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو ټولګه ده. په واقعیت کې بشري حقونه نه په ځانته، ځانته توګه بلکې د سیاسي حقونو بشري، فرهنګې او ټولنیزوحقونو د یوې واحدې ټولګې په توګه په نظر کې نیول کیږي. د دغه تړون ټولنیز اساسي حقونه د انسان د سیاسي اساسي حقونو په توګه کیدای شي په لاندې ډول ډلبندي شي:

- د ښځو او نارینه و تر منځ د حقونو انډول،
- د کارکولو د حق شته والی،
- د ټولنیز امنیت حق،
- د ژوندانه د کچې تضمین د سلنې له لحاظه،
- د روحي او جسمي سلامتیا کافي حق او دغه حق ته رسیدنه، دا رنګه دارو درملو ته لاسرسی،
- ښوونې او روزنې ته لاسرسی او د بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو د لاسته راوړلو لپاره د انساني شخصیت غوړیدل او بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو ته درناوی،
- په فرهنګي ژوندانه کې د برخې اخیستنې حق.[۱۳]

## ۲.۵ بنسټیز حقونه او د ولسواکۍ نظام

د اوسنیو ډیموکراسیو او د بنسټیزو حقونو ټولګه د دولتي نظام له جوړو شویو اصولو سره سم د سیاسي او ټولنیزو ارزښتونو مجموعه ده چې د هغې مرکز د انساني کرامت څخه نه په شا کیدونکی اصل دی. د انسان د بنسټیزو ازادیو مکلفیت او د خلکو د ازادیو رعایت د دولت له خوا د نه تجزیه کیدونکي اصل په توګه رامنځته کیږي. د بنسټیزو حقونو له تر پښو لاندې کیدلو څخه ډډه د بنسټیزو حقونو د نه نقض کیدو، سیاسي او ټولنیزه خپلواکي د مالکیت ازادي، د ټولنو ازادي، د بیان ازادي، سیاسي ونډه او داسې نور ټول هغه څه دي چې د انساني کرامت نه د نه په شا کیدو سرچینه اخلي. له دې امله کله چې دغه ارزښتونه یا د هغو یوه برخه په اساسي قوانینو کې تسجیل شوې وي، د هغو د هر یو نقض کول په واقعیت کې د اساسي قانون د ټولو ارزښتونو د نقضولو او تر پښو لاندې کولو په معنا دي.




۱انځور: د افغان خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي د زیاتوالي په اعتراض کې خبریالانو خپلې خولې په تور ټوکر تړلې دي.

۱۳ د ملګرو ملتونو د نړیوالو بنسټیزو حقونو نړیوال تړون، 1966. http://www2.fzs.de/uploads/unsozialpakt.pdf(لاسرسی د سپټامبر میاشت ۲۰۱۴کال).

په دې کې شک نه شته چې د بنسټيزو حقونو په تدوين کې د لومړنۍ ولسواکۍ سره هم مهاله دي. په همدې ډول له ديموکراتيکو ارزښتونو سره هم ګامه او د دغو حقونو په رعايت کولو سره تيورۍ او عمل پرمختيا وکړه. د انتخابولو او انتخابيدلو حق د دې لامل شو چې خلک د خپل راتلونکي برخليک په اړه پريکړه وکړي. د خلکو د انتخاب يا ټاکلو له لارې خلکو ته دا موقع په لاس ورغله چې راتلونکي واکمنانان پخپله خوښه وټاکي او په دې توګه د خپلو اساسي حقونو تولګه د خپلو استازو پر مټ پلي او اغيزمنه کړي. له همدې امله ده چې د فرانسې د خلکو د بشري حقونو په اعلاميه کې راغلي: "د سياسي يووالي موخه دا ده چې سياسي ټلوالې د حقونو په پام کې نيول هغه حقونه دي چې ورځنې خلاصی نه کيږي." د ډيموکراسۍ د پرمختګ په لومړنيو وختونو کې د بشر اساسي حقونه تل يو شان نه و، د بيلګې په ډول د فرانسې د انقلاب د ژاکوبنونو د واکمنۍ پرمختيا د خلکو د حقه حقونو د نقضولو سبب شو او د همدغې واکمنۍ د ترهګرۍ او ويرې اچونې نظام واکمن شو چې له امله يې د بشري حقونو په اعلاميه کې د دوی د ازاديو لړۍ نښې نښانې پاتې دي.

د اروپا د وګړنيزو انقلابونو د پيل په عملي ډګر کې بشري حقونه له يو لړ ستونزو سره مخامخ شوه. ان تر دې چې د اساسي قوانينو په متنونو کې د خلکو د حقونو او ازاديو يو لړ محدوديتونه ليدل کيږي. په تيره بيا دغه حقونه چې د ولسواکۍ په لومړيو کې د لږو وګړو لپاره منحصره پاتې وې.په فرانسه کې لومړی هغو خلکو چې ماليه ورکوله د رای ورکولو حق يې هم لاره. په ټوليزه توګه د رايو ورکولو حق د ټولنې د نورو نارينه و لپاره د هغو پر له پسې مبارزو په پايله کې چې کاريګرو د نولسمې پيړۍ په دويمه نيمايي کې له ځينو اساسي قوانينو ته لاره وميندله، خو بيا هم د ټولنې دويمه نيمايي چې ميرمنې وې د شلمې پيړۍ تر لومړيو پورې له خپلو حقونو بې برخې پاتې شوې.

د زيانمنې شوې ولسواکۍ معنا د ټولو وګړو حکومت و چې تر ډيره پورې د دې لامل شو چې يو شمير نورو لږه کې هم د پارلماني لږه کيبو سره تړاونه لري، چې د خپلو ځينو حقونو بې برخې شي. دا هغه بل اصل دی چې د ديموکراسۍ او د بنسټيزو حقونو تر منځ په عمل کې بيلتون رامنځته کوي.کله هم پر اکثريتونو د تکيه کولو ولسواکۍ لغوه شويدي؛ لکه په جرمني کې د فاشيستانو پير. د انساني کرامت ساتل، ورته درناوی کول او له هغې ټوکيدلې خپلواکۍ لکه د ډيره کيو او لږکيو حقونه، د دولتونو د ولسواکۍ په داسې ارونو بدل شويدي چې هيڅوک پرې سترګې نه شي پټولای. د جرمني د اساسي قانون لومړۍ ماده داسې ده: "د انسان کرامت له تيري خوندي دی، دا د ياد شوي هيواد د اساسي قانون له هغو مادو څخه ده چې بدلون په کې نه شي راتلای، ان دا چې هيڅ اکثريت دا ماده نه شي بدلولای"؛ جرمنيانو له ولسواکۍ ضد اکثريت څخه د فاشيزم پر مهال چې د شلمې پيړۍ په ديرشمه لسيزه کې د اکثريت په رايو سره د ولسواکۍ له منځه وړلو ته لستونې بډوهل، هغه مادې چې د وګړو بنسټيز حقونه په کې خوندي دي د هغو مادو له ټولګې دي چې بدلون نه منونکي اعلان شويدي.

## ۲.۲ بشري او د خلکو حقه حقونه

تر ډيره د بشري حقونو او د خلکو د نورو حقه حقونو په اړه خبرو اترو کې دغه دوه حقوقي ځيزونه په مترادفه او يو ځايي توګه کارول کيږي. خو د دغو دواړو ډولونو د يو شانې توب سره سره دوی پخپلو کې پراخه توپيرونه هم لري. همدا رنګه چې پورته يادونه وشوه د اوږد مهاله مبارزې له امله دې ته اړتيا وه چې د خلکو تضمين شوی حقونه اساسي قانون ته لاره بيامومي.همدا رنګه د مګنا کاراتا له سند او بشري حقونو اعلاميه او د فرانسې انقلاب د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې چې په ۱۹۴۸ کال کې خپره شوې وه او ترينه څو پيړۍ هم تيرې شوې وې. خو تر اوسه هم ددغې اعلاميې اجرايي کول د ډيرو هيوادونو لپاره الزامي نه دي. ځينی هيوادونه د فرهنګی يا ايډيولوژيکي دليلونو له مخې د بشري حقونو د اعلاميې ځينې برخې يا په ټوله کې هغه اعلاميه نه مني.په عملي ډګر کې هم ډير پلوي هيوادونه د بشري حقونو له اعلاميې څخه د وسايلو په توګه کار اخلي. ځينو هيوادونو له بشري حقونو سره خپلو ژمنو ته په ملي کچه ارتقا ورکړې او ځانونه يې د هغو په رعايتولو مکلف ګڼلي، خو د دې سره، سره لا هم د علمی واقعيتونو او د تيورۍ د داعيې تر منځ په بيلابيلو هيوادونو کې په بيلابيلو کچو توپيرونه ليدل کيږي.

د (هنجارونو يا لارو او طريقو) نورمونه او بشري حقونه دا ټول هغه نورمونه دي چې نړيوالو نورمونوپه نامه ياديږي. يو شمير دغه لارې او طريقې هماغسې چې پورته هم ورته اشاره وشوه د يو شمير ديموکراتيکو هيوادونو اساسي قوانينو ته يې لاره موندلې ده. د "انساني کرامت له هر ډول ګواښ ځينې خوندي دی" مفهوم او دهغو ساتنه د دولت دنده ده؛ په واقعيت کې يو نړيوال حقوقي ارزښت دی چې له انساني کرامته سرچينه اخلي. دغه حق له انسان سره يو ځای نړۍ ته راځي او د انصراف وړ هم نه دی.

له بله پلوه بشري حقونه په قوانينو کې مثبت نورمونه دي او همدا رنګه د انسان حقونه د يو فرد د حقونو په شان دي. د دغو حقونو نورمونه له نورو ټولو حقوقي برخو پراخه دي. د اصالت له پلوه بشر او د هغوی روڼ اندي فکرونه بشري حقونه او فطري حقونه دي چې

له انسانانو سره يو ځای دنيا ته راځي. نو له دې امله انسان مکلف دی چې هم د خپلو او هم د نورو انسانانو د حقونو درناوی وکړي. په لومړي ګام کې بشري حقونه هغه حقونه دي چې د ديني، نژادي، جنسي او بل هر تړاوه پرته د دولت له يرغلونو لرې دفاعي حالت ځانته غوره کوي. انسان بيله دې چې خپل ملي تابعيت ته پام وساتي هغه د ازاديو او حقونو لرونکی کس دی چې بايد دهغه دغو تولوحقونو ته پاملرنه وشي. د بشري حقونو د انسانانو د حقه حقونو سره توپير په دې کې دی چې بشري حقونه د دولتونو له خوا په اساسي قوانينو کې که تسجيل کيږي يا هم نه کيږي که دولتونه خلکو ته دغه حقونه ورکوي او که يې نه ورکوي، دغه قوانين له دې امله چې انسان حضور لري دغه حقونه يې د ژوندانه سره نه شليدونکي تړاونه لري، چې دولتونه دنده لري چې هغه ټول رعايت کړي. خو د خلکو د بنسټيزو حقونو خلاف بشري حقونه د نظامونو له خوا د ټولنيزو او سياسي قراردادونو له مخې په يوه ملي ټولګه کې نه شي راتلای. دغه حقونه د انسانانو په خټه کې دي او د هغه له ژونده بيل نه شي پاتې کيدای.

په داسې حال کې چې د خلکو بنسټيز حقونه د هغه تړون له مخې دي چې د خلکو او دولتونو ترمنځ پرې هوکړه کيږي او د هغه ځای ځايګی د خلکو او دولت تر منځ د واک د اصلي خاوندانو په توګه تضمينيږي. له دې امله په اساسي قوانينو کې د بشري ازاديو تضمين داسې شی نه دی چې دولتونو تش په ليکلې بڼه هغه جوړ کړی يا يې تعريف کړي وي، بلکې هغه څه چې په انتزاعي ډول شته په اساسي قانون کې هم هماغه شان خپاره شويدي. په بله وينا حقوقی نړيوال نورمونه په ملی کچه خپاره شوي نو له دې امله له هغو ګټه اخيستنه هم د ملي قوانينو تابع وي، په داسې حال کې چې د هغو د انفاذ ساحه په نړيواله کچه ده، انسان د انسان په توګه په هره ملي جغرافيه کې د برابرو بشري حقونو خاوند دی. د بيلګې په ډول د ټولنو د جوړولو ازادي د بشري نړيوالو حقونو په څير يو حق دی؛ خو کله چې دغه حق د خلکو د اساسي حقونو په بڼه په اساسي قوانينو کې تدوينيږي په عمل کې د هغوی په تطبيق کې دوه ګوني چلند رامنځته کيږي. د يوه هيواد خلک په دې دليل چې دغه حقونه د هغوی د وګړنيزو حقونو نه بيليدونکي حقونه دي، نو د دې امکان هم هغوی سره شته چې په پراخه توګه له دغو قانوني ضمانتونو نه ګټه پورته کړي.

له همدې امله هغه مادې چې د بشري يا وګړنيزو حقونو څرګندونه کوي په بيلابيلو قيدونو سره بيانيږي. د بيلګې په توګه د افغانستان د اساسي قانون هغه مادې چې د "هر انسان" او يا د "انسان" قيد ورسره راغلی وي، معنا يې دا ده چې په هغه کې ټولې ازاديګانې او حقونه له ټولو انسانانو سره پرته د هغوی له تابعيته تړاونه لري. مثلا د افغانستان د اساسي قانون څليريشتمه ماده وايي: "ژوتد د الهی ذات لورينه او د انسانانو طبيعی حق دی."[۱۴] دغه ماده پر ټولو انسانانو اطلاقيږي که هغه د افغانستان وی او که نه وي. خو داسې بيلګې هم شته چې د افغانستان د تابعيت د حقوقی او علمی ازاديو ساحه محدوديږي. د بيلګې په ډول د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون دري ديرشمه ماده وايي: "افغانان د انتخاب او د ځان د انتخابولو حق لري."[۱۵] دا په دې معنا ده هغه کس چې د افغانستان اوسيدونکی نه دی په دغه هيواد کې د انتخابولو او انتخابيدلو په بهير کې حق نه لري، د دغې مادې پر متن د انتخابيدلو حق چې په واقعيت کې بشري حق دی، د هغه په اجرايوی جغرافيه کې د خلکو له حقه حقونو سره د نه تطبيقيدو له شرايطو سره يې اړخ لګولی دی.دغه واقعيت د نړۍ د ټولو هيوادونو په اساسي قوانينو کې له همدغه شان توپيرونو سره مل دی. توپير په دې کې دی چې په ځينو اروپايي هيوادونو کې هغه بهرنيان چې په يو هيواد کې ژوند کوي کولای شي چې په سيمه ييزو ټاکنو کې برخه واخلي او يا د مثال په توګه د اروپايي ټولنې د هيوادونو استوګن چې په بل هيواد کې اوسيږي او د هغه هيواد تابعيت هم و نه لري کولای شي د اروپايي ټولنې په ټاکنو او يا (د ښاروالیو په ټاکنو کې) برخه واخلي.

د نړيوالو بشري حقونو د غورځنګونو يوه موخه په ټوله کې د دغو دوه ګونو مسلو له منځه وړل او د نړيوالو بشري حقونو او د دولتونو له کورنيو قوانينو سره د هغو تطبيقيدل دي. د دغو بشري حقونو د نورمونو د تحقق لپاره مبارزه يعنې د نړيوالتوب پر ضد يا د دغو قوانينو ايساريدل به سيمه ييزه کچه د بشری حقونو د غورځنګونو د مبارزو ارمانونه دي.

د بشری حقونو پر سر د خبرو اترو بل اړخ چې د تيرې پيړۍ په نوييمه لسيزه کې رابرسيره شو، د بشري حقونو ملاتړ د ملي واکمنۍ له حق سره په منازعه کې او د بشري حقونو نه دفاع او ننګه ده. د هغو بشري جناياتو چې په بالکان کې د بشر پر ضد وشوه، د بشری حقونو پر سر خبرې اترې هم نوي پړاو ته ورننه شوې چې په ټوله کې يې نړيوال حقوقي نظام تر پوښتنې لاندې راوست. د "ويستفاليا د سولې" د تړون له مخې (۱۶۴۸م Westfälischer Frieden) د دولتونو په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې اصل چې د نړيوالو پرمختللو حقوقو اصل جوړوي. خو د بالکان له پيښنو سره دا پوښتنه هم راپورته کيږي که چيرته يو دولت د خپلو وګړو پر ضد په جنګي او بشري جنايتونو تورنيږي، نو ايا د نه لاسوهنې اصل د هيوادونو د ملی واکمنۍ په نظر کې نيولو سره کيدای شي د يو نړيوال حقوقي اصل په توګه رعايت شي؟ دغه پوښتنه د دغو خبرو اترو په اړه داسې ده چې په داسې حالاتو کې د حقوقو کومه ډله له نورو برتره ده؟ يو شمير

[۱۴] د افغانستان اساسي قانون، ۲۴، ۱۳۸۲ ماده.

[۱۵] د افغانستان اساسي قانون، ۳۳، ۱۳۸۲ ماده.

پوهان وايي په دويمه نړيواله جګړه کې د نازيانو جنايتونه او د نورنبرګ (Nurnberg-Prozesse)، د محکمې تجربې او په رواندا کې (Rwanda, ۱۹۹۴)، نژادي توپيرونه په تيره بيا په پخوانۍ يوګوسلاويا کې د قامي او نژادي چاښولو مسلې بشري حقونه په نورو هيوادونو کې د نه لاسوهنې په رعايتولو کې تر نورو هغو برتري لري،او په دې باور دي چې په دغسې حالاتو کې د خلکو د بشري حقونو څخه دفاع او له جنګي جنايتونو څخه مخنيوی د ملی واکمنۍ (د نورو هيوادونو په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې) اصل ته برتري لري. دغسې لاسوهنو ته په حقوقی مباحثو کې (بشر پالې لاسوهنې) وايي. خو د دغه ليد لوري نيوکه کوونکي او د ملګرو ملتونو ځينې غړي هيوادونه د دغسې تيورۍ سره همغږي نه دي. ځکه چې د هغوی له نظره د دغه امر منل د دې لامل ګرځي چې د نړۍ ځواکمن هيوادونه د بشری حقونو د لرونکی نظام د خاوندانو په توګه د نورو هيوادونو په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي.

## ۳. په افغانستان کې د خلکو د بنسټيزو حقونو د قانوني کېدو تګلاره

هماغسې چې پورته ورته اشاره وشوه د خلکو حقه حقونه چې په دغه بحث کې زموږ د پام وړ موضوع ده دغه څه د هغو غورځنګونو لاسته راوړنې دي چې په اتلسمه پیړۍ کې د امریکې په شمالي او د اروپا په لویدیځو څنډو کې ترسره شویدي. د رعیت او تابع انسانانو یون تر نه تابع کیدو پورې فردي اختیار دی او د هغه پرمختګ د یوه وګړي په توګه چې د سیاسي واک خاوند هم دی له فکري نظره د روڼ اندۍ د پیر او د پاچاهانو او د کلیساو د واکمنۍ د کمزورتیا زیږنده دی. د دریمې نړۍ په هیوادونو کې دغه نظرونه د اروپايي روڼ اندۍ له ارزښتونو سره يو ځای په دوه ډوله لاره ومیندله. يو يې د ښکيلاک يا استعمار او بل يې د دريمې نړۍ د استعمار ضد د روڼ اندو لید لوری. په بله وینا د دریمې نړۍ د استعمار ضد روڼ اندي د ځينو نظرونو په خپلولو سره له هغې ډلې ځان غوښتنه او له استبداد څخه د انسانانو ژغورل، د ولسواکۍ منل او د خلکو پر اراده د رامنځته شوی واک د سیاسي او مدني ټولنو د جوړولو په لټه کې شول چې پخوا په لویدیځ کې تجربه شوې وې. په ټوله کې د شلمې پیړۍ اصلاح غوښتونکي له استعماره د وتو په حال کې د اروپايي اندونو د غوراوي سره يې د هغو په نفې کولو کې ګام پورته کړ. دا چې له دغې تګلارې به څه راوځي او د هغه دوه ګوني ټولنيز جوړښتونه (Dichotomy) او له هغه نه به راولاړ شوي فکرونه د څه لاسته راوړنو او يا له استعماره په راوروسته ټولنو کې د څه ډول ستونزو او کړاونو سره مخامخ شوي، هغه موضوع ده چې له دغه بحثه وتلې ده، نو ځکه پر هغې نه غږیږو.

په اسلامي هیوادونو کې د ملت پر ځای د امت د ټکي کارونه په هغو ملي دولتونو کې چې ثابتې پولې لري هلته د دولتونو ټول پرمختللی بنسټونه د دغو دوو جریانونو محصول دي. په هندوستان کې د بریتانيې استعمار يا ښکيلاک د هغه هیواد دودیز جوړښتونه تر ډیره مات کړل او د اروپايي نظام قوانینو او د پرمختللو اروپايي هیوادونو قوانین هغسې چې استعماري واکمنانو لازمه ګڼله په هغه هیواد کې يې ځانته ځای جوړ کړ. په ترکیه کې د کمالیست انقلابیانو د عثماني ناروغې امپراتورۍ چې ځانته يې د اسلامي خلافت او اسلامي امت مرکز وایه، ټغر ټول کړ او د ترکانو د ملت نظریه يې د هغه ځای ناستې په توګه ونوماوه، د اسلامي هیوادونو د اصلاح غوښتونکو تګلارې په تیره د عثماني ترکيې پهلوي پارس، او افغانستان کې د نړۍ په دغه سیمه کې په شلمه پیړۍ کې نوی سیاسي او ټولنیز خوځښت ننداري ته وړاندې شو.

په افغانستان کې د مشروطه غوښتنې نظريې تر ډيره د ترکيې د مشروطه غوښتونکو له غورځنګه اغیزمنې وې. د شلمې پیړۍ له پیله د جمهوریت تر تاسیسه (۱۹۲۳)، د دیارلسو کالو په لړ کې یوویشت حکومتونه بدل رابدل شوه. چې دا د عثماني امپراتورۍ د زوال په معنا هم و. د ترکیې د ازادي غوښتونکې غورځنګ په ۱۹۱۹ کال پیل او په ۱۹۲۳ کال د ترکيې د حکومت په جوړیدو تمام شو. د عثماني امپراتورۍ په ړنګیدو او د کمالي انقلاب د شپږ ګونو اصولو او په افغانستان کې د اصلاح غوښتونکو تګلارې له ترکيې سره هم مهاله د خپلواکۍ غوښتنې لپاره د يوه وسله وال غورځنګ په پایله کې چې نوی بري ته رسیدلی و، د دې لامل شو چې د خپلواکۍ غوښتنه د اصلاح غوښتنې سره يو ځای شي. دغه څه د هندوستان په نیمه وچه کې هم پرمختیا وموندله. بیله شکه د کمال اتا ترک شپږ ګون اصولو د ترکيې هیواد د سمون راوستنې لاره تعقیبوله (د کمالیستي انقلاب نچوړ په اقتصادی او انقلابي ډګر کې د جمهوری غوښتونکو، ملت پالنې، لاییسیسم، خلک پالنې، دولت پالنې). افغان اصلاح غوښتونکو، د مشروطه غوښتنې د افکارو تر اغیز لاندې او بیا وروسته د جمهوري غوښتنې او اصلاح غوښتونکو غورځنګونو چې د ترکيې د نوي جمهوری نظام څخه افغانستان ته رسیدلي وو، تراغیزلاندې هره ورځ خپلې غوښتنې په ډیرې میرانه بیانولې، بیله شکه محمود طرزي هغه یوازینی کس و چې په افغانستان کې د اصلاحاتو د نظریو لپاره لاس په کار شو. وروسته چې هغه د خلکو او پرګنو د ټولنې د محافظه کاره کړۍ او د اصلاحاتو او خپلواکۍ په وړاندې د ورانکاره استعماری کړیو له غبرګون سره مخامخ شو نو په ډیر احتیاط سره يې د اصلاحاتو په برخه کې ګام پورته کاوه.

شاه امان الله او د هغه ځینو ملګرو له خپلواکۍ وروسته د اصلاحاتو د نوي کولو لپاره له طرزي وروسته دغه اصلاحات پلي کړل. عبدالرحمان لودين او محمد ولی خان دروازی د رادیکالو اصلاحاتو پیاوړی استازي وو.

خو يو بل واقعیت دا دی چې په افغانستان کې ټولنیز طبقات د اروپايي هیوادونو په څیر چې هلته خلک د خپلو وګړنیزو حقونو مدافعان دي هغه شان يې تبارز نه و کړی. د اصلاحاتو لیږدونکي پاچا او يو څو تنه روڼ اندي چې هغه ته ډیر نژدې وو او دا په داسې حال کې وه چې اکثریت خلک له هغو پرمختګونو او اصلاحاتو سره چې د پاچا رعیت وو او پاچا ټولواک و ورسره مخالفت يې کاوه. شاه امان الله د جرمني له يو خبریال سره په مرکه کې دمولتان، دبیړۍ سره چې پاچا د ایټالیا په پردیسۍ کې په ۱۳۲۹ کال کې د حبیب الله کلکاني له بغاوته وروسته يې هلته ژوند کاوه، واقعیتونه يې راسپړلي و خلک يې د اصلاحاتو سره په مخالفت کې دریدلي وو، د هغه میرمنې ملکې ثریا هم د دغې مرکې پر مهال حضور لاره، کله نا کله يې د هغو ستونزو په اړه هم رڼا اچوله چې په افغانستان کې يې ګاللې وې هغې په افغانستان کې د هغو ستونزو په اړه هم مرکه کوونکی ته معلومات ورکول چې پر دې تیرې شوې وې. ملکه ثریا وايي:

"که د خپل خاوند پر دردونو نور دردونه زيات نه کړم زه د دولت د دغې ړنګيدو (د اماني دولت د ړنګيدو) هرکلی کوم. دغې ړنګيدنې ما ته خپلواکي راوبخښله. هيڅوک تصور نه شي کولای چې په افغانستان کې پر ما څه تير شوي. زما پلار د سرحدی سيمو د يوې برخې د خلکو مشری کوله. مور مې سوريايي وه او زه په دمشق کې ستره شوې يم.کله چې زه د دمشق په شان د روڼ اندې کورنۍ نه کابل ته راغلم، ما نه شو کولای چې د افغانستان له شرايطو سره ځان برابر کړم. افغانستان له تاوتريخوالي ډک هيواد دی دغلته د دوستۍ پر ځای په خلکو کې کرکه او تاوتريخوالی ډير دی. يوازې زما د ميړه مينې او زما د پيغلتوب د زمانې خاطرو له ما سره مرسته کړې چې د خپل برخليک له خوا کيدونکې ګوزارونه وزغمم."

په دغې مرکه کې شاه امان الله خان وايي:

"زه يو خيال پردازه او له ځير تيا پرته کس نه يم. ما کولای شو له هغو (ملايانو) سره جوړ جاړی وکړم، خو هغوی هيڅ ډول نوښت ته تيار نه وو او نه يې نوښت مانه، ان تر دې چې د ډيرو ساده وسايلو په برخه کې هم د نوښت منلو ته تيار نه وو مثلا تيليفون يې نه مانه او ويل يې چې دا د شيطانانو کشف دی. ما ويل چې تيليفون خو په مکه او مدينه کې هم شته او خلک ترينه کار اخلي، دوی دا دليل راوړ چې هلته اسلام تحريف شويدی. ما نه شو کولای چې روغتونونه جوړ کړم ځکه ملايان په دې باور وو چې ناروغۍ يوازې د تعويذونو په ورکولو سره او يا د ښځنتونو په کولو سره، (ښځنت يو ډول تعويذ دی چې ملايان د کاغذ پر مخ د قرآن يو شمير ايتونه ليکي او له ناروغانو غواړي چې هغه په اوبو کې د ننه کړي او له هغو اوبو نه بيا په درملنه کې ګټه پورته کړي او هغه وڅښي.) او يا هم تعويذ د ناروغ ترباڼښت لاندې ړدي. هغوی د منظمو ماليو له ورکولو ډډه کوله ځکه هغوی ويل چې د ماليو ورکړه له الهي د احکامو مخالفت دی او دا يې هم ويل چې پاک خدای داسې امر نه دی کړی. د نفوسو د تذکرو د ورکړې په برخه کې له هغو مقرراتو سره هم په کلکه مبارزه کوله، ځکه په دې برخه کې يې نارينه اړ وو چې خپل عکسونه واخلي هماغسې چې په ټوله نړۍ کې دغه څه دود دي. ملايانو ويل هغه کسان چې غواړي عکسونه واخلي ښايي د يوې، ورځې يوې مياشتې او يا هم د يو کال په ترڅ کې ومري. ګڼ خلک د پوليسو ماموريتونو ته راتلل او ويل يې چې دوی چمتو دي تر پنځوسو دورو وخوري، خو د عکس اخيستو ته زړه نه ښه کوي.نو د دغسې شرايطو په وړاندې مبارزه شوې وای. موږ بايد تر هر څه د مخه بايد د يو ځواکمن او د اعتماد وړ پوځ خاوندان وای دې کار بودجې ته اړتيا لرله، د افغانستان په شان بېوزلی هيواد کې مو دغه بودجه له کومه کړې وای؟..."[۱۲]

## ۳.۱ د افغانستان پر وړاندی د دولت بنسټيزه نظامنامه ۱۹۲۴

شاه امان الله، د يولړ اصلاحاتو او سمونو مشري په غاړه واخيسته چې د افغانستان په تاريخ کې بيساري وو. د حقوقي پلټنو له نظره هغه څه چې امان الله خان تر سره کړل د لومړني اساسي قانون تدوين و چې په دغه هيواد کې تر سره شو.د امان الله خان او د هغه د ملګرو هڅې د افغانستان د وګړنيزو مبارزو او د خلکو له ملاتړه پرته د سياسي او ټولنيزو اصلاحاتو نه لرې د پرمختللي حکومت جوړيدنه يوه عجيبه او د حيرانتيا وړ خبره ده. اصلاح غوښتونکی پاچا، په دې لټه کې دی چې خپل واکونه ملت ته پريږدي او ملت په ټولو پريکړو کې له ځانه سره شريک کړي دا رنګه هغه غوښتل چې خپل او د خپل حکومت عملونه محدود او د قانون سره برابر کړي او خلکو ته يو لړ ازاديګانې او حقوق ورکړي، خو ملت يې بغاوت کوي او سمونې او اصلاحات لغوه کوي.

د افغانستان د اساسي قانون په يوه برخه کې چې په ۱۹۲۴ کال کې د پغمان په لويه جرګه کې تصويب شو، د لومړي ځل لپاره په کې د خلکو يو لړ حقونه خوندی شوه. د دغه قانون حقوقي برخه د فرانسې د ۱۷۸۹ کال د قوانينو سره يې توپير په دې کې دی چې په فرانسه کې د بشري حقونو ملي شورا خلک د اشرافيت او روحانيت يې د نظام پر ضد راپاخول.فرانسوي انقلابيونو د انقلابي قهر او غضب نه په ګټې اخيستنې د پاچا، ملکې او د پاچاهي نظام د ځينو مشرانو د محاکمه کولو لپاره يې واک د ملي شورا په لاس کې ورکړ.په داسې حال کې چې په افغانستان کې پاچا او د هغه ځينو هم نظرو دغه حقونه د لويې جرګې له خوا په خلکو منل. د پاچا دغه لومړنۍ هڅه په واقعيت کې هغه ازمون و چې د خلکو د عامه افکارو او د ديموکراتيکو ازاديو لپاره يې پيل کړه، دا هغه څه و چې د نړۍ په تاريخي متن کې بيساري و. د افغانستان د خلکو بغاوت د استعمار په ملاتړ او هڅونې اصلاحات، سمونې او د خلکو ازاديګانې په شا کړي او د هغوی مخه يې ونيوله.

۱۲. Ber. a. Ramleh, Akt Afghanistan,Bonn, 1929.

په اماني پېر کې اساسي قانون، "د افغانستان د علیه دولت اساسِ نظامنامه" ده. دغه قانون ۷۳ مادې لرلې چې د لومړي ځل په ۱۹۲۲ کال د مشرقي په لویه جرگه کې چې په هغې کې ۸۷۲ مشرانو، روحانیونو او مخورو برخه اخیستې وه مطرح او بیا وروسته په ۱۹۲۴ کال د پغمان په لویه جرگه کې چې په هغې کې ۱،۰۵۲ کسو استازو چې پورته یې یادونه وشوه گډون درلودله[17] ډېرو اوږدو بحثونو او خبرو اترو وروسته تصویب شو. هغسې چې د پغمان د غونډو له لیکنو برېښي ډېر ځله پاچا اړ وځي چې کله نا کله د دلیلونو په ویلو او کله هم د حاضرو کسانو د تاوتریخوالي له امله غونډه دې ته اړ باسي چې دا ومني افغانستان قانون او قانونمندۍ ته اړ دی.

که څه هم چې دغه قانون په تاریخ او پرمختگ کې د افغانستان "دخلکو" د دندو او وجایبو په اړه یو ستر انقلاب گڼل کیږي، خو له حقوقی مسایلو سره د خلکو نابلدي او تر ډېره د سیاسي ستونزو او د ټولنې د محافظه کارانو او ولسي خلکو مقاومت په تیره د ملایانو مخالفتونو د قانون په متن کې یو لړ ابهاماتو ته لاره ومونده او هغه مادې چې په ځینو برخو کې باید راغلې وای هغسې نه دي راغلي او په قانون کې داسې څه هم راغلي چې په ښکاره ډول د دې ثرگندونه کوي چې پاچا په متن کې د خلکو له غبرگون نه د اندېښنې په دلیل داسې کلمات راوستي چې د هغه د شخصي نظرونو سره اړخ نه لگوي او ان په ټکر کې هم دي.

د دغه قانون په دویمه ماده کې راغلي: "د افغانستان دین د اسلام سپیڅلی دین دی او رسمي مذهب په کې حنفي مذهب دی، نور ادیان لکه اهل هنود، یهودي مذهبي چې په افغانستان کې د جزیو پر ورکړه او د ځانگړو نښو نښانو په لرلو سره تابع وو خو په دې شرط چې ټولنیزه هوساینه او نور اخلاقی نورمونه زیانمن نه کړي."[18] د دغو محدودیتونو درجول د نورو مذهبونو د پیروانو له پاره د هغو ویرو ثرگندونه کوي چې پاچا د محافظه کارو کړیو او په ټولنه کې د شته ملایانو نه په اندېښنه کې دی که نه څنگه داسې انگیرل کیږي چې یو تن افغان هندو دیوان نرجنداس د امان الله خان د مالیې د وزیر په توگه نومول کیږي او د راولپنډۍ په غونډه کې چې په (۱۹۲۰) کال جوړه شوې وه د افغانستان استازیتوب کوي او له بله پلوه د جزیې د ورکولو لپاره اړ وځي په داسې حال کې چې همدغه کس د دویم ځل لپاره د دیوان نند لال بهسین، سره چې یو بل افغان هندو و د افغانستان د خپلواکۍ د معاهدې د لاسلیک لپاره په ۱۹۲۱ کال چې په کابل کې و برخه لرله. له دې نه معلومیږي چې پاچا د دغه متن د تدوین لپاره د هیلو او اندېښنو سره چې له ملایانو او د افغانستان له دودیزې ټولنې یې لرلې، اړ وت چې خپل ارمانونه او خپلې هیلې پټې وساتي.

د دغه قانون له اتمې نه بیا تر پنځه دیرشمې مادې پورې د خلکو په حقونو او ازادیو پورې ځانگړې شویدي. نهمه ماده د دیني مراسمو پر مهال "ازادیو او د خلکو شخصي خپلواکیو" ته ځانگړې شویده[19] په لسمه ماده کې په صراحت سره پر دې موضوع ټینگار شوی چې: "فردي خپلواکي له هر ډول تعرض او گواښ نه خوندي ده. هیڅوک له شرعي امر او مقننه نظام له خوا نه محکمه کیږي او نه هم سزا وراورول کیږي. په افغانستان کې د یرغمل نیونې پر ټولو اصولو بندیز دی. هیڅ ښځه او هیڅ نارینه د چا یرغمل او برمته کیدای نه شي."[20] د مریبتوب او دوینځې توب د اصولو لغوه کیدل او د خلکو له فردي ازادیو څخه ملاتړ د هغه اغیز پایلې وې چې په امانیه دوره کې د اروپایي روڼ اندو له نظریو څخه راخیستل شوې وې. د دغه قانون یوولسمه ماده وایي چې د رسنیو او افکارو ضمانت دې وشي، نورې مادې بیا د ازادی اصل، د کار کولو په برخه کې ازادي، د زده کړو حق، په دولتي ادارو کې د کار میندنې حق هغه هم د وړتیاو له مخې (هغه حق چې پخوا د شاهي کورنۍ، نورو مخورو ساداتو او عالمانو لپاره ځانگړی شوی و.)، دا رنگه د ملکیت حق، د کورونو امنیت او پر جبري کارونو او ورسره په ربړولو او د خلکو په ځورولو بندیزونه تدوین شوی دي.

دغه قانون پخپل ذات کې هم د قانوني پلوه (juridification) او هم د هغو ارمانونو او دندې له مخې چې د وگړو په وړاندې شته، ستر او بیساري انقلاب و، چې زموږ په سیاسي تاریخ کې د هغه مهال د اصلاح غوښتونکو او ان د نن سبا په پېر کې هم په همدې سترگه ورته کتل کیږي. لا هم په افغانستان کې خلک د دغه تحقیق په اړه وایي چې شاه امان الله یې بنسټ ایښودونکی و. پاچا د ملکې ثریا سره په هغه تیاترې ننداره کې ولیدل شو او خپل رول یې د خپلواکۍ په غورځنگ کې د ملکې ثریا سره یو ځای ولوباوه. هغه ستر انقلاب او غوغا چې پاچا جوړه کړه په حقیقیت کې د ډېرو مسلو پیل و. د ټولنې د محافظه کارانو دښمني د هغه څه سره چې پاچا د شلمې پیړۍ په شلمه لسیزه کې پیل شوې وه لا هم روانه وه. د دغې دښمنۍ دوام د میرمنو د خلاصون سره چې لا هم زموږ په نارینه واکي نظام کې چې هر څه د نارینه و په خوښه تر سره کیږي نظام یې غصه کولو او لارو کوڅو ته یې راکاږه و.

---

۱۷ "د افغانستان د قوانینو ټولگه" (کابل، د افغانستان د اسلامی جمهوریت د عدلیی وزارت له خپرونو، ۱۳۸۲).
۱۸ د افغانستان پر وړاندی د دولت بنسټیزه نظامنامه، ۲ ماده، ۱۹۲۴.
۱۹ د افغانستان پر وړاندی د دولت بنسټیزه نظامنامه، ۹ ماده، ۱۹۲۴.
۲۰ د افغانستان پر وړاندی د دولت بنسټیزه نظامنامه ۱۰ ماده، ۱۹۲۴.

## ۳.۲ د افغانستان د عليه دولت اساسي اصول او حقونه ۱۳۱۰

د محافظه کارو او د اصلاحاتو د مخالفينو غبرګونونه د بريتانوي ښکيلاک په ملاتړ د دې سبب شو چې اماني حکومت راوپرځوي.[۲۱] د نادر خان پر مهال د افغانستان دويم اساسي قانون "د افغانستان په وړاندې د اساسي اصولو" په ۱۹۳۱ کال کې په هغه لويه جرګه کې چې په هغې کې د قامونو مشرانو، مخورو او د عالمانو استازو برخه لرله، په يو سل او لسو مادو کې تصويب شو. په دغه قانون کې هغه څه چې د خلکو له حقونو سره مرسته وکړه، له يوې خوا ډير بنسټيز و، چې په اماني دوره کې يې بنسټ ايښودل شوی و او له بله پلوه دا هغه غبرګون و چې خلکو د حبيب الله کلکاني په وړاندې څرګند کړ. سره له دې هم دغه قانون په لويه جرګه کې له هغو خبرداريو سره مل و، چې ګواکې د امان الله خان د دور تيروتنې تکرار نه شي.

د افغانستان په تاريخ کې هغه دوره چې د اساسي قانون د تيورۍ او اجرايي واقعيت تر منځ درز زيات ژور شو همدغه د نادرشاه د واکمنۍ دوره او هغه دوره وه چې اساسي قانون په کې په ۱۳۴۳ کال تدوين شو. په دغې ليکنه کې د ټولنيزو او سياسي علومو شننه نه ده بلکې اصلي خبره دا ده چې د متن پلټنه او د پيغام متن بايد وڅيړل شي.

د ۱۹۳۱ کال په اساسي قانون کې د قانون په ادبياتو کې د تيرو قوانينو په پرتله ډير پرمختګ ليدل کيږي، ان د ديني ازاديو په برخه کې هم دغه پرمختګونه جوت دي، د بيلګې په ډول د دغه قانون په لومړۍ ماده کې راغلي دي:

"د افغانستان دين د اسلام مقدس دين دی او دغلته رسمي او عمومي مذهب حنفي مذهب دی. او د دغه هيواد پاچا بايد د همدغه مذهب پيرو او لاروی وي، نور دينونه او مذهبونه لکه اهل هنود او په افغانستان کې يهوديان که په دې شرط چې د خلکو هوساينه او عمومي اداب زيانمن نه کړي هم د تامين لاندې نيول کيږي."[۲۲] دلته ليدل کيږي چې د نورو اديانو پيروان له دې امله چې د نورو دينونو سره تړاونه لري بل دين ته د (جزيې) په ورکولو معاف ګڼل شويدي. چې دا کار د قانون جوړونې د تيورۍ له مخې مخ په وړاندې ګام بلل کيږي.

د نادرشاه د پير په قانون کې د "افغانستان د خلکو د عمومي حقونو" تر سر ليک لاندې پنځلس مادې د خلکو بنسټيزو حقونو ته ځانګړې شوې دي. په دغو مادو کې د افغانستان د خلکو ديني او مذهبي ازادی، فردي يا ځاني ازادي، د قانون خلاف د بندي کولو د مري توب له منځه وړل، جبري کارونه، د کار کولو لپاره ازادی، د اسلامي شريعت په وړاندې د خلکو برابري او داسې نورې ورته موضوعګانې په قانون کې راغلي دي. دا رنګه د مېنو او کورنيو خونديتوب، د خلکو د مالونو ضبطول، په ربړولو بنديز لګول، د لومړنيو زده کړو حق، د مطبوعاتو ازادي په دې شرط چې د مذهبي اصولو خلاف نه وي په قانون کې تسجيل شويدي.

خو د هغې زمانې واقعيتونه ښيي چې دولت د يو نظام په توګه د خلکو د حقونو او ازاديو پر خلاف سانسورولو او د خلکو په وژلو لاس پورې کړی.[۲۳] له دې سره چې دغه قانون د نادرشاه له زمانې وروسته هم نافذ و ؛ خو د محمد هاشم خان د صدارت پر مهال د غبار په وينا[۲۴]، د هغه تاريخ له مخې چې په قانون کې د خلکو بنسټيز حقونه تدوينيږي، په پراخه توګه د افغانستان د خلکو د حقونو په تيره بيا د روڼ اندو او مشروطه غوښتونکو حقونه تر پښو لاندې شوي، د شلمې پيړۍ په پنځوسمه لسيزه کې دغه څه ډير تر سترګو شوي.

## ۳.۳ د افغانستان اساسي قانون ۱۳۴۳

دغه قانون د محمد ظاهر شاه د سلطنت پر مهال په ۱۳۴۳ کال په کابل کې د وربلل شوې لويې جرګې له خوا په ۱۲۸ مادو کې تصويب شو. د دغه قانون طرحه د افغانستان د نوموتو حقوق پوهانو، پوهانو او روڼ اندو له خوا چمتو شوې وه. په دغه قانون کې د دوو توکمو يا نسلونو يو لړ غوښتنې چې يوه يې د مشروطه غوښتونکو او بله يې د افغانستان اصلاح پاله ډله وه په نظر کې نيول شوې وې. دغه سند هم د حقوقي ادبياتو له پلوه او د هغو قانوني اصلاحاتو له اړخه کاريدلی و، دا رنګه د محتوی د انډول له اړخه هم د پام وړ حقوقي سند دی. له دغه ليدلوري پر پخوانيو يا بنايي د اوسني اساسي قانون او د راتلونکو قوانينو په پرتله يې ښيګڼې ډيرې وې. د دغه قانون د حقوقي ادبياتو کره کتنه د حقوقو او سياسي علومو د زده کونکو لپاره چې د حقوقي ادبياتو سره بايد بلد شي د ارزښت وړ ده. خو دغه ښيګڼې يوازې د اساسي قانون يا د نورماتيف تر پولو ايساره پاتې ده. د اجرايي واقعيت، د ټولنيزو جوړښتونو د خاموالي، وروسته پاتې والی او د دولت د رهبرۍ له خوا د ژمنو ماتونه هغه ننګونې وې چې د اساسي قانون او د شاهي نظام لپاره يې راولاړې شوې وې.

۲۱ مير غلام محمد غبار، "افغانستان در مسير تاريخ"، دويم ټوک ۱۳۸۲. فرهنګ، افغانستان په پنځه وروستی پيړيو کی، سپنتا، د وروسته پاتې کيدو لاملونه.
۲۲ د افغانستان اساسی قانون، لومړۍ ماده، ۱۹۳۱. "د افغانستان د قوانينو ټولګه" (کابل: د افغانستان د اسلامي جمهوريت د عدليې وزارت خپرونې، ۱۳۸۲). ۵۳.
۲۳ مير غلام محمد غبار، "افغانستان در مسير تاريخ"، لومړی او دويم ټوک، ۱۳۸۲، ۹۵۲.
۲۴ غبار، "افغانستان در مسير تاريخ"، ۱۰۹۲-۱۰۵۲.

د دغه اساسي قانون په سریزه کې راغلي: "د یوې پر مختللې ټولنې د ټولنیزې همکارۍ پر بنسټ، د عدالت او مساوات د ټینګښت، د ډیموکراسۍ او سیاسي او ټولنیز عدالت پلی کول انساني کرامت ته درناوی. موږ د افغانستان خلک... دغه قانون د خپل ځان او راتلونکو نسلونو لپاره وضع کړ. "[25]دا ټول هغه ارمانونه دي چې په لیبرال اساسي قانون کې ځای شوي. په بله وینا په دغه قانون کې طرح شوې موخې هغه ترکیب دی چې د ډیموکراسۍ د لیبرالو ارزښتونو او د سوسیال دیموکراتانو د تګلارو عناصر "د اقتصادي دموکراسۍ" طرحه او "عدالت او مساوات" تر ډیره د افغانستان له مشروطه غوښتونکو څخه اغیزمن و چې د اساسي قانون د طرحې د کمیسیون غړیتوب یې لاره. له دې سره، سره په نړیواله فضا کې چې کلونه کلونه یې دوام لاره دغو ارزښتونو ته ژمنتیا تر ننه ډیره اسانه وه.

افغانستان د ناپیلیتوب د غورځنګ تر ټولو مخکښ هیواد و. د دغه غورځنګ ګڼ غړي هیوادونه هغه وو چې له استعمار سره له مبارزې راوتي و او د استعمار ضد جګړو په ترڅ کې د عدالت غوښتنه هغه شعارونه وه چې استعمار ضد خوځښتونه یې سمبالول هغې چارې د دغه غورځنګ په اعلامیو کې هم ځای مونده، د عدالت غوښتنې چاره په هغو ورځو کې د پرمختګ غوښتونکو غورځنګونو لپاره یوه انګیزه وه.

په دغه اساسي قانون کې د ملي واکمنۍ اصل چې د خلکو له ارادو سرچینه اخلي، د لومړي ځل لپاره تدوین شوی و او په دې توګه له ټولواک یا پاچا نه هغه حقونه او واکونه واخیستل شوه چې یو مهال ورته "د خدای د خلیفه لقب" ورکول کیده دغه واکونه خلکو ته ولیږدول شول. د دغه قانون د لومړۍ مادې په دویم بند کې راغلي: "په افغانستان کې ملی واکمني له ملت سره تړلې ده "[26]؛ یعنې خلک د "حاکمیت د خاوندانو په توګه" (sovereign)د هغو واکمنانو د واکونو ځای نیسي چې ځانونه یې له قانونه لوړ ګڼل. د دغه قانون په دریم څپرکي کې، د "خلکو اساسي حقونه او وظیفې" تر سر لیک لاندې شپاړس مادې د خلکو بنسټیزو حقونو ته ځانګړې شوې وې.

په پنځه ویشتمه ماده کې راغلی دي: افغانستان ټول خلک بې له هیڅ قسم تبعیض او امتیازه د قانون په وړاندی یو شان حقونه او وظیفی لري.[27]په رسمیت پیژني. شپږویشتمه ماده د "انسان د طبیعي حق" په توګه یاده شوې او ټینګار په کې شوی چې "د انسان آزادي او انساني کرامت له هر ډول ګواښ ځیني خوندي دی "[28]او دولت مکلف دی چې دغو ارزښتونو ته درناوی ولري او پالنه یې وکړي. په همدغې ماده کې قانون ته د تابع کیدلو اصل د دولت له کړنو پرته او د قانون پر وړاندې د دولت مسوولیتونه هم تسجیل شویدي.د ربړولو منعه کول، د سفرونو پر مهال ازادي[29]، د کورونو خوندیتوب[30]، د ملکیتونو مصؤنیت[31]، د فکر او بیان ازادي، د خپرونو ازادیګانې[32]، د ټولنو او لاریونونو ازادی په کې تنظمیږي.د خلکو د سیاسي زده کړو حق، د سیاسی نظریو په خپرولو په تولیدی برخو کې هم د قانون له خوا په رسمیت پیژندل کیږي. په دې دلیل چې په ولسواکۍ کې سیاسي زده کړې او په تولیدي برخو کې ګډون هغه مسلې نه دي چې خلک وتوانیږي هغه په ځانته توګه بشپړې کړي، اساسي قانون خلکو ته د ټولیدلو او مظاهرو حق هم په رسمیت پیژندلی. د ټولنو او مظاهرو جوړیدل په حقیقت کې له خلکو سره د پراخو اړیکو د ټینګښت په معنا دي.

د اعتراض په موخه د ټولنوجوړول او لاریونونه او یا هم نورو ته د اطلاع ورکولو لپاره او یا هم د داسې ټولنو جوړونه چې یو ځای د زندانونو شا ته واوسیږي له جشنونو او اخترونو سره توپیر لري. د دغسې ټولنو د جوړولو امنیت هم ډیر اړین دی؛ خو میلو ته تلل او یا هم د جشنونو جوړول د خلکو د هغو وګړنیزو حقونو برخه ده چې دولت یې هغسې په مراعتولو مکلف وی نه دی. په همدې مهال په یوې سیاسي غونډه کې د برخې اخیستنې لپاره د هغې تخریب او سبوتاژ هم د خلکو په حقونو کې شمیرل کیږي چې باید د هغې ساتنه او پالنه وشي، چې نه کیږي.

د افغانستان د **۱۳۴۳** کال په اساسي قانون کې د سیاسي ټولنو جوړونه د خلکو د عمومي افکارو او د ګډو ټولنیزو موخو په توګه په رسمیت پیژندل شوې. د دغه قانون په پنځه دیرشمه ماده کې راغلي: "د افغانستان خلک حق لري چې د مادي او معنوي موخو د تامینولو لپاره د قانون له حکمونو سره سم باید (ټولنې او غونډې) جوړې کړي. "

---

**۲۵** د افغانستان اساسي قانون، **۱۳۴۳**" د افغانستان د قوانینو ټولګه " (کابل: د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عدلی وزارت خپرونې، **۱۳۸۲**). **۱۰۵**.

**۲۶** د افغانستان اساسی قانون، لومړۍ ماده، ۲ بند ، **۱۳۴۳**.

**۲۷** د افغانستان اساسی قانون، **۲۵**ماده، **۱۳۴۳**.

**۲۸** د افغانستان اساسی قانون، **۲۲** ماده، **۱۳۴۳**.

**۲۹** د افغانستان اساسی قانون **۱۳۴۳**.

**۳۰** د افغانستان اساسی قانون، **۱۳۴۳**.

**۳۱** د افغانستان اساسی قانون، **۲۹** ماده، **۱۳۴۳**.

**۳۲** د افغانستان اساسی قانون، **۳۱** ماده **۱۳۴۳**.

"د افغانستان خلک حق لري، د قانون له حکمونو سره سم سياسي ګوندونه جوړ کړي.... "[٣٣] د سياسي ټولنو او ګوندونو جوړول هغه حق دی چې خلک ترينه په ټوليز ډول ګټه واخلي. هغه خلک چې په سياسي يا اقتصادي دليلونو د ګټو او ليدلورو له مخې په ګټو کې يې هم ښکيليدای شي، هغوی د خپلو موخو د ښار لپاره کولای شي چې ټولنې او ګوندونه جوړ کړي. سره له دې چې د خلکو دغه حق په رسميت پېژندل شوی؛ خو خلک په ازاد هوډ کولای شي د دغسې غونډو په تشکيلاتو کې برخه واخلي او يا له هغه نه ووځي، خو د دغو قانوني ګوندونو يا ټولنو د شته والي ننګه له قانون سره سم د دولت دنده ده.

د ټولنو او اتحاديو جوړونه په دې معنا نه ده چې دغه ټولنې او ګوندونه دې د اساسي قانون د انحلال لپاره جوړ شي. "د افغانستان خلک حق لري"، هغسې چې د قانون په متن کې راغلي و، "د اقتصادي يا معنوی موخو د لاسته راوړلو لپاره د قانون د حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي. "[٣۴] په دغه ځای کې د قانون د متن موخه د کارګري اتحاديو، د کسب ګرو د ټولنو او يا د کارونو د خاوندانو او داسې نورو ټولنو جوړونه ده. دا رنګه د قانون خلاف د عدالت غوښتنې حق،[٣۵] دا رنګه د ټولو لپاره د ښوونې او روزنې حق[٣٦] او د دغو حقونو تسجيلول په قانون کې هغه مهال د افغانستان د خلکو لپاره يو ستر ګام بلل کيده. خو د هغه په پلي کولو کې دغو حقونو سترې ستونزې هم لرلې او په ټوله کې دغه قانون د داود خان د کودتا **١٣۵٢** په پايله کې له منځه ولاړ او پر ځای يې په کال **١٣۵۵** کې د افغانستان د جمهوري نظام قانون نافذ شو.

## ٣.۴ دافغانستان د جمهوري نظام اساسي قانون ١٣۵۵

د **١٣۵۵** کال اساسي قانون له حقوقي پلوه د خلکو د بنسټيزو حقونو په اړه يو شلون او په شاتګ دی. د دغه اساسي قانون دولتی تګلارې او له هغه نه تيښته او په قانون کې يې تسجيل په ښکاره ډول بربنډه شوه. دغه د دريمې نړۍ د دولت پالو او واک خوښوونکو دولتونو په وړاندې يو سياسي ليدلوری ننداړې ته وړاندې کوي.له يوې خوا د خلکو د واکمنۍ بيلګه او ارزښتونه د يو وګړي په توګه منل کيږي، خو له بله پلوه سياسي بلوغ ته د نه رسيدو په پلمه خلک هغه مرکزي اصل چې له مخې يې خلک له کوم قيد او شرط پرته ځان د واکمنۍ خاوندان بولي، هغه له منځه ځي او د خلکو يا ملت مفهوم هم په تلويحي بڼه د واکمنۍ د تګلارې ځنې اغيزمنيږي لکه د پخواني شوروي د سوسياليزم په شان محدوديږي.

که د لرغوني يونان خلک محدود پاتې شوي وو د اتن د ازادو خلکو او د ملکيت خاوندانو د ديموکراسۍ دغه مفهوم چې په اتلسمه پيړۍ کې په اروپا او امريکې کې خلک د ملکيت خاوندان شول. هغسې چې ورته اشاره وشوه له يوې پيړۍ نه يې زيات وخت واخيست چې بيا په پايله کې يې د ټولنيزو انقلابي مبارزو او د ښځو او نارينه و اصلاح غوښتونکې مبارزې پراخه شوې او د شلمې پيړۍ په پيل کې ښځې هم نورو وګړو په څير له خپلو حقه او بنسټيزو حقونو ځينې برخمنې شوې.

له ښځو او نارينه و نه بيل د يو وګړي په توګه ټولو خپل ټولنيز ځای ځايګی لکه (کاريګرو، بزګرانو او نورو)، د توتاليتر سوسياليستی دولتونو ځانګړتيا وه. خو دغه تيوري په ډيره پسته او نرمه توګه په سياست او د دريمې نړۍ د واک خوښوونکو په سياستونو په تيره بيا د منځني ختيځ عربي، او افريقايي هيوادونو کې د داود خان له کودتا سره هم مهاله د افغانستان اساسي قانون ته هم لاره پيدا کړه. په سوسياليستي نظامونو کې د انتخاباتو اصل هم د خلکو برخه اخيستنه په بل ډول تعبير شوه چې له مخې يې د ټولنې يو شمير طبقې داسې تعبير شوې لکه د کمونيستانو په ژبه بورژوازي، اشرافيت او پخوانۍ واکمنې طبقې په کې د انتخاب له حق او انتخابيدو ځنې بې برخې پاتې شوې. د افغانستان په اساسي قانون کې هم ټولټاکنې تر پوښتنې لاندې راغلې او د خلکو يا د هغوی د حقونو خبره په تلويحي ډول ان د قانون په تيورۍ کې هم محدوده شوه.

د دغه قانون دويمه ماده په دې اړه چې په افغانستان کې د سياسي واک سرچينه کومه ده، د ټولنيزو طبقو په يادولو سره يې حقوقی برتری ورکړې او په دې توګه "سياسي واکمني چې له شرط پرته د ملت حق ګڼل کيږي" تعديليږي. په دغه ماده کې راغلي: "سياسي واک د خلکو له خوا چې اکثريت يې بزګران، کارګران، مخور او ځوانان جوړوي. "[٣٧]؛ د دغې مادې په دويمه برخه کې چې پر اکثريت ټينګار شوی په پټه توګه د يوې سياسي تګلارې ايډيولوژيک بيان دی چې د کمونيستو او کارګري ګوندونو په کنفرانس کې په ١٩٢٠ کال د ملی انقلابونو په توګه د هغو د ملاتړو طبقو له لوري تصويب شو او په افغانستان کې بيا وروسته د "خلق" په جريده کې چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند او وروسته د "پرچم" په جريده کې چې د خلق ديموکراتيک ګوند بله څانګه وه او د نورو شوروي پلوو کيڼ اړخو خوځښتونو په خبرو اترو کې ښکاره شوې. د داود خان د پير د اساسي قانون د متن په جوړولو کې د افغانستان د خلق د

٣٣ د افغانستان اساسی قانون، **٣۵** ماده **١٣۴٣**.
٣۴ د افغانستان اساسی قانون، **٣۵** ماده **١٣۴٣**.
٣۵ د افغانستان اساسی قانون، **٣٣** ماده **١٣۴٣**.
٣٦ د افغانستان اساسی قانون، **٣۴** ماده **١٣۴٣**.
٣٧ د افغانستان اساسی قانون، **٢** ماده، **١٣۵۵**.

ډموکراتیک ګوند ، په تیره بیا د پرچم ډلې رول لاره. خو بیا هم د خلکو یو لړ حقونه او ازادیګانې د **۱۳۴۳** کال د اساسي قانون په پرتله په محدوده توګه په رسمیت پیژني. دغه حقونه د دغه قانون د څلورم څپرکي په شپاړسو مادو کې تدوین شویدي. په اووه ویشتمه ماده کې د قانون پر وړاندې د ښځو او نارینه و د حقونو انډول له تبعیض پرته[38] په رسمیت پیژندل شویدي. د دغه قانون اته ویشتمه ماده وایي: "آزادي د انسانانو طبیعي حق دی، خو په دې شرط چې د نورو په شرافت او ازادی تیری و نه شي او ملی ګټو او ملی امنیت ته په کې زیان ونه رسیږي. او دغه حق د قانون له مخې تنظیمیږي. "[39] په داسې حال کې چې د ازادی مفهوم د انسان د طبیعي حق او له انساني کرامتونو نه د دولت مکلفیت بیانوي، خو د **۱۳۴۳** کال د اساسي قانون په شپږویشتمه ماده کې تسجیل شویدي: "ازادي د انسان طبیعی حق دی دغه حق پرته د نورو ازادیو او ملی ګټو نه چې په قانون کې تنظیم شوي حد نه لري. د انسان ازادی او انساني کرامت له هر ډول ګواښه خوندي دي او انفکاک هم نه مني. دولت د ازادی څخه باید ننګه وکړي او د انساني کرامت ته پر درناوی مکلف دی... "[40]

دغه اصل ته په کتو چې انسان په دې دلیل چې انسان دی، له هر ډول سیاسي او ټولنیزو تړاوونو پرته، یوازې د انسان په نامه، له ټولنیزو راشو درشو پرته د ذاتي کرامت لرونکی دی، د ټولو بشري حقونو د تګلارو سرچینه ده. د همدغه باور له مخې ده چې د فلسفي لیدلوري پر بنسټ د ټولو انسانانو تر منځ پر برابرۍ او هغه حقونه چې د هغوی په ختیه کې اغېزل شوی باور پیدا کړو. انسانان له نژادی، جنسیتي، دینی او ایډیولوژیکي او طبقاتی ځای ځایګي پرته ټول سره برابر دي او برابر حقونه هم لري. پر باورونو سکوت کول د انسانی کرامت په ساتنه کې چې په اساسي قانون کې یوه ایډیولوژیکه تګلاره ده او انسانان د خپل طبقاتی موقف له مخې په ټوله کې د تفکیک او په عملی توګه هغه محدودوي. "ازادی او د نورو شرافت ته درناوی او د ملی ګټو په پام کې نیولو " ته اشاره او د "نورو ازادیګانې او ملی ګټو "، ته اشارې ښیي چې قانون پلی کوونکي یا جوړوونکي د هغو شرطونو په لټه کې وو چې وتوانیږی له دغو لارو د خلکو ازادیګانې او انسانی حقونه محدود کړي. د شرطونو زیاتول له اساسي حقونو او ازادیو ګټه پورته کونه په عملی توګه دې ته لاره پرانیزي چې دولت وتوانیږي پر دغو حقونو محدودیتونه ولګوي. دغه ماده هغه هڅه ده چې د قانون جوړونې لپاره د یو واکمن دولت د رامنځ ته کیدو په موخه چې ریښه یې د دریمې نړۍ د واک ته د رسیدو په موخه د تیرې پیړۍ له شپیتمې او اویایمې لسیزې سره تړاو لري. د **۱۳۵۵** کال د اساسي قانون څلورمه ماده په یو ډول په خلکو کې د سیاسي بلوغ نشتوالي ته اشاره کوي او په هیواد کې د یو ګوندیز سیستم په رامنځته کیدو ټینګار لري او په سیاسي بهیرونو کې د خلکو له پراخه ګډون سره مخالفت ښیي. دغه ماده وایي: "د ټولنیزو غوښتنو د منعکسولو او د افغانستان دخلکو د سیاسي روزنې لپاره تر هغه وخته چې دغه هیلې تر سره شي او خپل طبیعی پړاوونه بشپړ کړي، نو یو ګوندیز سیستم چې د انقلاب ګوند چې د خلکو د ګټو او د پرمختګ لپاره چې د **۱۳۵۲** کال د چنګاښ په **۲۶** برې ته رسیدلی اړین دی. "[41] د انسان د اناتومۍ لغوه کول او دا رنګه د هغه په وګړنیزو حقونو کې کموالی د قانون په شپږڅلویښتمه ماده کې راغلي چې خلک "د**۱۳۵۵** کال اساسي قانون او د **۱۳۵۲**.. کال د چنګاښ د **۲۶** نیټې انقلاب ته باید وفاداره او د خپل ولسمشر اطاعت وکړي"[42] په عمل کې د اپوزیسیون، ممنوعیت، په سیاسي او ټولنیز ژوند کې د شخصیت پرستۍ او د ولسمشر خلاصون د خلکو له نیوکو نه هغه څه دي چې په دغه قانون کې پرې ټینګار شوی. دغه قانون د **۱۳۴۳** کال د اساسي قانون په پرتله د خلکو د بنسټیزو حقونو او د هغوی د ازادیو په برخه کې د پام وړ په شا تګ بلل کیږي.

## ۳.۵ دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسي اصول، ۱۳۵۹

هماغه شان چې ورته اشاره وشوه د **۱۳۵۵** کال اساسي قانون یو په شا تګ او د خلکو د حقه حقونو په برخه کې د پام وړ خبره ګڼل کیږي. د افغانستان د **۱۳۵۵** کال اساسي قانون تر ډیره هغه دولت ته د حقوقی حیثیت د ورکولو په معنا دی چې هغه د یو ګوندیز سیستم او ناسیونالیزم له ایډیولوژۍ څخه چې د تیرې پیړۍ په شپیتمه او اویایمه لسیزه کې یو شمیر د دریمې نړۍ هیوادونه ترینه اغیزمن وو. هماغه شان چې ورته اشاره وشوه د خلکو مفهوم په اساسي قانون کې راغلی او د اشارې په توګه د خلکو د یوې برخې په توګه او هغه طبقه چې کمزورې طبقه ګڼل کیږي په تلویحی ادبیاتو کې د ټولو خلکو په نامه یې تقلیل وموند . دغه باور د قانون جوړونې او پلی کونې او د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د قانون جوړونې په ایډیولوژیکه برخه کې ډیره پراختیا ومیندله.

۳۸ د افغانستان اساسی قانون، ۲۷ ماده، ۱۳۵۵.
۳۹ د افغانستان اساسی قانون، ۲۸ ماده، ۱۳۵۵.
۴۰ د افغانستان اساسی قانون، ۲۶ ماده، ۱۳۴۳.
۴۱ د افغانستان اساسی قانون، ۴۰ ماده، ۱۳۵۵.
۴۲ د افغانستان اساسی قانون، ۴۶ ماده، ۱۳۵۵.

د ۱۳۵۹ کال د اساسي قانون د جوړوونکو برداشت دا و چې نوم به پرې اساسي قانون نه ږدي، خو د "اساسي اصولو" په نامه دې ترينه يادونه وشي، د کمونيستو او کارګری ګوندونو له ډيرو تګلارو څخه چې د کمونيستو او کارګری ګوندونو په جوړ شوی کنفرانس کې چې په ۱۹۶۰ کال کې جوړ شوی و اغيزمن شويدی.د دغو يادو شويو مصوبو له مخې دولت پلوه تحصيل کوونکی او د شوروی نظام پلوی افسرانو د دريمې نړۍ په يو شمير هيوادونو کې په "سوسياليستی تګلارو" کې د انقلابونو خبره راپورته کړه. په دغو نظامونو کې له الجزايره نيولې بيا تر مصر، سوريې، عراق او يو شمير نورو هيوادونو نومونه د يادولو وړ دي. دغسې دولتونه او د دغو انقلابی دولتونو کودتاوې د سوسياليزم د تګ لپاره يوه لاره په ګوته کيده. او د دولتونو کرکټرونه هم د ملی او يا خلقی جبهو له لورې رهبری کيدل او دغو کرکټرونو ته يې ملی ديموکراتيک کرکټرونه ويل.[43]د ديموکراتيک دولت د اساسي اصولو په لومړۍ ماده کې خلکو ته داسې تعريف راغلی: "د افغانستان ديموکراتيک جمهوري دولت خپلواک او ديموکراتيک دولت دی چې د کارګرانو، بزګرانو، کسب ګرو، کوچيانو، روڼ اندو او ټولو زيار ايستونکو او ټولو وطنپرستو او ټولو مليتونو او قومونو نه جوړ شويدی."[44] په داسې حال کې چې د اکثريت لرونکو ډيموکراسۍ کې واک پرته له کوم شرطه د ټولو دی او ټول خلک که هغه ښځينه وی او که نارينه له هر ډول تبعيض که هغه د شتمنۍ وي او که د مالکيت ټول ګډ حقونه لري.په کمونيستي ايډيولوژيکو دولتونو کې د خلکو ټولګي ځانګړو طبقو ته رانښکته کيږي چې د هغوی په وينا "مخکښ ګوند"، پر خلکو حکومت کوي. په ټوله کې خلک او د واک سرچينه مرکزی کميټې او تر ډيره د ګوند سياسي دفتر پورې محدوديږي. د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت د اساسي اصولو د دويمې مادې په دويمه برخه کې راغلي: "د افغانستان په ديموکراتيک جمهوريت کې دولتي واک د ښارونو او کليو د زيار کښانو په لاس کې دی او د دولتي او سيمه ييزو ادارو له خوا په ښارونو او کليو کې پلی کيږي.[45]" د "ملي ديموکراتيک دولت" له ايډيولوژيکو اصولو سره هم مهاله "ملي متحده جبهه" جوړيږي چې د بخارست د کنفرانس د اصولنامې په دريمه ماده کې په ډاګه شويده:

"د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کې د زيارکښانو واک له ملي پلار وطنې جبهې سره تړلی دی چې ټول کارګران، بزګران، کسب ګر، کوچيان، روڼ اندي، ښځې، ځوانان او د ټولو قامونو او ملتونو استازي او ټول مترقي او وطپرست ځواکونه، ټولنيز او سياسي سازمانونه ټول د افغانستان د خلق د ديموکراتيک ګوند د نوې، ازادې او ډيموکراتې ټولنې د جوړولو په کار کې سره يو موټی او متحد دي."[46]

هغه څه چې دلته د تحقيق د هدف د غوښتنې له مخې د خلکو هغه حقونه چې د خلق د ديموکراتيک ګوند له خوا تر پښو لاندې شوي د بحث موضوع مو نه ده بلکې د اساسي حقونو د ارزښتونو په تړاو يوه ځغلنده کتنه ده چې اوس يې ايډيولوژيکه بڼه هم خپله کړيده او له همدې امله د خلکو په ځينو برخو کې يې کچه هم ټيټه شويده. همدا رنګه د خلکو او پرګنو ځينې نورې برخې لکه د اتلسمې پيړۍ په نا پخې شوې ديموکراسۍ کې چې د مالکيت د لرلو يا سياسي تړاوونو پر بنسټ چې خلک له خپلو حقونو بې برخېشوي وو. دا هم طبيعي خبره ده چې دغسې يو حقوقی نظام دولت ته اجازه ورکوله چې د خلکو اساسي حقونه د خپلو ايډيولوژيکو تګلارو سره تر پښو لاندې کړي. د خلق د ډيموکراتيک ګوند د مشرانو نظر دا و چې، (پلار وطنه ملي جبهه)، چې په واقعيت کې هماغه جبهه چې د پرولتاريايي ګوند چې د لينن له افکارو يې سرچينه اخيستې وه، ټولنه يې هم د متحدې جبهې تر ديکتاتورۍ لاندې چې د مارکسيست، لينينست له نظريو اخيستل شوې وه راوسته او غوښتل يې چې ټولنه د سوسياليزم پر لور رهبری کړي. دغه څه د دې غوښتنه کوي چې "د بورژوازۍ سياسي حقونه" محدودوي. د ديموکراتيک جمهوريت د اساسي اصولو په څلورمه ماده کې راغلي:

"د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د کارګرانو ګوند او د هيواد د ټولو هغو زيارکښانو ګوند و چې مشري يې د کاريګرو، بزګرانو، روڼ اندو او ټولو زيارکښانو په غاړه وه او د افغانستان د ټولو اوسيدونکو د ګټو د خونديتوب لپاره جوړ شوی دی."[47]

په ارماني اصولو او د اساسي اصولو په يوه برخه کې د دوی څيره او توتاليتر کرکټرونه په روښانه توګه برښېږي شول. له همدې امله که څه هم وروستۍ مادې يې د خلکو د بنسټيزو حقونو په اړه هم ځينې اشارې لري، خو د اصولنامې ټول ايديولوژيک محدوديتونه په

---

۴۳ "له هغه ځايه چې کمونيستانو د خپلو مبارزو بر مټ وکړای شول د ډيرو وروسته پاتې هيوادونو لکه: چين، ويتنام او داسې نورو په څير واک ته ورسيږي، په هغو هيوادونو کې چې هلته د کارګر او پانګوالو تر منځ روشانه بيلګې په لاس کې نه وې د (ملي ديموکراتيکو انقلابونو) تيوريو په زياتوالی (د بخارست په کنفرانس کې ۱۹۶۰ چې کارګری او کمونيست ګوندونه سره راټول شوي وو) او (د نوي ديموکراتيک انقلاب) (مائوتسه دون) باندې تم شول. په افغانستان کې ښاغلي تره کي د انقلاب په برياليتوب کې خلقي افسران داسې ښودل چې انقلاب يې بري ته رسولی که دا سره پرتله شي، سپنتا، " پرمختللي سياسي ګوندونه (، آسمايی مجله، ۲۲، ګڼه (اکتوبر۲۰۰۳).

۴۴ د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت اساسي اصول، لومړۍ ماده، ۱۳۵۹. " د افغانستان د قوانينو ټولګه " (کابل: د افغانستان د اسلامي جمهوريت د عدلی وزارت خپرونې، ۱۳۸۲)، ۲۲۹.

۴۵ د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت اساسي اصول، ۳ ماده، ۱۳۵۹.

۴۶ د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت اساسی اصول، ۳ ماده، ۱۳۵۹.

۴۷ د افغانستان د ديموکراتيک جمهوريت اساسی اصول، ۴ ماده، ۱۳۵۹.

عملي توګه له منځه ځي. د بېلګې په ډول کله چې د ازادیو او ټولنیزو تشکیلاتو خبره کېږي، نو ټولې دغه ازادی "غویې د انقلا ب "[۴۸]او د دیموکراتیک دولت پر اهدافو او تبلیغاتو راڅرخي. د ۲۹ مادې په اوومه فقره کې راغلي چې: "په ښکاره ډول د افکارو بیانول او د ټولنو او د سوله ییزو مظاهرو جوړول او د وطنپالنې په اړه یووالی د قانون په چوکاټ کې تنظیمیږي"[۴۹] خو واقعیت داسې دی چې ناحقوقي سیاسي وروستاړو او مختاړو په زیاتولو سره ټولې دغه تګلارې په ایدیولوژیکو تعبیرونو پورې محدودیږي. مثلا د "وطنپالنې " صفت ډېره انعطاف منونکې اصطلاح ده. چې دغو اصطلاحاتو ته د حقوقو په علم کې الاستیکي اصطلاحات وایي؛ انسان کولای شي دغه واژې تفسیر کړي او ان د هغوی لپاره یوه محتوی هم وټاکي پرته له هغه څه چې په کې مرام یا هدف وي. په دې توپیر چې په نا ایډیولوژیکه حقوقی بڼه بېلابېل تفسیرونه او شننې نه شي کولای د قانون د منځپانګې او روح سره په ټکر کې وي او د حقوقي نورمونو بې پرې والی نقض کړي، په داسې حال کې چې بې پرې حقوقي ایډیولوژیکې اخیستنې نه شته بلکې د ټولنیزو ډلو پلویان پر دې دلیل چې طبقاتي ځای ځایګی یې له عقیدتي باورونو او جنسي او نژادي تړاوونو سره دی پرې ټینګار کوي.

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسي اصول پرته له شکه د یو ګوندیز اصولو او ایډیولوژیکې تګلارې د پټولو لپاره هڅه نه کوي په هماغې دوه ویشتمه ماده کې یاده شوې ان چې "علمي، تخنیکي کلتوري او هنري فعالیتونه هم "د ثور د انقلاب هدفونه "، هم په یوه محدوده کې " قانون له ملاتړه برخمن دي. ددغه قانون روح پخپل ذات کې د دریمې نړۍ د توتالیتر دولت قانون ته ورته ده چې د خلکو د بنسټیزو حقونو له نظره او دیموکراتیکو ازادیو ته د درناوي له مخې یې یو ویجاړوونکی په شا تګ ننداړې ته وړاندې کاوه، دغه قانون د حقوقی تیورۍ له نظره د ایډیولوژیک زور د جوړولو او د سیاسي کثرت پالنې د لغو کیدلو په معنا دی.

## ۳.۲ اساسي قانون ۱۳۶۶

دغه اساسي قانون په ټوله کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د ایډیولوژیکو تګلارو په وړاندې غبرګون و. دا د اساسي قانون تعدیل و چې د حقوقي ضمانتونو پر ځای د اجرایي واقعیت منل و چې د افغانستان په تاریخ کې د بیسارو ناقانونیو سبب شوه. د خلکو غصې حزبي قانون جوړوونکي اړ کړل چې د خلکو د ګټو لپاره په شا تګ وکړي.

د ډاکټر نجیب الله په مشرۍ حکومت د "ملي روغې جوړې د تګلارې " په رامنځته کولو سره د دې په لټه کې و چې په اساسي قانون کې داسې بدلونونه راولي چې د هغه د مخالفینو لپاره هم د منلو وړ وګرځي. له دې امله په ځینو مفاهیمو او قانوني اصطلاحاتو کې بنسټیز بدلونونه رامنځ ته شول. د دغه قانون په لومړۍ ماده کې د خلکو تعریف یو ځلې بیا د (زیار ایستوونکې طبقو ) نه په تقلیل خلاص شویدی. په همدغې ماده کې راغلي: "د افغانستان په جمهوري نظام کې ملي واکمني خلکو پورې تړلې ده. "[۵۰] دلته د خلکو مفهوم د "زیار کښو خلکو " چې کارګران، بزګران، کوچیان او نور زیارکښان په کې راځي په پراخه او د دیموکراتیکو اصولو سره سم راغلي.د دغه قانون په پنځمه ماده کې بیا په تکرار ډول د سیاسي ګوندونو د ازادی خبره شوې[۵۱]او په دې توګه سیاسي کثرت پالنه په رسمیت پیژندل شویده. د دغه اساسي قانون دریم څپرکی له دري دیرشمې مادې څخه تر څلور شپیتمې مادې پورې د تابعیت، د خلکو حقونو او مکلفیتونو ته ځانګړې شویدي. په دغو مادو کې له تبعیض پرته د ټولو خلکو د حقونو برابري په قانون کې تسجیل شویده.[۵۲] وروستۍ مادې، د ژوند کولو حق، د دینی مناسکو ترسره کول، د ازادی حق او د انساني کرامت پالنه د هر ډول ګواښ په وړاندې د دولت دندې ښودل شوي.[۵۳] همدا رنګه نور حقونه او فردی ازادی لکه د بیان ازادي د مظاهرو او قانوني اعتراضونو، د کورونو او مراسلاتو خوندیتوبد انتخابولو او انتخاب کیدلو حق په رسمیت پیژندل شویدي.[۵۴]

د ۱۳۶۶ کال اساسي قانون چې په ۱۳۶۹ کال تعدیل شو، خو د خلکو په حقونو او بنسټیزو ازادیو کې د پام وړ بدلون رانغی. دغه حقونه په دریم څپرکي کې له دري دیرشمې مادې نه بیا تر څلور شپیتمې مادې پورې تسجیل شویدي.

۴۸ د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسی اصول، ۲ ماده،.۱۳۵۹
۴۹ د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسی اصول ۲۹ ماده،.۱۳۵۹
۵۰ د افغانستان اساسی قانون، ۱ ماده، ۱۳۶۶.
۵۱ د افغانستان اساسی قانون، ۵ ماده، ۱۳۶۶.
۵۲ د افغانستان اساسی قانون، ۳۸ ماده، ۱۳۶۶.
۵۳ د افغانستان اساسی قانون، ۳۹، ۴۰، ۴۱ ماده، ۱۳۶۶.
۵۴ د افغانستان اساسی قانون، ۲۴-۴۲ ماده، ۱۳۶۶.

## ۳.۷ دافغانستان د اسلامي جمهوريت اساسي قانون ۱۳۸۲

دغه اساسي قانون د بن د کنفرانس د توافقاتو پر بنسټ د ۲۰۰۱ کال له نومبره تر ډسمبره پورې جوړ او مسوده يې د ليندۍ له ۲۲ د مرغومي تر ۱۴ پورې په ۱۳۸۲ کال کې په کابل کې د اساسي قانون د تصويب لويې جرګې ته وړاندې او د سلواغې په شپږمه نيټه په ۱۳۸۲ کال توشيح او لاسليک شو.

دغه مسوده او ان وروسته د دغه قانون د نافذ شوي متن په اړه بيلابيل غبرګونونه او بحثونه راوپاريدل وړاندې تر دې چې په دغه متن کې د خلکو د حقونو په څېرکی تم شو اشاره کوم چې ليکونکی هم يو له هغو کسانو څخه دی چې له ۲۰۰۳ کال وروسته د دغه قانون له مسودې مې هم په قانون کې د تشو او نيمګړتياو او ستونزو په اړه ځينې اشارې لرلې دي. خو زما د هغه نقد په اړه چې په دې برخه کې خپور شوی په جوړښتونو کې تناقض، په حقوقي برخه کې ادبي کمزورئ په دې دليل چې هغه ټولې مې په هالنډ کې د يو جوړ شوی کنفرانس پرمهال وړاندې کړې وې د جبري لنډ شوي متن په اړه يو اوږدمهاله کار و.

"د افغانستان د اساسي قانون د مسودې) په اړه هغه ملاحظې چې په ۲۰۰۳ کال کې هماغه شان چې په وينا کې بيان شوې وې خپرې شوې او د ريسه پلاوي او د اساسي قانون د لويې جرګې د غړو په واک کې ورکړل شوې. دغه مقاله بيا وروسته "د ستونزمنو کلونو "[۵۵] په نامه کتاب کې چې د ليکوال د ځينو مقالو ټولګه ده بيا چاپ شوه که څه هم چې ځينې طرحه شوي تناقضات هغه مهال په وروستي متن کې لرې شوي وو، خو د پام وړ ستونزې بيا هم پاتې شوې چې په دغه قانون کې بيا کتنې ته اړتيا لري.

د دغه قانون يوه اصلي ستونزه د حقوقي ژبې له پلوه هماغه د حقوقي ادبياتو افت دی. قانوني ژبه لکه د علومو د ډېرو څانګو په شان ځانګړې ژبه او ځانګړي اصطلاحات لري. که قانون جوړوونکي په دغې ژبه نه پوهيږي نو قانون به د ولسي خلکو په ژبه وي چې ورسره د قانون د پلي کيدو بهير له ويرې او انديښنو نه ډکيږي. له هغه ځايه چې د دغې رسالې د بحث موضوع د قانون فني ستونزې او تناقضات نه دي، خو په څو لنډو اشارو بسنه کوم چې هغه مهال مې ليکلې وې او د خلکو بنسټيزو حقونو ته په اساسي قانون کې کتنه کوم.

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون د مسودې په اړه مې ليکلي و: "دغه مسوده تر ډېره په افغانستان کې د واک د تنظيم د ترون په شان ده، له دغه متن سره په افغانستان کې د واکمنو شخصيتونو لپاره شرطونه برابروي. "[۵۶] نننۍ خبرې د نظام د اصلاح او په کره توګه له هغو خطرونو ځينې سرچينه اخلي چې لا له وړاندې يې په اړه وړاندوينه شوې وه. د دغسې متمرکز واک په راس کې چې هر څوک راځي نو هغه بله لاره نه لری پرته له دې چې ټولې چارې پخپل لاس کې او همدا رنګه دولتي قانون او دولتي ولسواکي ورسره زيانمنيږي. بله ستونزه چې په هماغو لومړيو کې د پام وړ وګرځيده د قانون په متن کې تناقضات و. د مثال په توګه د بشري حقونو اعلاميې ته ژمنتيا او هغه تفسيرونه چې وروسته بيا د دغې اعلاميې په منلو کې سره له دې چې افغانستان هم د دغې اعلاميې له لاسليک کوونکو ځينې يو دی، بيا هم په قانون کې په عملي توګه ښکاره تناقض ليدل کيږي. ما په ياده مقاله کې ليکلي و:

> "هغه څه چې د دغه قانون په پلي کولو کې ستونزې زيږولی شي همدغه د متضادو ارزښتونو منل او د هغو په پلي کولو کې د دولت مکلف کول دي. د دولت لپاره د ستونزو ټاکنه د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې د مراعتولو په کار کې د پام وړ خبره ده، دا هغه څه ده چې له مخې يې د افغانستان وګړي د بشری ټولنې د يو غړي په توګه د برابرو حقونو لرونکي دي. له دغو ښکاره تناقضاتو سره، سره د قانون په پلي کولو کې ښايي زياتې ستونزې راولاړې کړي. په راتلونکي کې به ستره محکمه د خپلې خوښې په تفسيرولو چې د دغه قانون سره به په ټکر کې وي لاس پورې کړي. چې دا د قانون جوړونې له اصولو څخه، چې په کار دي د متضادو او مخالفو تفسيرونو مخه په قانون کې ونيوله شي. هغه قانون چې د متضادو تفسيرونو لپاره ځای ولري هغه قانون بيا هغه صلابت چې په کار دی نه يې لري. "[۵۷]

ښايي دا هم يو په زړه پورې تصادف وي چې هماغه نقد يا کره کتنه چې په ۱۳۸۲ کال کې مې ليکلې وه او په اساسي قانون کې د تناقضاتو او نه رڼښت په اړه مې ګڼې خبرداری ورکړې وې، خو هماغه مهال زه يو څه ته ځير شوی وم هغه مهال زه د بهرنيو چارو د وزير په توګه د دغسې خبرو سره مخامخ شوم. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د دوه نوي يمې مادې په دريمه فقره کې راغلي دي: "په وزير باندې د نه باور رايه بايد صريحه، مستقيمه او پرپخو د لايلوولاړه وي، دغه رايه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رايو په اکثريت صادريږي. " د همدغې مادې په نقد کې مې په ۱۳۸۲ کال کې ليکلي و چې کوم مقام د دغه کار واک لري چې د رايو د بيرته

۵۵ رنګين دادفر سپنتا، ستونزمن کلونه، (کابل، ۱۳۸۸)، ۲۴-۴۳.

۵۶ رنګين دادفر سپنتا، ستونزمن کلونه، ۴۵.

۵۷ رنګين دادفر سپنتا، ستونزمن کلونه، ۴۹.

اخیستنې په اړه چې "موجه" دي او که "موجه" نه دي[۵۸]. دغه ماده هغه شان چې په قانون کې راغلې بیله دې چې د موجه یا نا موجه دلایلو سپیناوی وکړي حقوقی ګټه نه لري. د دغه اساسي قانون له انفاذه څلور کاله وروسته ولسي جرګې په دې اړه چې ایراني حکومت افغان کډوال له خپلې خاورې ایستي وو زه یې استیضاح کړم. په لومړی پړاو کې د عدم اعتماد د رایو پلویانو اکثریت رایې تر لاسه نه کړې، په همدغې موضوع د کورنیو دندو د اصولو خلاف یې د دویم ځل لپاره رایې وکارولې او زه یې سلب اعتماد کړم. د افغانستان سترې محکمې د ولسي جرګې دغه پریکړه د قانون خلافه وبلله او رد یې کړه. دلته خبره دا ده که په قانون کې صراحت وای نو اړتیا نه پیښیده چې دغه موضوع سترې محکمې ته واستوي، یا د ولسي جرګې پریکړه منل کیده او یا هم ولسي جرګې ته د داسې مبهمو پریکړو واک نه سپارل کیده. دا د اساسي قانون یوه ستره ستونزه ده. زما د بحث موضوع د باور د رایو د اخیستو په مبتذله بڼه چې په وروستیو کلونو کې بیا ، بیا تکرار شوې، نه ده. زما د بحث موضوع د حقوقی فلسفې یا د پام وړ قانون، د هغه روح یا د ارمانونو موضوع ده. هماغسې چې پوهیږو په افغانستان کې د اعتماد د سلبولو یا اخیستلو موسسه د ناوړه ګټې د پورته کولو په موسسه بدله شوې. قانون باید د زیات واک او ټینګښت نه برخمن وي، له هغې پرته د هغو حاکمانو او د واک د خاوندانو لپاره د لاس په یوې اله بدلیږي. میرمن یولی سیح (Juli Zeh) چې په کوسوو کې د ملګرو ملتونو سلاکاره وه، په خپل ساحوي تحقیق کې یې په کوسوو کې د قانونی نیمګړتیاو او له قانون څخه د حکومت په سرغړونو او د "دیموکراتانو په دیکتاتورۍ" [۵۹]لیکلي.

له دې ټولو سره، سره د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون یوه ستره دیموکراتیکه لاسته راوړنه ده. هغه قانون چې له کلونو تاوتریخوالی او ناقانونۍ وروسته خلک وتوانیدل چې د واک د اصلي خاوندانو په توګه د هغوی ټول وګړنیز حقونه په کې په رسمیت پیژندل شوي. که دا ومنو چې د هیلر (Heller) په خبره "هغه اګاهانه بهیر دی چې په کې د یوې ټګلارې جوړول او سیاسي او ټولنیز ژوندانه ته د پاملرنې"[۶۰]تضمینول دي. نو زموږه اوسنی اساسي قانون هغه سند دی چې د هیواد د اقتصادي او سیاسي اوضاع او فرهنګي پرمختګونو سره سمونې او تعدیل ته اړتیا لري. خو له دې داسې اخیستنه نه کیږي چې د واکمنانو لاسونه دې د قانون د تعدیلاتو لپاره خلاص پاتې وي او دغه ادلونه بدلونونه دې په ورځنیو چارو بدل شي. په ټولیزه توګه اساسي قانون اساسی او په هغه کې هغه مادې چې د ډیموکراتیک نظام ارزښتونه په کې نغښتي دي تر هغه ځایه چې امکان لري په ډیرې څیرتیا باید په کې ادلون بدلون راشي. دا هغه ښیګڼه ده چې د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې په تیره بیا د خلکو د حقه حقونو په برخو او مادو کې د تعدیل امکان نه شته. له همدې امله اساسي قانون باید داسې جوړ شي چې لږ تر لږه د هغه ارماني مادې وتوانیږي د اوږدمهال لپاره ټولنې او د خلکو ډیموکراتیکو غوښتنو ته ځواب ووایي. اساسي قانون د ترافیکو د جریمو ټولګه نه ده چې هر کال د پیسو د پړسوب یا د ترافیکی سرغړونو له امله بدل رابدل شي، خو د دغې یادونې وروسته به خپل پخواني نظر ته ستون شم.

په کار دا دي وړاندې له دې چې د خلکو پربنسټیزو حقونو خبرې وکړو، لومړی باید د دولتونو جوړښتونو او ارماني موخو باندې تم شو. د هر ډول ناسم پوهاوي د مخنیوي لپاره یو ځل بیا یادونه کوم چې زما خبرې د قانون پر متن چې یو حقوقي سند دی او زه غواړم چې د هغه پر حقوقی اړخ وغږیږم چې نیغ په نیغه زموږ د بحث سره نژدې والی لري، څکه چې اجرایوي سیاست او قانون ماتونه په ټوله کې پخپله سیاسي بحث دی.

هماغه رنګه چې مې وویل، په حقوقو کې تل پاتې اصل شته چې وایي د اساسي قانون د ارمانونو او د هغه د واقعیتونو تر منځ تل پاتې واقعیت پروت دی. (په جرمني ژبه کې دغه اصل ته: Diskrepanz zwischen Verfassungsanspruch und Verfassungswirklichkeit) وایي له دې امله ترقي غوښتونکي او اصلاح غوښتونکي غورځنګونه باید د دغه بیلتون د له منځه وړلو لپاره هڅه او هاند وکړي.

دغه قانون د شلمې پیړۍ له پنځوسمې لسیزې وروسته، په ټوله کې د دیموکراتیکو ارزښتونو او د خلکو بنسټیزو حقونو او انساني ازادیو ته د لاسرسي په موخه ورستندیل دي. د هیواد په اساسي نافذ شوي قانون کې د دغو حقونو تدوینول له پخوانیو نا قانونیو او په حقوقی متن کې د خلکو واکمنۍ ته ستنیدنه نندارې ته وړاندې کوي.

۵۸ رنګین دادفر سپنتا، ستونزمن کلونه، ۵۹.
۵۹ Juli Zeh, Die Diktatur der Demokraten, (Hamburg, 2012).
۶۰ رنګین دادفر سپنتا، ستونزمن کلونه، ۴۵.

## د خلکو د واکمنۍ اصل

د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون څلورمې مادې د خلکو واکمني په زغرده په رسمیت پیژندلې ده. له همدې امله له حقوقي نظره د دموکراسۍ بنسټیز اصل په دغه قانون کې په دویم ځل تسجیلیږي. دغه ماده وایي: "په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیمه ډول یې په خپله یایې د خپلو استازو له لارې عملي کوي"[۲۱] په دغې ماده کې هم د ولسواکۍ مستقیم عنصر او هم د تمثیلی دیموکراسۍ اصل په رسمیت پیژندل شویدی. دې اساسي قانون بنسټیز توپیر له پخوانیو اساسي قوانینو سره په دې کې دی چې په دغه قانون کې د واک مستقیم اعمال ته هم اشاره شوېده. د دغه اصل په یادونې سره چې ملي حاکمیت په ملت پورې تړلی دی؛ دا ښیي چې د سیاسی واک خاوندان په اصل کې خلک دي نه پاچا یا حاکمان، او د خلکو دغه واکمني چې د هغوی له هوډ او ارادې نه سرچینه اخلي او د یو تړون پړاو ته وردننه کیږي نو په رسمیت پیژندل کیږي. کله چې د "حاکمیت د مستقیمو " اعمالولو او یا "د استازو " له خوا یې په اړه خبرې کیږي نو دا په دې معنا ده چې په افغانستان کې د ولسواکۍ توکي د تمثیلی او مستقیمې ولسواکۍ نه جوړ شوی ترکیب دی. له همدې امله او د اتني ولسواکۍ د تجربو په نظر کې نیولو سره چې هلته خلک (نارینه ازاد او د ملکیت خاوندان، د پولیسو غړي او په ښارونو کې دولتی غړي) وو، نو د دولت په اجرایوي او قضایي چارو کې یې نیغ په نیغه برخه لرله،په افغانستان کې هم داسې حوزې په پام کې نیول شوي چې له مخې یې خلک کولای شي نیغ په نیغه پریکړه وکړي. له دې امله د قانون د تیورۍ د ارادې اعمالول او برخه اخیستنه یوازې د استازو د ټاکلو له لارې نه ترسره کیږي، بلکې خلک پخپله کولای شي د پریکړو په بهیر کې په مستقیمه توګه ونډه واخلي. که څه هم چې په قانون کې په روښانه ټکو کې دا نه دي راغلي چې د مستقیم واک اعمالول کوم دي او خلک څنګه کولای شي په مستقیمه توګه پریکړه وکړي، خو دا روښانه شوې چې موخه یې په کلیو کې د شوراګانو جوړول او په ټول پوښتنو کې ګډون او داسې نور ځیزونه دي.[۲۲] د هنجاري (نورماتیف) د تیورۍ له مخې د دغې مادې ستونزه په دې کې ده چې افغان ولس د قومونو د یو مرکب په توګه تعریفیږي دا په داسې حال کې ده چې کله د ملت خبره کیږي نو په ډیرو دیموکراسي ګانو کې ان په هغو کې چې ملت د قامونو نه جوړ شوی ترکیب بولي، وایي چې د خلکو ټولګه ملت جوړوي او خلک کیدای شي چې د بیلابیلو قامونو او ټبرونو سره تړاو ولري، د افغنستان د ملت تعریف هم چې له قامونو جوړ ترکیب دی، د سیاسي ټولنپیژندنې او د دیموکراسۍ د تیوریو له مخې د یو لړ جدي ستونزو سره مخامخ شویدی. ان که د ډیرو د خوښې وړ هم وي، په واقعیت کې له ملته د ډیموکراسۍ اخیستنه د ټولنیز تړون چې له ازادو خلکو او وګړو نه مرکب شویدی د ازادو او خپلواکو خلکو سره په ټکر کې دی. دغه ډول حکم په علمی حوزه کې د هغو موادو سره چې خلک د ملت د اصلی جوړونکو په توګه پیژندل شوي تناقض لري. په افغانستان کې د خلکو حقونه او ازادی د هغو له وجایبو سره یو ځای په یوه ځپرکي کې تدوین شویدي. له دې امله په بل ځپرکي کې یې حقونه په بل ډول تعریف کړي "یعنې هغوی ته یې قومی بڼه ورکړې" چې دا پخپله د خلکو په تعریف کې چې هغوی په ټولنه کې د ځانګړو حقونو لرونکی دي ابهام رامنځته کوي. د افغانستان په قانون کې د ګڼو قومونو په رسمیت پیژندنه باید په بل ډول په قانون کې افاده شوې وای چې د خلکو فردی هویت یې د قومونو په چوکاټ کې په حقوقي توګه تعبیر او تفسیرولی شوای. د بیلګې په ډول ښه به دا وای چې د دغه متن لپاره بل ډول جملې کارول شوای وای: "افغانستان د ګڼو قومونو هیواد دی چې په کې بیلابیل قامونه لکه پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک، بلوچ، پشه یان او نور قامونه اوسیږي "، "د افغانستان ولس له ټولو هغو خلکونه جوړ دی چې د افغانستان تابعیت لري. " دغسې څرګندونه د ولسواکۍ له روح سره سمون لري، په دې دلیل چې د ډیموکراسۍ دولت چې قانوني مبدا لري دولت د بیولوژیکي ټبره خلاص دی.

د سعودی عربستان ستونزه هم په دې کې ده چې هغه هیواد یې د قبیلوي نوم په ورکولو سره په یو قام پورې تړلی دی د (سعودی عربستان) نوم پخپله د داسې نومونې له مخې سیاسي هویت جوړوي. په دې معنا چې عرب ټاپو وزمه د آل سعود دی او واکمني هم په آل سعود پورې تړلې ده. له ډیموکراتیک دولته دغسې تفسیرونه او اخیستنې په واقعیت کې له ډیموکراسۍ او روڼ اندۍ وړاندې په ټولنیز متن کې راغلي و چې غواړي د ګډې ډیموکراسۍ معادلې ته وردننه شي. د ډیموکراسۍ دولت بیولوژیکي ټبر نه لري. دغسې دولت د ټبریز یا پرګنیز لیدلوري نه بې پرې دی. دولت خپل مشروعیت له خلکو تر لاسه کوي او خلک له قامي، جنسیتي، دیني، مذهبي، او له ژبنیو او نورو تبعیضونو پاک دي.

۲۱ د افغانستان اساسی قانون ۴ ماده، ۱۳۸۲.

۲۲ Hans Vorländer,Gründzuge der Demokratie: Bundeszentrale für politische Bildun, Bonn. (۲۰۱۳).۲۲په اتن کې، د ۵۰۸ له ۳۲۲ کلونو تر منځ د مسیح له میلاده مستقیمه دیموکراسي موجوده وه. د پریکړې تګلاره مستقیمه او نیغ په نیغه وه. د اتن ټول اوسیدونکي د ښځو لاندې، مریان او په اتن کې میشت بهرنیان او ټولو اوسیدونکو کولای شوه د ښار په ډګر کې د ټولو مهمو مسلو په اړه پریکړه وکړي او یا په محاکمو کې حضور ولرې نو د ښار واکمن کس یعنې پولیس حق لاره چې په اړه یې بریکړه وکړي.

## د ټولنيز عدالت او انساني کرامت د ساتنې اصل

د دغه قانون په شپږمه ماده کې راغلي: "دولت د انساني کرامت د ساتلو، بشري حقونو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، د ملي وحدت د تامين، د ټولو قومونو او قبايلو تر منځ د برابرۍ او د هيواد په ټولو سيموکې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت، پرينسټ ديوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی." [۲۳] دغه ماده د قانون جوړونکو په خبره د تګلاريزو مادو څېنې يوه ده، له يوې خوا د دولت سياسي او ټولنيز جوړښتونه بيانوي او له بله پلوه د دولت پر هغو کړنو او رعايتولو مکلفوي چې د قانون لپاره اړين او ضروري دي د دولت مکلفيت د "هوسا او پرمختللې ټولنې د جوړولو لپاره چې له مخې يې ټولنيز عدالت، انسانی کرامت بشري حقونه د ډيموکراسۍ عامول او... "، د اساسي قانون هيلې ننداري ته وړاندې کړي. د "انساني کرامتونو له رعايتولو" څخه موخه دا ده چې د دولت له اړخه هغه شان چې په قانون کې راغلي د هر وګړي د انسانی کرامت څخه مطلب دی. دغه کرامت په قام، نژاد، دين او يا نورو تړاوونو سره هماغسې چې ورته اشاره وشوه نه تړل کيږي. د دغه اصل رعايتولو او په پام کې نيولو ته د دولت ژمنتيا له هغه حقه سرچينه اخلي چې انسان انسان دی او د دغه حق اصلي خاوند هم هغه دی.

د "ټولنيز عدالت له مخې د هوسا او پرمختللې ټولنې د جوړولو لپاره"، د دولت ژمنه د ټولنيز دولت د اصل تسجيلول دي چې پخپل ذات او خپلو موخو کې يوازې ليبرالي او ليبرال ولسواکۍ چې په اصل کې ولسواکي د يو لړ سياسي اصولو او ترجيحاتو له مخې را ښکته کوي توپير لري. د افغانستان د اساسي قانون له مخې دموکراسي هغه موخې او هيلې څرګندوي چې د دولت لپاره د سوسيال ژمنو او يا په بله معنا ټولنيزې هوساينې د دولت د جوړولو لپاره مطرح کيږي؛ دغه څه دولت ته دا حق ورکوي چې د ټولنيز عدالت د ټينګښت لپاره په اقتصادی چارو کې لاسوهنه وکړي. ټولنيز دولت د اساسي قانون ارماني عنصر د هيلو د پوره کولو وسيله ده چې د يو هنجار، (نورم) له مخې ترسره کيږي. "د هوسا او پرمختللې ټولنې د ټولنيز عدالت پر مټ" هغه مسووليت دی چې دولت ته سپارل کيږي. دغه مسووليت د اساسي قانون د څلورمې مادې په دويمه فقره کې په روښانه ټکو کې راغلي. "مستحقو اتباعوته د استوګنځای



۲ انځور: په افغانستان کې د کورني تاوتريخوالي يو قرباني، د رپوټونو له مخې د دغې ميرمنې ميړه د هغې شونډې او پزه پرې کړيدي.

دبرابرولو په منظوراو د عامه ملکيتونو د وېش لپاره، د قانون له حکمونو سره سم او د مالي امکاناتو په حدود کې لازم تدبيرونه نيسي." [۲۴] په دې دليل چې د قانون په ارمانی برخو کې ډير څه نه ليدل کيږي، نو اړ يو چې د موضوع د ښه پوهاوی په موخه د ټولنيز دولت يا د عامه هوساينې د دولت حقوقي او ادبي تيورۍ ته مراجعه وشي.

"د ټولنيز عدالت پر بنسټ د هوسا او پرمختللې ټولنې" جوړونه دولت مکلفوي چې يو ټولنيز نظام جوړ کړي، هغه ټولنيز نظام چې په هغه کې ټولنيز عدالت په پام کې ونيول شي. [۲۵] د دې تر څنګ ډير داسې نور قوانين هم شته چې دولت ته سپارښتنه کوي چې کوم کارونه نه شی کولای تر سره کړي؛ خو په دې برخه کې د ټولنيز عدالت د ارزښت په دليل قانون تر ډيره دولت مکلفوي چې يوازې د ټولنيز عدالت لپاره ځان چمتو کړي. په بله وينا قانون دولت ته سپارښتنه کوي چې د ټولنيزو طبقاتو تر منځ د منځګړی په توګه رول ولوبوي او دولت

۲۳ د افغانستان اساسی قانون ۲ ماده، ۱۳۸۲.

۲۴ د افغانستان اساسی قانون ۱۴ ماده، ۱۳۸۲.

۲۵ Bachof Otto, Begriff und Wesen des ozialen Rechtstaates, (1954), 39, 43.

ته دنده سپاري چې د قانون په چوکاټ او ملي ګټو ته په پام سره په اقتصادي چارو کې مداخله وکړي. د دغه دولت تو پير د توتاليتر او ليبرال دولتونو سره په دې کې دی چې توتاليتر دولتونه د ځانګړو طبقو د خلکو د ملکيتونو په مصادره کولو او د هغو د سلبولو او په ټولنه کې د برابرۍ او مساواتو پر مسله هم تميزي او ليبرال دولتونه هم په اقتصادی چارو کې مداخله نه کوي او په دې باور دي چې د ادم سميت په وينا نا مريي لاسونه د اقتصادی پوهې سره اقتصاد ته انډول وربخښي. خو د ټولنيزې هوساينې دولت، د هغو حقوقي باورونو پر بنسټ چې پورته يې يادونه وشوه چې دولت د منځګړی حيثيت لري. د داسې يو منځګړی دولت دنده د مادي، سياسي، او فرهنګي زمينو برابرول او د داسې يوې ټولنې لپاره د شرايطو چمتو کول دي چې هلته انساني ژوند ته لاره برابره شوې وي.

خو د ټولنيز عدالت په تعريف کې ستونزې او د دغې مادې په متن کې د ناروښتيا له امله په کار ده چې دغه ماده هم د قانون د ارماني مادو په نوم ياده شي. په بله وينا دغه ماده د قانون په ارمانونو ورګډيږي. په دغسې حالاتو کې د مثال په توګه يو کس نه شي کولای د ټولنيز عدالت په نه ټينګښت کې د دولت په وړاندې د اقامې دعوی وکړي. د قانون اجرايوی واقعيت او ريښتينولي د نړۍ د ډيرو هيوادونو په دولتونو کې داسې ده چې په يوې حوزه کې ګډې انتزاعي موخې د قانون ارزښتونه يا نورماتيف ارزښتونه پخپله قانون ګرځي.

دولت مکلف دی چې وړو انسانانو، معلولينو او بيوزلو ته د ژوندانه داسې شرايط برابر کړي چې د هغوی انساني کرامت زيانمن نه شي. دغه ورکړل شوې موخې دولت مکلفوي چې د ټولنيز امنيت او سيستمونه داسې برابر کړي چې خلک په ټولنيز ژوندانه کې د برخې اخيستنې چانس ولري او هيڅوک د لوږې او ټولنيزې بيوزلۍ له امله په سياسي، ټولنيزو او فرهنګي برخو کې له ګډونه محروم نه شي. د دغه مکلفيت موخه دا ده چې ډيموکرات دولت د قانون له مخې د خلکو ټولنيز عدالت او امنيت په اړه مسوول دی. د دغو موخو د ترسره کولو لپاره دولت مکلف دی چې لازم قوانين وضع او لازم ګامونه پورته کړي. د ټولنيزو مرستو قانون لکه بيمه، د زده کړو او يا تقاعد حق او يا لږ تر لږه د انسان د ژوندانه لپاره او د داسې نورې ټولنيزې چارې د دولت دندې دي. له دې امله د قانون ټينګار د ټولنيز عدالت پر پلي کولو د قانون پر بنسټ د دولت د نورمونو د بشري حقونو رعايتول د خلکو حقونو ته پاملرنه او د انساني کرامت د اساسي قانون ارمانونه جوړوي.

## بشري حقونه او انساني کرامت

د انساني کرامت خونديتوب، د بشری حقونو پالنه هم په همدغه ماده کې د اساسي قانون د اهدافو او يا په بله وينا د افغانستان د دولت له موخو او ارمانونو څخه دي. د اساسي قانون په اوومه ماده کې راغلي: "دولت د ملګرو ملتونو د {سازمان} منشور، نړيوال تړونونه او ميثاقونه چې افغانستان له هغو سره تړاولري او دا يې هم ويلي چې افغانستان به د بشري حقونو نړيواله اعلاميه مراعتوي."[۲۲] د دغې مادې د تحقق لپاره افغانستان ډيرې ستونزې ګاللي دي. لومړی د افغانستان يو ځای کيدل د نړيوالو تړونونو او معاهدو سره د دې لامل ګرځي چې افغانستان ارو مرو دغو اعلاميو ته غاړه کيږدي. دغه حقوقی اصل د مناقشې وړ نه دی، که يو هيواد د نړيوالو حقوقو الزام او تګلارو ته غاړه ږدي، نو ورسره دا مکلفيت يې هم جوړيږي چې هغه رعايت کړي.افغانستان په تيرو حکومتونو اود اسلامی حکومت په دوران کې د ځينو نړيوالو ميثاقونو له هغې ډلې له بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې سره يو ځای شويدی. د نړيوالو ميثاقونو سره يو ځای کيدل د حقوقی پلوه په دې معنا دی چې له دغو ميثاقونو سره يو ځای کيږي مکلف دي چې خپل قوانين د دغو ميثاقونو سره همغږی کړي. په بله وينا دا يو منل شوی حقوقي اصل دی، کله چې يو دولت د نړيوالو الزام راوړونکو تړونونو سره يو ځای کيږي نو نړيوال حقونه پر ملي هغو برتري لري او دولت مکلفوي چې خپل قوانين د نړيوالو قانوني حکمونو او تړونونو سره چې تړلي اصلاح کړي.

خو په افغانستان کې په عملی توګه داسې څه هم شوي چې دولت د دغو ژمنو په تر سره کولو کې له ستونزو سره مخامخ شويدی. د بيلګې په ډول د ښځو په وړاندې د زورزياتي د منع کولو په قانون کې افغانستان د ځانګړو ستونزو او سياسي ټکرونو سره مخامخ شو، هغه ستونزې چې لا هم روانې دي.

زه د داسې خبرو اترو شاهد وم چې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د نفي کولو په اړه له نړيوالو تړونونو سره زموږ د هيواد د يو ځای کيدو پر سر د نافذو قوانينو پرسر خبرې کيدې. د دغو ځينو خلکو استدلال دا و چې زموږ د اساسي قانون پر پلي کيدو د څارنې او نظارت واک لري، همدا و چې د نړيوالو معاهدو مراعتول د الزام په توګه د ملي واکمنۍ له اصل سره په ټکر کې دي او دا په داسې حال کې ده چې د نړيوالو اړيکو تنظيمول او د نړۍ سره په حقوقی معاهدو کې ښکيلتيا د اساسي قانون د اوومې مادې يو اصل او هغه هم يو جوړښتی اصل ګڼل کيږي. د همدغې تيروتنې له مخې او چې د مثال په ډول د هغو تاجکستانی بنديانو چې د يو تړون له مخې د ليږد د معاهدې پر بنسټ چې محکومان دي افغانستان ته وسپارل شي، د هيواد پر اساسي قانون د څارنې او نظارت د کميسيون

۲۲ د افغانستان اساسی قانون ۷ ماده، ۱۳۸۸.

یو تن چارواکي ویل چې د افغانستان ولسمشر کولای شي که لازمه وګڼي په یو اړخیز ډول دغه کسان وبخښي. هغه د اساسی قانون د څلورشپیتمې مادې اتلسمې فقرې ته اشاره کوله ۲۷. په داسې حال کې چې د دواړو هیوادونود بندیانو د راکړې ورکړې په تړون کې راغلې دواړه خواوې په هغه صورت کې کولای شي محکومین وبخښي چې تسلیمیدونکی اړخ له هغې سره موافقه ولري. د دوو دولتونو تر منځ دوه اړخیزه هوکړه چې ملي واکمني لري د دوه اړخیزې ژمنې د اصولي ژمنو پر بنسټ نړیوال حقوق پر کورنیو حقوقو برتري لري چې دغه څه د اساسي قانون سره اړخ نه لګوي.

خو هغه تړون چې له اساسي قانون سره تناقض ولري لومړی نه ښایي چې حکومت یې لاسلیک کړي، دویمه خبره دا ده که حکومت هغه قرار داد چې د اساسي قانون سره په ټکر کې دی لاسلیک کوي، په کار دا دي چې ملي ستونزو ته پام وکړي، دریمه دا که ملي شورا هم هغه قانون تصویبوي واکمنې اداري چې د هغه د ارزونې یا له اساسي قانون سره د نورو قوانینو د مطابقت واک لري د هیواد د اساسي قانون د یو سل او یوویشتمې مادې له مخې۲۸ په کار دي چې له سترې محکمې مرسته وغواړي. که سترې محکمې دغه قانون له اساسي قانون سره په مغایرت کې وګڼله حکومت صلاحیت لري چې هغه اصلاح او د اساسي قانون سره یې په همغږۍ کې جوړ کړي. او یا دې داسې وشي چې ملی شورا دې افغانستان له هغو معاهدو او تړونونوڅخه وباسي چې دوه اړخیز یا څو اړخیز تړونونه دي، تر هغې پورې چې داسې و نه شي، د افغانستان دولت د ټولو نافذو قراردادونو په مراعتولو ژمن دی.

سره له دې چې د اساسي قانون شپږمه ماده "د بشري حقونو ملاتړ" د افغانستان د دولت یوه موخه بولي او په اوومه ماده کې دولت په دې مکلفوي چې دغه حقونه مراعت کړي، خو د دغو مادو په تعبیر او تفسیر کې د نظرونو جدی توپیر لیدل کیږي. طبیعي خبره ده چې له حقوقي نظره د بشري حقونو د "ملاتړ" او "رعایت" تر منځ توپیر شته. سره له دې چې د بشري حقونو اعلامیه د نړیوالو کنوانسیونونو هغه برخه ده چې ژمن هیوادونه یې په مراعتولو هغسې چې ژمن دي، نه دي ؛ خو که کوم دولت پخپله خوښه ځان د هغو په مراعتولو مکلف ګڼي، نو په هغه وخت کې یې رعایتول الزامي دي. خو که یو دولت یوازې د هغو په منلو یا ملاتړ بسنه کوي، نو د هغه د حقوقی الزام د رعایتولو یا نه رعایتولو د نړیوال حقوقي پلوه توپیر لري. په دې دلیل چې افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې د بشری حقونو نړیواله اعلامیه یې لاسلیک کړې او هم په دې دلیل چې د هیواد د اساسي قانون شپږمه ماده دولت "د بشری حقونو په مراعتولو " مکلفوي او په قانون کې هم داسې قید نه دی راغلی چې دولت دې د هغه په ځینو برخو او یا په ټوله کې مکلف شي نو له دې امله افغان دولت د بشری حقونو د نړیوالې اعلامیې په رعایتولو مکلف دی.

په افغانستان کې د بشری حقونو د رعایتولو په برخه کې د دغو حقوقو پر سر زموږ د هیواد د متخصصینو تر منځ ژور او جدی د نظریاتو توپیرونه لیدل کیږي. د نظرونو دغه توپیرونه د اساسي قانون د دریمې مادې او د بشري حقونو چې د بشری حقونو په نړیواله اعلامیه کې راغلي بیلابیلې انګیرنې کیږي.د اساسي قانون دریمه ماده وایي "په افغانستان کې هیڅ {قانون} نه شی کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو او معتقداتو مخالف وي." ۲۹ د افغانستان یو شمیر حقوق پوهان او عالمان او د نورو اسلامي هیوادونو عالمان په دې نظر دي چې د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ټولې هغه خواوې رانغاړي چې له اسلام او اسلامي احکامو سره تناقض لري. پر دې دلیل د بشری حقونو له نړیوالې اعلامیې سره د افغانستان ژمنه هغو خواو ته ورستنیږي چې د اساسي قانون له دریمې مادې سره اړخ نه لګوي. د هیرارشي له نظره حقوقي (د مراتبوسلسله) که اسلامي زده کړې او د بشري حقونو نړیواله اعلامیه یو له بل سره په تضاد کې وي د افغانستان د اساسي قانون د تدقیق د برخې د چارواکو په نظر، بیله شکه چې پر اوومه ماده برتري لري. (د اساسي قانون د تصویب او تدقیق د کمیسیون مشر پروفسیور نعمت الله شهراني، د دغه متن لیکوال ته وویل چې د اساسي قانون د متن پر سر بحثونو کې تسوید کوونکو ته روښانه وه چې دریمه ماده پر اوومې برتري لري. همدغه مطلب د سترې محکمې پخواني مشر قاضی القصات او د اساسی قانون د تصویب او تدقیق د کمیسیون غړي استاد عبدالسلام عظیمی ما ته یاد کړ.) خو د اسلامي متفکرینو تر منځ اختلاف پر دې دی چې ایا د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د اسلام د دین له احکامو سره په تناقض کې ده او که نه ؟ یو شمیر عالمان په دې باور دي چې د انسانانو تر منځ انډول او برابري چې د هر دین او مذهب پیروان وي هغسې چې د بشری حقونو په نړیواله اعلامیه کې راغلي، د اسلام له روح سره په مغایرت کې ده. په ډیرو اسلامي هیوادونو کې منل شوی او حاکم لیدلوری همدغه شان دی. له همدې امله د اسلامی هیوادونو مشرانو او یو شمیر عالمانو د بشري حقونو اعلامیې ته بدیل لوری ورکړی. زه د دې شاهد وم چې په افغانستان کې یو شمیر هغو کسانو چې د اساسي قانون په تسوید او جوړولو کې لاس لاره، په دې نظر وو چې دغه هیوادونه د بشری حقونو د اعلامیې هغو مادو ته ژمن دي چې د اسلام له روح او په طبیعی توګه د اساسي قانون له دریمې مادې سره په ټکر کې نه وي. لیکونکی د هغو خبرو اترو او بحثونو شاهد هم و چې د افغانستان د عالمانو شورا هم پر همدغې موضوع ټینګار درلود د افغانستان

۲۷ د افغانستان اساسی قانون ۶۴ ماده، ۱۳۸۲.

۲۸ د افغانستان اساسی قانون ۱۲۱ ماده، ۱۳۸۲.

۲۹ د افغانستان اساسی قانون ۳ ماده، ۱۳۸۲.

په ملی شورا کې هم بحثونه پر همدې راڅرخيدل او په دې برخه کې د نظرونو اختلاف ډير ژور و. له دې امله د ځينو خلکو د برداشتونو او انګيرنو له مخې "د بشری حقونو نړيوالې اعلاميې ته درناوی" او د هغې "رعايتول" په دې معنا دي چې د افغانستان دولت د بشری حقونو د اعلاميې ټولې مادې نه رعايتوی. د همدغې انګيرنې له مخې چې په افغانستان کې د ارتداد سزا اعدام ده ؛ په داسې حال کې چې د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې له مخې ديني ازادي يو بشري حق دی. په دې برخه کې د عبدالرحمن د اعدام کيسه ډيره مشهوره ده چې مسيحيت ته اوښتی و او د افغانستان د محاکمو له خوا پر اعدام محکوم شوی و. هغه د ډيرو بهرنيو هيوادونو او د بشري حقونو د سازمانونو په پراخې مداخلې له افغانستان نه ووت او په ايټاليا کې کډوال شو. په دې برخه کې بله پيښه چې ډيرې خبرې يې راپورته کړې د ورځپاڼه ليکونکی پرويز کامبخش مسله وه چې د کفری افکارو او کفری پاڼو د ويشلو په تور په اعدام محکوم شو. کله چې په ملی او نړيواله کچه د هغه د خلاصون خبرې راپورته شوې زه يو له هغو کسانو وم چې د بيشميره دليلونو په ويلو سره چې يو يې په پرويز کامبخش هيڅ ډول ثبوت په لاس کې نه و له زندانه د هغه د خلاصولو پلوی وم. د افغانستان د دولت يو لوړ پوړي چارواکي د افغان ولسمشر په وړاندې راته وويل که دغه مرتد خوشې کيږي زه چمتو يم خپل ځان ووژنم افغان ولسمشر له ډيرو هڅو وروسته چمتو شو چې هغه وبخښي. وروسته بيا موږ د هغو ګواښونو له امله چې د ده په وړاندې پيښ و په افغانستان کې مو د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی (Kai Eide)، په استوګن ځای کې پټ کړ تر هغې چې له څه مودې وروسته د کای ايده په مرسته او همکارۍ وتوانيد د سويډن د بهرنيو چارو د وزير، کارل بيلد ، په الوتکه کې له افغانستان نه ووت. دغه پيښه کای آيده په افغانستان کې د قدرت د مبارزې نومي کتاب کې[۷۰]ياده کړيده.

په دې برخه کې چې د بشري حقونو نړيواله اعلاميه د اسلام له احکامو سره په بنسټيزه توګه تناقض لري، اسلامي عالمان او متفکرين او همدا رنګه اسلامي هيوادونه بيلابيل ليدلوري او تجربې لري. د افغانستان د ښځو د حقونو ډير فعالان او د ملي شورا ځينې غړي د اسلامی ارشاداتو او د بشري حقونو د اعلاميې تر منځ توپير نه ويني. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون له شپږمې او اوومې مادې سره د هغوی انګيرنې هم بيلابيلې دي. په دې معنا چې هغوی د دغو دوو مادو او د اساسي قانون د دريمې مادې سره توپير نه ويني. يو شمير مسلمان متفکرين له هغې ډلې عبدالکريم سروش، محسن کديور،[۷۱] محمد آرکون او ځينی نور هم د اسلام او بشري حقونو تر منځ مغايرت نه ويني. د ترکيې په جمهوريت کې هم همدغه تجربه همداسې ده. په ترکيه کې د بشري حقونو پر ټولو ارزښتونو او اصولو هوکړه شوې چې د هغه هيواد د دولت لپاره الزام منونکی دي. ان تر دې چې د دولت له خوا د دغو حقونو د نقضولو له امله خلک کولای شي د دغه هيواد محاکمو او په ټوله کې د بشري حقونو په اروپايي څانګو کې د دعوې اقامه وکړي. د محکمو حکم او دا رنګه د بشری حقونو د اروپايي څانګې حکم د ترکيې د دولت لپاره الزام راوړونکی دی.

د هغو مرکو په لړ کې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې همکار ښاغلي علی شاه حسن زاده د مدني ټولنې د ځينو فعالينو او د نظر له خاوندانو سره په افغانستان کې د خلکو د ازاديو او حقوقو په تړاو کړي، په هغو کې هم په ښکلا ښکلا ليدلورو کې هم دغه توپير جوت څرګنديږي.

زموږ د هيواد نوموتی ديني روڼ اندی محمد محق، زما د ځينو پوښتنو په ځواب کې د بشري حقونو او يا د ښځو د حقونو په اړه د اسلام ليدلوري په رالېږل شويو پوښتنو کې داسې ځواب کړيدی، هغه وايي:

"د نظر د ډيرو خاوندانو په باور هغه څه چې نن د بشري حقونو او نړيوالو ميثاقونو په نامه پيژندل کيږي، دا هماغه څيزونه دي چې شريعت يې د تحقق لپاره ځيني شيان په نظر کې نيولي وو له دې نظره د دوی تر منځ تناقض نه ليدل کيږي. " (شيخ محمد غزالی، حقوق الانسان بين تعاليم الاسلام و اعلان الامم المتحدة).

"د شريعت د دغه ليدلوري له مخې چې د دين يوه برخه ده، او دا هغه حقوقي تګلاره ده چې د دين په ټوليزو هدفونو کې ځای لري. د دين ټوليزې موخې د اخلاقي ارزښتونو تحقق دی، او د اسلامي اخلاقي منظومې په منځ کې درې ارزښتونه: ازادي، عدالت او برابري هغه ارزښتونه دي چې د ارزښتونو بنسټونه جوړوي. د توحيد مسله د ځينو مسلمانو پوهانو له نظره په انسانانو کې د هر ډول تبعيض، د هغوی تر منځ انډول او برابري او د مريي توب او بنده ګۍ له هر ډول کړۍ څخه د هغوی خلاصون دی. "[۷۲]

د الازهر د پوهنتون فارغ ډاکټر عبدالروف هروي وايي: "هغسې چې د افغانستان په اساسي قانون کې د خلکو حقونه تسجيل شوي، د دولت له خوا يې ضمانت نه دی شوی. عدلي، قضايي او تنفيذي څانګې نه دی توانيدلي چې قانون په سمه توګه پلی کړي. همدا رنګه د

۷۰ Kai Eide,Power Struggle over Afghanistan,(New York, 2012.)

۷۱ محسن کديور،حق الناس، (تهران، ۱۳۸۳)، ۱۲۳-۸۵.

۷۲ محمد محقق، د هغه شخصي نظر، ۲۷ سپتامبر ۲۰۱۴.

قانون نه حاکمیت او له قانونه نا سم پوهاوی هغه نور لاملونه دي چې د خلکو د حقونو نقضولو ته یې لاره هواره کړیده. د بېلګې په ډول که څوک د ارتداد په اړه خبرې کوي او یا هم د دین په تړاو بحث کیږی په مرتد محکومیږي په داسې حال کې چې قانون د اجازې دا حق ورکړیدی. مقدسات زموږ د خپل لاس جوړونه ده او په دین کې حقیقی جنبه نه لري. داسې توجیه کیږی چې د دین ضد و په داسې حال کې چې دا هغه دودونه دي چې پخپله بشر جوړ کړیدي او باید له دین څخه بیل شي. مثلا عبدالرحمن چې قرآن یې ژباړلی ولې باید محاکمه شي او په کوم جرم. په قرآنکریم کې د ارتداد په تړاو حکم نه شته او یوازې په حدیث کې یې یادونه شوې. اسلام د جبر دین نه دی لکه څنګه چې د لا اکراه فی الدین په ایت کې فرمایي چې په دین کې هیڅ جبر نه شته. "[۷۳]

په داسې حال کې چې د نړیوالو اړیکو په برخه کې ډاکټر او د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي استاد سید راتب مظفري له حسن زاده سره په شوې مرکه کې په دې باور دی چې: "د افغانستان د اساسي قانون دریمه او اوومه ماده سره ټکر لري. زموږ د نظام بنه اسلامي جمهوریت دی او د نړیوالو میثاقونو او منشورونو سره په تعارض کې دی. مثلا د ښځو حق. د حل لاره دا ده چې باید د اساسي قانون دریمه او اوومه ماده تعدیل شي. باید د اساسي قانون متن تعدیل شي او یا د ترکیبي په شان یو مختلط سیستم جوړ شي. که څه هم چې هلته لا تر اوسه دغه څه په سمه توګه نه دی راغلي او د ټولنې په متن کې هم دغه ستونزه نه ده حل شوې. "[۷۴]

د کابل امریکایي پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځی استاد محمد اسحاقزاده، هم وایي چې د اساسي قانون دریمه او اوومه ماده پخپلو کې سره په تضاد کې دي.[۷۵] هماغسې چې پورته ورته اشاره وشوه د بشري حقونو او د اسلام د دین د اصولو تر منځ یووالی هغه بحث دی چې په تیوری او عمل کې سره د مسلمانو پوهانو تر منځ د ژور اختلاف سبب ګرځیدلې.

د دغې انګیرنې مقابل لوري ته د ښاغلي عبدالرحمن سعید موضوع پرته ده. هغه وایي چې "زه د اساسي قانون د دریمې او اوومې مادې تر منځ کوم تناقض نه وینم. " هغه په دې باور دی چې "په اوومه ماده کې د رعایت قید د اجبار په معنا نه دی. "[۷۶]

## د افغانستان د خلکو د حقونو انډول

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون په دویم څپرکي کې د خلکو حقونه او وجایب په په اووه دیرشو مادو کې له دوه ویشتمې مادې وروسته تدوین شوی دی. دوه ویشتمه ماده وایي: "د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقونه او وجایب لري. "[۷۷]

د وګړو د حقونو تر منځ انډول د افغانستان د اساسي قانون یو له بنسټیزو اصولو څخه دی او د دولت بنسټیز رکن جوړوي. د خلکو تر منځ د حقوقو د برابری موخه چې تبعیض هم په کې نه وي دا ده چې له یوې خوا قانون پر خلکو یو شان پلی کیږی، او له بله پلوه خلک یو تر بله د برابرو حقونو لرونکی دي. د قانون پر وړاندې برابري له عملی پلوه په دې معنا ده چې قانون پرته له دې چې د چا موقف او مقام په پام کې ونیول شي او یا هم د چا ټولنیز ځای ځایګی، پر ټولو یو شان د تطبیق وړ دی. دا رنګه دا معنا هم ترینه اخیستلای شو چې هیڅ دولتي اداره نه شي کولای چې د قانون د پلي کیدو پر مهال د چا ګټې یا زیان ته وګوري. د محتوی له پلوه د خلکو برابري په دې معنا ده چې حقوقي یا قانوني اصول د یو دستور درلودونکی وي یعنې داسې حکمونه لکه:داسې یو کار جواز نه لري او یا هغه کار جواز لري او په دې دلیل چې د قانون بل لوري ته دولت او خلک دي نو په دې اساس خلک او د افغانستان دولت، نو قانون باید له تبعیض یا امتیاز پرته پر ټولو یو شان تطبیق شي. په بله وینا د خلکو ټولنیز ځای ځایګی یا د خلکو تر منځ د امتیاز او تبعیض مسله د قانون د پلي کولو په بهیر کې ورګډ نه شي. د قانون پر وړاندې برابري د حقوقي محتوی له مخې په دې معنا ده هر هغه څه چې سره برابر دي نه شي کیدای په نا برابره توګه ورسره معامله وشي. مثلا یو کس په دې دلیل چې ډیره شتمنیي یا لوړې زده کړې لري د رای ورکولو حق دې ولري او هغه بل چې شتمن نه وي او یا زده کړې یې کمې وي، نو له دې حقه دې محروم پاتې وي او یا شتمن کس چې کوم جرم تر سره کړي هغه دې د قانون له پلي کولو په امان کې وي او هغه بل چې ټولنیز موقف یې کمزوری دی تر پوښتنو او ګرویږنو لاندې دې راوستل شي.

د قانون پر وړاندې د خلکو حقوقی برابري د دې سبب ګرځي چې د یو هیواد خلک د قانوني مسایلو اړوند د برابرو حقونو او وجایبو لرونکي دي. په بله وینا د قانون پر وړاندې حقوقي برابري د نورو برابریو سرچینه ده.

۷۳ ډاکتر عبد الرؤف هروي، (د افغانستان دعدلیې وزارت د حقوقو د څانګې مشر) شخصي نظر، ۷ سپتامبر ۲۰۱۴.

۷۴ سید احمد راتب مظفري، (په نړیوالو اړیکو کې پروفیسر، د کابل د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد ) شخصي نظر، ۱۳ سپتامبر ۲۰۱۴.

۷۵ محمد اسحاقزاده، (په کابل کې د امریکایي پوهنتون د سیاسي علومو د څانګې استاد ) شخصي نظر، ۲۰ سپتامبر ۲۰۱۴.

۷۶ لطف الرحمن سعید، شخصي نظر، ۲۳ سپتامبر ۲۰۱۴.

۷۷ د افغانستان اساسی قانون ۲۲ ماده، ۱۳۸۲.

## د انتخابولو او انتخاب کیدلو حق

د اساسي قانون دری دیرشمه ماده وايي: "د افغانستان اتباع د انتخابولو او دانتخابېدلو حق لري"[۷۸] دغه ماده د خلکو د برابرۍ له مادې سره تړلې ده. د برابرو رایو حق ټولو خلکو ته په ټوله کې د هغې حقوقي فلسفې ځنې سرچینه اخلي چې په قانون کې ورته اشاره شوې. دغه اصل د ټولنیز عدالت له اصل سره هم یو جوړښتي تړاو لري. د ټولنیز عدالت یو بنسټیز تعبیر دا دی چې د خلکو د ټولنیز، سیاسي او فرهنګي ژوندانه لپاره د ګډون ښه فرصتونه برابر شي.

د قانون پر وړاندې برابري په سیاسي پریکړو کې هم محافظتي لاسته راوړنې هغو خلکو ته ورکولای شي چې د هغه د تطبیقولو په تړاو یې لري.

## د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق

د اساسي قانون د پنځه دیرشمې مادې دویمه فقره وايي: "د افغانستان اتباع حق لري، چې د قانون له احکامو سره سم سیاسي ګوندونه جوړ کړي. "[۷۹]له حقوقی پلوه د سیاسی ګوندونو جوړونه د خلکو د خپلې خوښې ټولنې جوړول دي چې د اوږد مهاله سیاسی فعالیتونو لپاره جوړیږي او غړي یې د سیاسي ځانګړو موخو لپاره کار کوي.[۸۰] د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق په اساسي قانون کې د یو قانوني بنسټ په توګه د یو ګوند ارتقا او پرمختګ دی. د اساسي قانون په اډانه کې د یو ګوند ارتقا دغه بنسټ پر دې مکلفوي چې د خپلو ګوندي فعالیتونو په لړ کې د افغانستان اساسي قانون رعایت کړي. د خلکو لپاره د سیاسی ګوندونو د جوړولو حق په دې معنا دی چې په هغه کې د برابرۍ له مخې که کوم سیاسی ګوند په ټاکنو کې د خلکو اکثریت خپل کړي نو نه ښايي چې هغه ګوند له دې امله چې اکثریت یې ګټلی د نورو هغو ګوندونو حقونه چې په اقلیت کې دي سلب او یا نقض کړي. د اقلیتونو د حقونو ساتنه د اکثریت په مقابل کې د حقوقی برابریو یو اصل ګڼل کیږي په یوې ډیموکراسۍ کې سیاسي ګوندونه یو لړ ځانګړي مسوولیتونه او دندې لري.

سیاسي ګوندونه د خلکو د افکارو او رایو د بیانولو او هغوی ته د سیاسي زده کړو او د عامه افکارو په اغیزمنولو کې فعالیت کوي. سیاسي ګوندونه د سیاسی ارګان په توګه خلک د ملی شورا او یا له هغې نه د باندې او د سیاسی واکو د ترلاسه کولو لپاره زیات اغیز لري. سیاسی ګوندونه په سیاسی نظامونو کې د خلکو له ګټو دفاع کوي او په سیاسی او قانوني بنسټونو کې د برخې اخیستنې له لارې د هغوی د غوښتنو د تر سره کولو په چاره کې هلې ځلې کوي. په بله وینا سیاسي ګوندونه له یوې خوا په سیاسي نظامونو کې د خلکو د ګډون لپاره زمینه برابروي او له بله پلوه د هغوی د سیاسي پوهې په لوړولو کې زیارباسي. له شک پرته هر سیاسی ګوند د خپلو موخو او تګلارو د عملی کولو لپاره د واک د ترلاسه کولو په لټه کې وي. په تمثیلی ډیموکراسۍ کې تر ډیره سیاسی ګوندونه سیاسي واکې ترلاسه کوي، او د خلکو په استازولۍ سیاسي واکمني ټینګوي.

## د قانون ټولنیزه پراختیا او د تبعیض منع کول

د اساسي قانون مادې د یو لړ قیدونو او د خلکو د حقونو او ازادیو لپاره واټن ټاکي. د مثال په توګه کله چې په قانون کې د حقوقو او ازادیو خبره د خلکو یا (شهروند ) او یا د افغان له پیلیږي، ښکاره خبره ده چې په دغسې مادو کې د حقوقو خاوندان د افغانستان خلک دي. انسانان له دغې حوزې د باندې نه شی کولای د دغې مادې له احکامو ګټه پورته کړي. د افغانستان د اساسي قانون او د ډیموکراتیکو انګیرنو له مخې قانون له نژادي، ژبني، جنسیتی او یا بل هر ډول تبعیض څخه پر ته، د افغانستان پر ټولو خلکو یو شان تطبیقیږي. له همدې امله د حقوقو او امتیازاتو محدودول د دیني یا جنسیتی مسایلو په دلیل د دولت بنسټیز اصل چې هغه د ټولو خلکو د حقوقي برابرۍ مرجع ده ټکنۍ شي.

د اساسي قانون دریمه ماده په دې یادښت سره چې، "د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی"، پیلیږي. دغه ماده په دودیزه (نورماتیف) توګه د ملي ټولنې ساحه رانغاړي؛ چې دا په ټولنه کې د استوګن مسله هم په بر کې نیسي. د دغې مادې پر بنسټ د تبعیض منع کول د دولت هغه هیله ده چې د تر سره کولو لپاره یې له هرې وسیلې کار اخلي. دلته قانون د ټولنې یو تریخ حقیقت ته ځیر دی. د نابرابرۍ او تبعیض قانون د ټولنې پر وړاندې د جنسیتي یا دیني تړاوونو له مخې پیژندل کیږي او دولتي ادارو ته دنده سپاري چې لومړی دا ډول تبعیضونه کولای شي د خلکو د حقوقي برابریو لپاره د زمینو برابرولو سبب شي. د تبعیض منع کول د توپیر

---

۷۸ د افغانستان اساسی قانون **۳۳** ماده، ۱۳۸۲.

۷۹ د افغانستان اساسی قانون **۳۵** ماده، ۱۳۸۲.

۸۰ Jörn Ipsen , Staatsrecht II, 17 (München, 2014), 16.

نشتوالی د دوو عاملو له حقوقي لحاظه برابر دي. کله چې د افغانستان د خلکو په منځ کې د "هر ډول تبعیض او امتیازاتو" د ممنوعیت خبره کیږي معنا یې دا ده چې د دوی په منځ کې د تبعیض او امتیاز خبره نه شته او د دغې مادې د حکم له مخې هر ډول زیان چې د دولت له خوا رسیږي د هغه حراست باید وشي.

په همدې تړاود خلکو د حقونو د برابرۍ او له تبعیضه د لرې والی په اره د اساسي قانون په دوه ویشتمه ماده کې داسې راغلي:

"د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی."

"د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقونه او وجایب لري."[81]

که څه هم چې د قانون په وړاندې د ښځو او نارینه و برابري، د افغانستان په پخوانیو اساسي قوانینو کې هم تسجیل شوې وه، خو په نوی اساسي قانون کې د زیات ارزښت وړ خبره ده. دغه قانون له یوې دورې وروسته چې په هغې کې د ښځو ټول حقه حقونه د طالبانو د واکمنۍ پر مهال سلب شوي وو په داسې یو چاپیریال کې تدوین شو چې د نارینه و سره د ښځینه و د حقونو د برابرۍ مخالفان د سیاسي او ټولنیز په شا تګ سره مخامخ وو او په دې دلیل چې د ښځو په وړاندې یې ظلمونه او ستمونه کړي وو په اخلاقی لحاظ ډیر سرټیټي وو. هغه څه چې د دغې مادې په عملي کولو کې د ارزښت وړ دي سیاسي او ټولنیز ژوندانه ته د هیواد د ښځو پراخه ستنیدنه ده. دغه ستنیدنه ان له هغه څه زیاته وه چې اټکل یې کیده. د سیاسی او مدني نړیوالو نورمونوله مخې د ښوونې او روزنې په اړه د ډیرو ښځینه و برخمن کیدل، له رسنیو د ډیرښت سره هم مهاله او د بشري حقونو د ټولنو جوړیدنې د دې سبب شوې چې د ښځو غوښتنې له پخوا ډیرې مطرح شي. خو له یاده باید و نه باسو چې په کډوالۍ کې د ښځو تجربې او د هغوی د پوهاوي د کچې لوړیدو هم په دغې برخه کې ونډه لرلې ده.

د برابرۍ غوښتنې تګلاره بیله شکه چې د ښځو لپاره د برابرو حقونو خبره هغه څه دي چې نن سبا د افغانستان په ملی شورا کې پنځه ویشت سلنه ښځې شته چې دا زموږ په هیواد کې د ښځینه حقونو د برابرۍ ښه بیلګه ده. دا هغه څه و چې په ټولنه کې د چارو سموونکي هم د دغې برابرۍ منلو ته چمتو شول.

له بله پلوه له نارینه و سره د ښځو د برابرۍ موضوع له یو څه مودې وروسته د محافظه کارو کړیو غبرګونونه هم راوپارول. دغه غبرګونونه د ډیرو محافظه کارانه دیني ویناو او نورو لارو چارو پر مټ بیانیږي. دغسې غبرګونونه په هغو میرمنو په وړاندې زیات کیږي چې یا په رسنیو او یا فرهنګي ټولنو کې کار کوي. چې په پایله کې یې په ټولنه کې تر ډیره واکې د نارینه و په لاس کې لویدلي، دغه څه په تاوتریخوالي هم اوښتي، د نجونو په ښوونځیو کې د اوبو د زهري کولو نه واخله د هغوی پر مخونو د تیزابو پاشل او د پټ په نامه وژنې او د هغوی د غړو او اندامونو پرې کونه ټول هغه غبرګونونه دي چې د اساسي قانون د دوه ویشتمې مادې پر وړاندې تر سره کیږي. افغاني ټولنې له ښځو نه د غچ اخیستنې او له هغوی سره د زورزیاتي ډیرې نادودې ننداري ته وړاندې کړې. خو له غو ټولو سره، سره هغه پرمختګونه او سترې لاسته راوړنې چې په وروستیو کلونو کې تر لاسه شوي د پام وړ دي.

زه په دې برخه کې د ډیرو بحثونو شاهد وم چې د افغانستان یو شمیر لوړپوړي چارواکي او د عالمانو شورا د ښځو او نارینه و تر منځ د برابرۍ مسلې ته د شک په سترګه کتلي دی. کله چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منع کولو قانون د ولسمشر په تقنیني فرمان کې توشیح شو، ټول خلک د هغو کړیو غبرګونونو ته په اندیښنه کې وه چې یو شمیر ځانګړې کړې یې په اړه څه ډول غبرګون ښیي؟ کله چې د قانون له غوښتنې سره سم باید دغه قانون د تصویب لپاره ملي شورا ته استول شوی وای زه د ښځینه غورځنګونو او د بشري حقونو د ډیرو هلو ځلو شاهد وم چې څنګه کیدای شی په ملی شورا کې د دغه قانون د ردیدو او توقف مخه ونیول شي. له ډیرو هڅو سره، سره چې کله وکتل شو چې د ډیرو غړو له خوا ښایي دغه قانون رد شي، بالاخره دغه متن د ولسی جرګې له اجندا نه وایستل شو.

ډاکټر هروي چې پخپله یو تحصیل کړی مسلمان دی له حسن زاده سره یې په مرکه کې وویل:

"د ښځو پر وړاندې د زورزیاتي د قانون مسوده د ښځو چارو د وزارت له خوا چمتو شوې وه چې د عدلیې وزارت هغه د اسلامي شریعت سره همغږې بللې وه. خو زما له نظره دغه قانون خپلې نیمګړتیاوې هم لري او په کار دي چې د دویم ځل لپاره هم وارزول شي. کله چې موږ غواړو د قانون یوه مسوده جوړه کړو باید دا لاندې ټکی په نظر کې ولرو: لومړی دا چې دغه قانون باید د افغانستان د خلکو له دود دستور سره برابر وي په داسې حال کې چې دغه قانون برابر نه دي، دویم دا چې دغه قانون باید د یوې کورنۍ د هوساینې اوبلې کورنۍ د ګډوډولو لامل نه شي، بلکې پر ځای یې د ټولنې ستونزې باید غوڅې کړي چې دغه قانون داسې څه وړاندیز نه لري، مثلا که یو نارینه د خپلې ښځې د خپګان سبب ګرځي باید درې میاشتې بندي شي چې په دې توګه د یوې کورنۍ هوساینه له منځه ځي. بله دا چې د قانون مواد د مدنی حقونو سره په تضاد کې نه وي، په داسې حال کې چې د دغه قانون له مخې هر هغه نارینه چې دویمه ښځه کوي باید بندي

81 د افغانستان اساسی قانون، ۲۲ ماده، ۱۳۸۲.

شي چې د افغانستان د مدني حقوقو سره په ټکر کې خبره ده. دا رنګه هيڅ قانون بايد د اسلامي شريعت سره په تضاد کې نه وي، چې د دغه قانون ځيني مادې همداسې دي. زه فکر کوم د دغه قانون د مسودې په جوړولو کې د بهرنيانو فشارونه بې اغيزې نه و. تاوتريخوالی که د هر چا پر وړاندې وي هغه که نارينه وی او که ښځينه. زما وړانديز دا دی چې دا ځل د ښځو چارو وزارت د مدني بنسټونو، سترې محکمې، اکاډيميکو خلکو او مذهبي بنسټونو په مرسته داسې يوه مسوده جوړه کړي چې د هيواد له دودونو او نافذه قوانينو سره په ټکر کې نه وي دغه قانون نه ښايي هغسې چې دی بايد خپل پراوونه ووهي."[۸۲]

مدافع وکيله ميرمن نجلا راحل په هغې مرکې کې چې له ښاغلي حسن زاده سره يې کړې په ښکاره توګه د هغه تناقض په اړه غږيږې چې د اسلام او له ښځو سره د تاوتريخوالي د منع کولو په قانون کې راغلي، هغه وايي:

"دا چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالی د منعې قانون له اسلامي ارزښتونو سره همغږی دی که نه، دغه قانون له تشو او نيمګړتياو خالي نه دی، خو نه هغه شان چې په پارلمان کې پرې خبرې وشوې.... نه هغسې په افراطي بڼه او نه هم داسې تفريط چې د ښځو سره د زورزياتي د منعې په قانون کې راغلي هر چا چې خپله ميرمن وډبوله نو بايد بندي شي، په داسې حال کې چې اسلام وايي کله که يو ميړه خپله ميرمن وهي او په هغه کچه يې نه وي وهلې چې نښې نښانې يې پر بدن نه وي پاتې شوي، د سزا وړ نه دی، چې دلته دواړه سره تناقض لري. مثلا د زياتو ودونو کول هغه څه دي چې په قرآن کې نارينه و ته اجازه ورکړل شوې، د دغه قانون له مخې کله چې نارينه د يوې ښځې د پاسه بل واده کوي او د مدني قانون ۸۲ او ۸۹ مادې په پام کې و نه نيسي، نو سزا ورکول کيږي، چې دا هم لانجمنه مسله ده. په داسې حال کې چې ښځه کولای شي په دغسې حالاتو کې د ضرر له امله د تفريق غوښتنه وکړي."[۸۳]

## د ازادی حق او پولې

د اساسي قانون څليريشتمه ماده وايي:

"آزادي د انسان طبيعي حق دی. دغه حق د نورو له ازادياو له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لياري تنظيميږی حدود نه لري".

د انسان آزادي او کرامت {له} تيري خوندی دي. دولت د انسان د ازادی او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی".[۸۴]

په دغې ماده کې څو مطلبه د پام وړ دي. لومړی دغه نړيوال اصل چې "آزادي د انسانانو طبيعي حق دی." آزادي د اساسي قانون له مخې يوازې پر افغانانو يا مسلمانانو پورې نه منحصريږي. آزادي د ټولو انسانانو طبيعی حق دی ؛ له دې امله دغه ماده ازادي د نړيوال حق په توګه په رسميت پيژني. په تيره ماده کې د افغانستان د اوسيدونکو خبره ياده شوه. په دې معنا چې په تيرې ماده کې داسې امتيازات شته، چې يوازې د افغانانو لپاره دي او يا دا چې داسې هم کيږي چې د افغانانو او د نورو هيوادونو د اوسيدونکو سره په چلند کې توپير ليدل کيږي. خود ازادی حق د انسانانو طبيعی حق دی او د انسان قيد د نورو هيوادونو له اوسيدونکو سره خاص توپير نه لري. له دې سره، سره چې ازادي پوله نه لري، دولت نه شي کولای پخپله خوښه د خلکو ازادي محدوده کړي، له دغې حوزې نه د دولت بهر پاتې کيدل دي چې دغو حقونو ته يې نړيواله بڼه ورکړيده. ددغه حق د ولس له حقونو سره توپير په دې کې دی چې دويم يې يوازې د يو هيواد اوسيدونکو ته ځانګړی شويدی. خو د خلکو د بنسټيزو ازاديو په برخه کې دولت يوازې د هغوی طبيعي ازادی محدودولای شي چې دغه محدوديت د ټولنې د نيکمرغی. او د ټولنې د ټولو خلکو لپاره د ازادی ضمانت کوي.

کله چې د ازادی خبره کيږي طبيعي خبره ده چې په اړه يې بيلابيلې اخيستنې شته. خو ازادي هغسې چې دلته د پام وړ ده، "د هر هغه کار توانايي ده چې نورو ته په کې زيان و نه رسيږي. نو له همدې امله د طبيعي حقونو د اجرا کولو په برخه کې د هيچا لپاره هم پوله نه لري، خو هغه حدود چې له حقونو نه د ګټې اخيستنې په برخه کې نورو ته زيان و نه رسوي. نو له دې امله د هيڅ يو کس د طبيعي حقونو په اجرا کې سرحد او پوله نه شته، مګر هغه حقونه چې د ټولنې د ټولو وګړو لپاره تضمين شوی وي، دغه حدود او پولې يوازې قانون تضمينولای شي."[۸۵]

د اساسي حقوقو يوه برخه هغه وسيلې دي چې يو هدف ته د رسيدو لپاره کاريږي. مثلا د کار کولو حق د دې لپاره چې په قانون کې تضمينيږي چې انسان وتوانيږي له انديښنو پرته هغه ته لاسرسی ولري. خو د دې لپاره چې ازادي د خلکو او ټولنې د نيکمرغۍ سبب

۸۲ هروی، شخصی نظر، ۲۰۱۴.

۸۳ نجلا راحل، شخصی نظر، ۱۰ سپتامبر ۲۰۱۴.

۸۴ د افغانستان اساسی قانون ۲۴ ماده، ۱۳۸۲.

۸۵ د بشري حقونو اعلاميه تصويب شوې په کال ۱۷۸۹ اګست مياشت د فرانسويان د موسسانو مجلس، http://www.aihrc.org.af (د سپتامبر مياشت کال ۲۰۱۴ ته دې کتنه وشي).

ګرځي، او ازادي يو ارمان او هدف دی. له دې امله هغه انسان چې له خپله حقه ګټه اخلي. انسان له ازادۍ څخه ګټه پوره کوي، په دې دليل چې دغه برخه د انسان له هستۍ نه بېليدونکې ده. د ازادۍ اصل د يو هدف په ډول د انسان دفاعي حق د دولت او نورو زورواکو د مداخلې مخه نيسي. له يوې خوا که د انسان ازادي هغه ته دا حق ورکوي او هر کار چې غواړي تر سره يې کړي تر سره کولای يې شي،او له بله پلوه هغه اصل چې وايي "انسانی کرامت له تعرضه خوندی دی"، انسان ته دا حق ورکوي چې د دولت له هر ډول تيري نه په امان کې وي.

د ازادۍ له حقه او انساني کرامته نورې ازادۍ هم تر لاسه کيږي لکه د خلکو د خصوصي حريم ازادي، د خود مختارۍ حق او يا له اطلاعاتو ګټه اخيستنه يا ليکل، ويل او داسې نور.... د ازادۍ له حقونو او انسانی کرامت څخه ملاتړ د نورو انساني حقونو سرچينه اخلي. لکه د خلکو د خصوصی حوزې څخه ملاتړ، د خود مختارۍ حق او يا هم د اطلاعاتو او د هغو د راکړې ورکړې، ليکنو، ويلو او د خلکو د خصوصي ازاديو له مخې پېژندل کيږي. ځيني خلک داسې انګيري چې ازادۍ انفکاک نه منونکې وي، د بېلګې په توګه يو کس چې د سياسي مسوليتونو په عامه شخصيت بدليږي، دهغه مقام او منزلت له مخې د هغه د فردي حريم چاپيريال بايد پرانيستی وي. په داسې حال کې چې سياسي شخصيت په دې دليل چې هغه په سياسي ژوندانه کې سياسي مسوليتونو ته غاړه ورکوي، په دې معنا نه ده چې د هغه انساني جوهر مسخه شوی دی او له دې امله دی چې خلک، رسنۍ دې حق ولري چې د هغه شخصی حريم نقض کړي. دغه عامه شخصيت هغه مهال چې د خوب خونې ته ورځي هلته بيا ځانته دی او کله چې د خپل ژوند له ملګرې سره په ټيليفون غږيږي او يا چې کله د خپلې درملنې لپاره د ډاکټر معاينه خانې ته ورځي، د نورو ټولو خلکو په شان حق لري چې د هغه خصوصي حريم وساتل شي. عامه شخصيت هغه وخت شخصيت عڅنګه کولای شي چې (دولت) ته اجازه ورکړي چې د هغه په شخصي او يا د ژوندانه د ملګرې او يا هم د هغه د اولادونو په مسايلو کې له دې امله چې عام شخصيت دی مداخله دې وشي. د فيوډالي د دغې نظريې پرته چې د عامه شخصيت ميرمن او يا د هغه ځوان زلمی بچيان دې په هغو ټولنو کې چې انسان د خلکو په منځ کې لوړو پوړونو ته رسيږي او د سترو کورنيو په زنځير (Clan) کښې ښکيليږي، هغوی د ځانته خصوصي ژوندانه لرونکی دي او ځانته رازونه لري چې پلار، مور او يا يې د ژوندانه ملګرې ترينه خبره نه وي او د دې اجازه هم نه لري چې ورځينې خبر شي.

## د بيان د ازادۍ حق

د انسان د بنسټيزو ازاديو ټولګې له يو بل سره د غړو په توګه تړاو لري او له هغو سره بايد د جلا واحدونو په ډول چلند و نه شي، پرته له دې ټول هغه حقوقي نظام چې د انسان د بنسټيزو ازاديو ضمانت کوي، زيان وينې. د اساسي قانون ۳۴ ماده وايي.

" د بيان ازادي له تيري څخه خوندي ده".

"هر افغان حق لري خپل فکر د وينا، ليکنې، انځور او يا نورو وسايلو له لارې، په اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعايت، څرګند کړي".

"هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي خپاره او نشر کړي". [۸۲]

د بيان ازادي د دېموکراسۍ له لومړيو اړتياوو څخه ده. د بيان ازادي د دېموکراسۍ د سلامتيا، پاېښت او تلپاتې ديموکراسۍ او د وګړو د مسوولانه او ژوندوي شتون لامل ګرځي. پورته ماده په "د بيان ازادي له تيري خوندي ده" پيليږي. دلته يو ګڼ نړيوال بشري حق د منلو وړ ګرځيدلی دی. د اصولو له نظره ټول انسانان د بيان د ازادۍ د حق لرونکي دي، آن د هغو کسانو په ګډون چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت وګړي نه دي. د دغې مادې په نورو برخو کې د افغان وګړو د اساسي حق په توګه د بيان پر ازادۍ او د ويلو، ليکلو له لارې د فکر او عقيدې پر څرګندولو، ټينګار شوی دی. کله چې د بيان ازادي د انسان او د وګړې د يوه بنسټيز حق په توګه د اساسي قانون په ۳۴ ماده کې مطرح کيږي، دوو ارزښتناکو مسالو ته پام ور اوړي: يوه دا چې وګړی کولای شي خپل فکر او نظر د بيلابيلو وسايلو پر مټ څرګند کړي. دا په دې معنا دی چې يو کس کولای شي خپل نظر او اند د ليکلو، ويلو، تصوير، فلم، برېښنايي رسنيو او نورو له لارې په ډاګه کړي. دويم دا چې د بيان ازادي د هغه څه په ارزښت پورې تړلې او مشروطه نه ده چې ويل کيږي، پرته له دې د دې معلوموول چې يو فکر اهميت لري او يا هم بې اهميته دی او وګړي حق لري چې يوازې مهم شيان څرګند کړي، د دې لامل ګرځي چې د وګړو د رايې او فکر د کنټرول په برخه کې د دولت لاس خلاص وي. وګړي کولای شي خپل فکر په ازادانه ډول د قانون په اډانه کې په ډاګه کړي، پرته له دې چې د عقايدو د تفتيش له دولتي او يا غير دولتي ارګانونو وېره ولري. خو د بيان د ازادۍ پولې، د هرې بلې ازادۍ په توګه، هغه وخت چې د نورو ازاديو ته زيان او ضربه رسوي، ختميږي.

---

۸۲ د افغانستان اساسی قانون، ۳۴ ماده، ۱۳۸۲

د نظر او فکر څرګندوونکي نه شي کولای د بيان د ازادی اصل ته په پناه ور وړلو ناسمې اوازې، دروغ او په چا تور ولګوي. د بيان د ازادی له هدفونو يو دا دی چې د معلوماتو او نظر پر وړاندې کولو خلکو ته شعور ورکړي. په لوی لاس د دروغو خپرول د ازادی ضد او له ازادی سره په ټکر کې دي. همدا دليل دی چې د اساسي قانون ۲۴ ماده هغه وخت چې ازادي د "انسان طبيعي" حق بولي، زياتوي چې البته، د دغه قيد ابښودل په دې معنا نه دی چې قانونپوهان کولای شي په خپل زړه قوانين او اصول تصويب کړي او د هغو پربنسټ د وګړو ازادي محدوده کړي. قانون جوړوونکي د قانون جوړولو پر مهال بايد د اساسي قانون روح او متن، هغو ارزښتونو ته چې په اساسي قانون کې راغلي او هغو نړيوالو تړونونو ته تابع وي چې افغانستان ورته ژمن دی. يو بل څه چې د نورو د ازادی د پولو په قلمرو کې شامليږي، هماغسې چې اشاره ورته شوې، د اشخاصو خصوصي حريم دی. د اشخاصو خصوصي حريم د انساني وقار له اصل سره مخامخ اړيکه لري، له همدې امله څوک حق نه لري د ازادی د حق په پلمه د نورو په خصوصي حريم تيری وکړي.

د انسان د عمومي کړو وړو ساحه له دې امله چې ډېره پراخه ده، بايد په پام کې ونيول شي، چې ايا معلوماتو ته لاسرسی په هغه اندازه کې دی، چې وګړي يې د خپل وګړيتوب د مسووليت ادا کولو لپاره ورته اړتيا لري او يا دا چې له ازادی ګټه اخيستل له هغو پولو چې په قانون کې د حريم په توګه په پام کې نيول شوي، اوړي. څنګه کيدای شي له دغې ازادی ګټه اخيستل له هغو پولو او قيوداتو سره چې د انساني کرامت د ساتنې لپاره مهم ګڼل کيږي همغږې شي او يا دا چې د عامه ګټو پولې چې د بيان د ازادی د پولو په توګه په قانون کې محدودې شوي، معلومې شي چې له کوم ځايه پيليږي؟

اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په مصوبه کې، د بيلګې په ډول آن امنيتي ارګانونه اړ ايستل شوي هر ډول معلومات چې د رسنيو د استازو له لوري غوښتل کيږي، هغوی ته دې ورکړای شي او دا په داسې حال کې ده چې د ټولې نړۍ په ولسواکيو کې داسې اطلاعات شته چې په قانون کې له دې امله چې د يوه هيواد په ملي امنيت پورې اړه لري تر يوې اندازې د عامو خلکو له لاسرسي لرې ساتل کيږي. او يا په همدغه قانون کې داسې ځايونه و وچې معلوماتو ته د لاسرسي د حق په پلمه يې غوښتونکي ته اجازه ورکوله چې شخصي حريم ته ننوځي. يو له هغو کسانو چې د قانون له دغو موادو سره يې مخالفت وکړ، د دغو کرښو ليکونکی و. ځکه زما په باوردملي امنيت دندې په ځينو برخو کې دا ايجابوي چې اطلاعات د يوې باصلاحيته محکمې له حکم پرته د ځينو کسانو له لاسرسي لرې وساتي او يا هم د اشخاصو د خصوصي حريم په تړاو مساله ده چې له انساني وقار سره تړلې او عامو خلکو سره هيڅ تړاو نه لري، چې پرې پوه شي. دغه متن د انګلوساکسوني له سرچينو ژباړل شوی و او د انګلوساکسوني د ليکوالو له لوري دربمې نړۍ ته توصيه شوی و. له همدې امله و چې وړانديز شوې مسوده تعديل او اصلاح شوه. د افغانستان د کابينې په غونډه کې يو له هغو کسانو چې په دغه متن کې يې پر تعديل ډېر فشار درلود، د دغه قلم خاوند و.

د وګړو د بنسټيزو ازاديو يوه سلسله موجوده ده چې د قانون په اډانه کې د هماغو پولو د شتون له امله چې قانون يې وړاندوينه کړې، د فرعي او يا اقداماتي قوانينو په واسطه چې په ځانګړو شرايطو کې اړين بربښي، محدوديږي، خو نه تر هغه بريده چې دولت ته اجازه ورکړل شي د انسان انساني وقار ته زيان ورسوي او تماميت ته يې صدمه ورسوي؛ د بيلګې په ډول سره له دې چې د بيان ازادي د **۳۴** مادې پر بنسټ تضمين شوې، خو نورې ازادی چې له هغې سره تړاو لري، کيدای شي تر ځانګړو شرايطو لاندې د ملي ګټو د غوښتنو پر بنسټ او يا د نورو د ازادی پولې محدودې شي. مثلا د غونډو او مظاهرو ازادي "د اساسي قانون **۳۲** ماده "[۸۷] او يا دا اصل چې "هر افغان حق لري د هيواد هرې برخې ته سفر وکړي. "[۸۸] کيدای شي په هغه ځای کې چې سلامتيا او د ټولنې ازادي زيان ووينې، محدود شي.

د بيان د ازادی پر سر خبرو اترو کې مطرح کيږي هغه د بيان د ازادی او د يموکراسۍ د مخالفينو پر وړاندې د چال چلند خبره ده. دلته خبره دا ده چې ايا د بيان د ازادی او د ډيموکراسۍ مخالفين دا حق لري چې له مخې يې د هغو په لغوه کولو کې ګام پورته کړي؟ بيلابيل هيوادونه د هغو تاريخي تجربو له مخې چې د ډيموکراسۍ په برخه کې يې لري. په جرمني کې چې د فاشيزم د نظام لپاره تبليغ کوي او يا دا چې د بيان له ازادی څخه تاريخي حقايق د بشري جنايتونو په اړه نفي کوي او يا هغوی چې د نورو ديني ارزښتونو ته په سپکه سترګه ګوري، نه شي کولای له دغه حقه ګټه پورته کړي. خو د امريکې په متحده ايالاتو کې په دې برخه کې د قانون د حکم له مخې محدوديتونه نه ليدل کيږي.

---

۸۷ د افغانستان اساسی قانون، ۳۲ ماده، ۱۳۸۲.

۸۸ د افغانستان اساسی قانون، ۳۹ ماده، ۱۳۸۲.

## اطلاعاتو ته د لاسرسي حق

د ډیموکراسۍ بقا او پاینښت د هغو روڼ اندو خلکو سره تړلې دی چې په هیواد کې یې تیریږي. خلک کولای شي د هغه څه په اړه چې واکمنان یې تر سره کوي د هغو څارنه وکړي، د اړتیاوړ حقایقو ته لاسرسی ومومي. له دې امله د ډیموکراسۍ په قوانینو کې اطلاعاتو ته لاسرسی تضمین شویدی. "اطلاعاتو ته د لاسرسي حق"، هغه وسیلې دي چې ټولنه کولای شي له مخې یې د خلکو د افکارو د تکوین لپاره په ډیموکراتیکه ټولنه کې ترینه کار واخلي.په دې برخه کې د اساسي قانون د پنځوسمې مادې دویمه برخه وایي:

"د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات تر لاسه کړي دا حق د نورو حقوقو او عامه امنیت ته له زیان رسولو پرته، حدود نه لري."[۸۹]

اطلاعاتو ته د لاسرسي امکانات بیلابیل ډولونه لري. له یوې خوا خلک حق لري چې د راډیو، ټلویزیون، ورځپاڼو، انټرنیټ او نورو ټولنیزو رسنیو له لارې ملي او نړیوالو پرمختیاووته لاسرسی ولري او په دې برخه کې هیڅ ډول محدودیت نه لیدل کیږي. اتباع حق لري چې لازم معلومات له اداری ترلاسه کړي. لومړی مورد د دې سبب کیږي چې اتباع اطلاعاتو ته د لاس رسي له حقه په ګټه اخیستنې سره د خپلې پوهې او سیاسي شعور سطحه پورته کړی او د یوه مسئول تبعه (شهروند) په توګه د سیاسي فعالیتونو په بهیر کې ګډون وکړي. سربیره پر دی، دویم مورد، د اداری پر چارو او اجراآتو د خلکو د مخامخ کنټرول سبب هم کیږي.

## د انساني کرامت ملاتړ

د انساني کرامت اصل له ګواښ او تعرضه مصئون دی او د اساسي قانون د ۲۴ مې مادې له حکم سره سم دولت د انسان د کرامت او خپلواکۍ په ملاتړ او هغو ته په درناوي مکلف دی.[۹۰] لکه څرنګه چې په ورته پورتنیو مواردو کې ورته اشاره وشوه، د پاچا یا واکمن په وړاندې د انسان او بالطبع د خلکو رجحان یو لوړوالی د دی ډول چلند جوهر وی او دا د خپلواکۍ د اصل په وسیله چې د انسان طبیعي حق دی توجیه کیږي. پر همدې اصل ټینګار، د دموکراتیک قانون جوړونې، بشري حقونو او د اتباعو د بنسټیزو حقونو فلسفي دریځ او سرچینه جوړوي.

د انسان کرامت په ټولیزه توګه د انسان د خپلواکۍ او مصئونیت اصلي منشا او سرچینه ده. انسان د یوه مجرد موجود په توګه د کرامت لرونکی دی او دولت یې پر ساتلو مکلف دی. دا د ټولو هغو قانوني چلندونو او دریځونو روح او آرمان دی چې د انسان پر اصالت پیلیږي او د ډیرو ټولنیزو او فردي بی عدالتیو او توپیرونو مخنیوی کوي. دا پدې معنا دی چې انسان، خپلواک انسان او د انسان خپلواکي، خپله هدف بلل کیږي نه داسی هدف چې بلې موخې ته د رسیدو لپاره کارول کیږي. موخه د یوې خپلواکې ټولنې جوړول دي او دې موخې ته د رسیدو لپاره مخکینی شرط د خپلواکه اتباعو (شهروندانو) درلودل دي. هدف د یوه فعال دولت جوړول ندی. د همدې اصل په اعتبار دولت ته دا اجازه نه ورکول کیږي چې خپلو (اتباعو – شهروندانو) ته توهین او یا داسې چلند ورسره وکړي چې له بشري حیثیت او عزت سره مغایرت ولري. همدا یې لامل دی چې د اساسي قانون نهه ویشتمه ماده وایي:

" د انسان تعذیب منع دې. هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د تر لاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیولې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امرو کړي".

"د انساني کرامت مخالفې جزا ټاکل منع دي."[۹۱]

انساني کرامت زموږ په اساسي قانون کې د یوه داسې متعالي ارزښت او د انسان د خپلواکی د حقونو د تضمینولو د یوې سرچینې په توګه تسجیل شوی چې د هر ډول قید او شرط پرته دولت ته د هغو د نقض کولو امکان ندی ورکړل شوی.

د خپلواکۍ له حق خلاف نور حقونه کیدای شي چې د معینو شرایطو په پام کې نیولو سره د قانون په حکم استثنا وګرځول شي او یا موقتا تعدیل شي. د دولت هغه مکلفیت چې د انساني کرامت له ساتنې د ملاتړ په برخه کې ورپه غاړه دی له هر ډول قید او شرط څخه پرته مکلفیت دی. هر انسان، مسلمان، نا مسلمان، نارینه، ښځینه، معلول، معیوب، تور، سپین او یا د بل هر توپیر درلودونکي خاوندان د انساني کرامت لرونکي دي او د هیڅ انسان کرامت د بل انسان له کرامته پورته نه د وي. دولت کولای شي له قانون سره سم د عامه امنیت د ایجاباتو له مخې د لاریون حق منع او یا یې محدود کړي، د مشکوکو کسانو کورونه تلاشی کړی او یا د افرادو مراسلات

۸۹ د افغانستان اساسی قانون، ۵۰ ماده، ۱۳۸۲.
۹۰ د افغانستان اساسی قانون، ۲۴ ماده، ۱۳۸۲.
۹۱ د افغانستان اساسی قانون، ۲۹ ماده، ۱۳۸۲.

تر څارنې لاندې ونيسي، خو دولت نه شي کولای په هيڅ دليل خلک تعذيب کړي (ويې ځوروي) او يا داسې چلند ورسره وکړي چې له انساني کرامت سره سمون نه لري. هيڅ يو ټولنيز منفعت او يا ټولنيز ګواښ دولت ته دا حق نه ورکوي.

د نړۍ په پرمخ تللو ولسواکيو کې لکه آلمان نه يوازې چې دولت نشي کولای چې د چا انساني کرامت ته د هغه له زوکړې يا تولد وروسته زيان ورسوي او يا د ده په هغه څه کې مداخله وکړي چې د هغه په انساني جوهر پورې اړه لري بلکې د انساني کرامت په تړاو دا ډول چارې آن د ټولو هغو ژونديو موجوداتو په اړه هم په پام کې نيول کيږي چې لا نه دي زيږيدلي. د بيلګې په توګه، د انسان د ژنيتيک په اړه د څيړنو په هکله پراخ حقوقي او اخلاقي مباحث د انساني کرامت په اړه د نورو تودو بحثونو لامل هم ګرځيدلي.

خو د انسان له تعذيبه د لاس اخيستنې اجرايوي واقعيت زموږ په هيواد کې بل ډول دی. د افغانستان په زندانونو او توقيف ځايونو کې، د مخکيني ولسمشر او زما د پرله پسې اقداماتو سره سره لا هم خلک ځورول کيږي، شکنجه کيږي او د دوی انساني حقونه تر پښو لاندې کيږي. پدې برخه کې د پام وړ کمښت راتلل، بايد د هيواد د مسوولو چارواکو د کمې پاملرنې پايله ونه ګڼل شي. د هيواد د پخواني ملي امنيت سلاکار په توګه ما د اتباعو / شهروندانو د شکنجې او ځوريدو په اړه راپورونه او اسناد ترلاسه کړي وو او تل مې هم په دې اړه د امکان تر پولې د نړيوالو او ملي ځانګو په همکارۍ اړين اقدامات ترسره کړي.

### د ژوند حق

د ژوند حق د انسان د بنيادي حقونو يو بل حق دی چې د افغانستان په اساسي قانون کی تسجيل شوی. د اساسي قانون **۲۳** مه ماده وايي "ژوند د خدای جل جلاله بخښنه او د انسان طبيعي حق دی. هيڅ څوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کيدای نه شي."[۹۲]

د انسان د ژوند د حق ساتنه يا حراست يو دولتي مکلفيت دی. په ډيرو هيوادونو کې له دې حقه تعبير د اعدام د سزا د لغوه کيدو سبب ګرځي. د افغانستان د اساسي قانون پر بنسټ، له استثنايي حالاتو پرته، هيڅ څوک له دې حقه نه شي بې برخې کيدای. په وروستيو کلونو کې د ژوند له حقه دانسان محرومول په ندرت عملي کيږي. د ژوند حق او همداراز له هر ډول جسماني او روحي زيانونو څخه په امان کې پاتې کيدل د انسان بنسټيز حق دی. په اساسي قانون کې د دې حق تسجيل د انسان د تحقير او يا د ده په وړاندې د تاوتريخوالو د مخنيوي په موخه د قانون د ژمنتوب نښه ده. د دې حق تسجيل د دې سبب هم ګرځي چې يو تبعه (شهروند) د دولت د عواملو (کارکوونکو) له خوا د ده په وړاندې د غير فزيکي تاوتريخوالو په مقابل کې له ځانه دفاع وکړي. د همدې مادې پر بنسټ داسې نه شي کيدای چې انسان تر روحي فشار لاندې راوستل شي يا په داسې کار لاس پورېکړي چې په نتيجه کې يې د چا انساني کرامت او يا بدني او روحي بشپړتيا زيانمنه شي.

### د وګړنيزو اړيکو د تداوم او د بهرنيو دولتونو په وړاندې د اتباعو (شهروندانو) حراست

د افغانستان د اساسي قانون ۲۸ مه ماده، د هيواد د اتباعو امنيت او خپلواکي د بهرنيو دولتونو د غوښتنو او تورونو په وړاندې تضمين کړي. د افغانستان تبعه (شهروند) په اصولي لحاظ د ملي دولت په حوزه او قلمرو کې شامل وي. د ملي حقونو په حوزه کې د يوه تبعه (شهروند) شتون، د ده د ملي حاکميت او د ملي حقونو د بنسټيزو اصولو څخه سرچينه اخلي. له همدې کبله هيڅ يوه تبعه له خپلو وګړنيزو حقونو څخه د دولت له خوا نه بې برخې کيږي. دولت همدارنګه چې د خپلو اتباعو د حقونو او امتيازاتو ساتونکی دی، د اساسي قانون د حکم پر بنسټ، مکلف دی چې له خپلو اتباعو نه د بهرنيو دولتونو په وړاندې هم دفاع وکړي. دا ملاتړ يوازې په ملي قلمرو پورې نه محدوديږي، بلکې دولت د ټولو ها خوا هم د خپلو اتباعو د قونسلي او حقوقي ملاتړ مکلفيت لري. له دغو حقونو څخه تيريدل هم د خاصو شرايطو په اساس او د متقابل اصل پر بنسټ شونې وي. د اساسي قانون **۲۸** مه ماده پدې اړه وايي:

"د افغانستان هيڅ يو تبعه په يو جرم د متهم کيدو له امله، بهرني دولت ته نه سپارل کيږي، مګر د ورته معاملې او د هغوبين الدول تړونونو له مخې چې افغانستان ورسره تړاوي"

"هيڅ افغان د تابعيت په سلبېدو او په افغانستان کې د ننه يا بهر په شړل کېدو نه محکوم ميږي"[۹۳]

خلک (شهروندان) د ملت د غړو په توګه د ټولنيز قرارداد لوری او د سياسي واک سرچينه وي. دولت د خلکو په استازيتوب کار کوي، ځکه نو دولت حق نه لري چې په يو اړخيزه توګه د دموکراتيک دولت خلک د ټولنيز قرارداد د انفاذ له حوزې چې د ده ملي قلمرو ګڼل کيږي وباسي.

۹۲ د افغانستان اساسی قانون، ۲۳ ماده، ۱۳۸۲.

۹۳ د افغانستان اساسی قانون، ۲۲ ماده، ۱۳۸۲.

د شهروندۍ له رابطې څخه د یوه کس (شهروند ) ایستل په واقعیت کې له سیاسي حقوقي رابطې څخه د هغه ایستل دي، ځکه چې شهروند د معاملې یو اړخ دی. دا چاره له خپل چاپیریال نه د انسان د ایستلو او د هغه د سیاسي او اجتماعي ریښو د ایستلو په معنا ده. د هیوادونو او په ځانګړې توګه زموږ د خاورې په تاریخ کې د واکمنانو له خوا له یوې سیمې د خلکو شړل او دړې وړې کول د هغو خلکو د مجازاتو یوه لار وه چې د رعایا په نامه پېژندل کیدل. دا تجربه په لویدیځو دیکتاتوریو کې هم دود وه. له تابعیته شړل یا ایستل تل یو ډول سیاسي سزا وه او د افغانستان اساسي قانون سره له دې چې د سیاسي مجازاتو په اړه څرګنده حکم نه لري، خو د قانون د کلیت او د افغانستان د اساسي قانون د روح په نظر کې نیولو سره جوتیږي چې سیاسي جرم نفې شوی او عملا هم په اوسني افغانستان کې هیڅ سیاسي زندان شتون نه لري[۹۴]، ځکه نو هیڅ افغان له خپلې شخصي ارادې پرته د افغانستان له تابعیته نه شي بې برخې کیدای. د دغه قانون د نافذیدو حوزه د هغو افغان میرمنو لپاره ډیر اهمیت لري چې له بهرنیو اتباعو سره واده کوی. پخوا به که یوې افغانې میرمنې له یوه بهرني سړي سره واده کاوه، نو د افغانستان له تابعیته به وتله خو که دې ته ورته یو حکم اوس هم د افغانستان د تابعیت په قانون کې شتون ولري دا به د اساسي قانون له نص سره په ټکر کې وي.

نورو هیوادو ته د افغانستان د اتباعو د سپارلو محدودیت له یوې خوا تبعې (شهروند ) ته زیات حقوقي امنیت ورکوي او له بلې خوا د اصولو پر بنسټ دا منل کیږي چې داسې یوه کار یوازې د مخکنیو توافقاتو، لکه دوه اړخیزه توافقاتو او د هغه نړیوالو کنوانسیونونو د حکم پر بنسټ ترسره کیدای شي چې غوښتونکی هیواد او افغانستان دواړه د هغه غړیتوب ولري. دلته د متقابل احترام او ملي حاکمیتونو د برابرۍ او د حقوقي برابرۍ اصول په پام کې نیول کیږي.

## د محرمیت او د اړیکو د خپلواکۍ حق د اړیکو (مخابراتو ) خپلواکي او محرمیت

د اتباعو (شهروندانو ) یو بل بنسټیز حق دی چې د افغانستان په بیلابیلو قوانینو کې تسجیل شوی. د افغانستان اسلامي جمهوریت د اساسي قانون **۳۷** مه ماده وایي:

"د اشخاصو د مخابرې او لیکنو آزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د ټیلیفون او تلګراف یا نورو وسیلو به لاري به تیري څخه خوندي دې."

"دولت د اشخاصو د مخابرو او لیکونو د پلټنې حق نلري مګر د قانون له احکامو له سره سم"[۹۵]

مدرن انسان ناچاره باید له مدرنو مخابراتي او مواصلاتي وسایلو نه ګټه پورته کړي. دغو مدرنو مخابراتي وسایلو له پخوانیو کلاسیکو وسایلو پر تله څو چنده زیات امکانات انسان ته ورپه برخه کړي. د اړیکو نویو وسایلو په زیاته کچه انسان ته دا امکان ورکړی چې نړۍ ته په سهولت سره لاس رسی ولري. خو له ډیر پخوا راهیسې د دغو مراسلاتو منځپانګې ته د نورو کسانو د لاس رسي امکان موجود وو. خو پخوا د مدرنې دورې نه مخکې چې د ایلچیانو او کوترو په وسیله د لیږدیدونکو مراسلاتو کمیت او د لیږد کیفیت محدود وو د هغو محتوا ته هم د نورو کسانو لاس رسی محدود وو. اوس پرمختللو ارتباطي وسایلو ته د امریکې او برتانیې د استخباراتي سرچینو د نفوذ او د افرادو خصوصي اطلاعاتو ته د دوی د لاس رسي تجربې دا ثابته کړه چې څنګه په اوسنۍ نړۍ کې د اشخاصو خصوصي حریم او د دوی اساسي حقونه له ګواښ سره مخامخ دي. دا د اشخاصو د خصوصي حریم ماتیدل یوازې په لویو دولتونو او د دوی په استخباراتي ځانګو پورې محدود ندي بلکې تر ډیره خپل دولتونه هم د افرادو د خصوصي حریم د څارنې لیوالتیا لري. پدې اړه د افغانستان د اساسي قانون یاده ماده لږ تر لږه د تیورۍ له مخې خلکو ته دا امکان ورکوي چې خپل خصوصي حریم د دولت له بریدونو خوندي وساتي. د اړیکو د محرمیت په اصل کې ټولې هغه حوزې راځي چې د لیږدوونکي او ترلاسه کوونکي ترمنځ په پراته واټن کې شتون لري. فرق نه کوي چې دا واټن مجازي وي لکه مدرنې رسنۍ او یا د دوو یا څو جغرافیاوو ترمنځ. وګړي (شهروندان ) باید ډاډمن وي چې هر هغه څه چې دوی یې بل ته لیږي د پخوانیو خلکو په خبره د داروغه او عسس له سترګو خوندي پاتې کیږي. محرمیت یوازې د مکاتبې یا مکالمې په محتوا پورې نه محدودیږي بلکې په عین حال کې د اړیکو د عاملینو د محرمیت معنا هم لري. دولت دا حق نه لري چې ځان په دې خبر کړي چې څوک له چا سره خبرې اترې کوي او یا اړیکې نیسي او همدارنګه دا حق هم نه لري چې د خبرو اترو یا اړیکو په منځپانګه ځان پوه کړي.

د اړیکو محرمیت کیدای شي چې په خاصو شرایطو کې د لنډې مودې لپاره د قانون له مخې محدود او یا رفع شي. په قانون کې د محرمیت د لغوه کولو شرایط لیکل شوي. یوازې د عامه امنیت قلمرو کیدای شي چې د قانون له مخې د دغه حق د الغا سبب شي.

---

۹۴ ثریا صبحرنګ، شخصی نظر، د سپتامبر۱۲، ۲۰۱۴.

۹۵ د افغانستان اساسی قانون، ۳۷ ماده، ۱۳۸۲.

## د کورونو محرميت او خونديتوب

هماغه شان چې د خلکو اړيکي او مخابرات بايد د دولت او نورو کسانو له ناقانونه څارنې څخه خوندي پاتې شي، د مسکن محرميت او خونديتوب هم بايد له دولتي لاس وهنو څخه په امان کې پاتې شي. په دې اړه د افغانستان د اساسي قانون ۳۸ مه ماده وايي:

" د استوګنځی له تيري څخه خوندي دی. هيڅ څوک د دولت په ګډون نه شي کولای چې د استوګن له اجازې پرته اوبې له هغو حالاتو او لاروچې په قانون کې ښوول شوي، دچا کورته ور ننوځي يا يې و پلټي".

"د څرګند جرم په موردکې مسوول مامور کولای شي چې د محکمې له مخکينۍ اجازې پرته د شخص کور ته و ننوځی يا هغه و پلټي. نوموړی مامور مکلف دی کور ته له ننوتو او يا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون يې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي"[92]

هر انسان داسې هستوګنځي ته اړتيا لري چې په هغو کې د ننه پوره ډاډ ترلاسه کړي چې د دولت او زورواکو کسانو د نفوذ له ساحې وتلې او دا مقام د تبعه (شهروند ) کور او شخصي مامن ګڼل کيږي. دا هغه ځای وي چې اصولا دولت، څارګر او خصوصي مفتشان، خبرورونکي او عامه وګړي د نفوذ حق نلري. دا ځای کيدای شي چې د ده شخصي ملکيت اوسي او يا يې په کرايه يا امانت ترلاسه کړی وي. په دې اړه د دولت اراده ټاکونکې يا اخيستنه نه ده بلکې مهمه دا ده چې دا هستوګنځی د هغه د خاوند په غوښتنه د ده شخصي هستوګنځی ګرځيدلی وي. د دغې اخيستنې پر بنسټ يوازې کور يا هستوګنځی د ناقانونه مداخلې څخهخوندي نه وي بلکې د هوټل خونه او د محصلينو د خوب ځای يا ليليه هم پکې شامليږي.

پرته د دولت له مداخلې د قانون په پنا کې په امن کې ژوند کول د انساني کرامت له مقولې سره مخامخ تړاو لري. پر دې بنسټ د خلکو په کورونو کې تجسس او تلاشي په واقعيت کې د دوی په شخصي او خصوصي حريم کې درنه مداخله بلل کيږي. که په استثنايي حالاتو کې د افرادو د هستوګنځي تلاشي الزامي وګڼل شي دا چاره بايد د يوې بې پرې او خپلواکه څانګې له خوا وارزول شي او په ولسواکۍ کې يوازې خپلواکه او بې پرې محکمه کولای شي حکم وکړي چې آيا داسې دليل شته چې پر بنسټ يې د چا د کور د تلاشۍ حکم صادرشي که نه؟ د قاضي له خوا د لنډ مهال لپاره د افرادو د کور د مصئونيت د لغوه کولو حکم بايد پر هغه د لګيدلي تور د څرنګوالي سره انډول ولري.

د خلکو پر شخصي هستوګنځيو د څار چاره آن د مدرنو وسايلو او کمرو په وسيله که هغه له بهره هم کوم کور په نښه کړی وي له قانوني اجازې پرته د هغه کس د شخصي حريم د نقض معنا لري او په دې ډول مواردو کې که امنيتي ارګانونه د څارنې لپاره کافي دلايل هم ولري بايد دا کار د محکمې په حکم ترسره شي. د خلکو پر کورونو څار حتی که د جرايمو د کشف په موخه ترسره کيږي که د اشخاصو د خصوصي حريم او د دوی د مصونيت د نقض کيدو سبب ګرځي په ولسواکۍ کې جواز نه لري. د بيلګې په توګه، د يوه جرم د کشف په پلمه څوک نه شي کولای چې د افرادو يا د ښځې او ميړه خصوصي حريم ته نفوذ وکړي ځکه دا د دوی په انساني کرامت پورې تړلې ده او دا هغه حريم دی چې آن د محکمې د حکم پر بنسټ هم بايد چې نقض نه شي.



۳ انځور: د هرات يو شمير اوسيدونکو د نا امنيو او سړي تښتونې له امله په لاريون لاس پورې کړی.

۹۲ د افغانستان اساسي قانون، ۳۸ ماده، ۱۳۸۲

## د سفر او سیاحت خپلواکي

د سفر او په کوم ځای کې هستوګنه د اتباعو (شهروندانو) د بنسټیزو حقونو په توګه د افغانستان د اساسي قانون په **۳۹** مه ماده کې تسجیل شوې.

"هر افغان حق لري چې د هیواد هری سیمی ته سفر وکری او اوسیدلی شي مګر په هغو ساحو کې چې قانون منع کړې وی."

"هر افغان حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم {له} افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بیرته راستون شي."[۹۷]

هغه څه چې دا ماده یې په پام کې لري د خپلواکي د پراخ اصل سره تړاو لري. دلته د قانون عملي اړخ دا دی چې خلک (شهروندان) حق او واک لري چې د خپل هیواد په هره سیمه کې چې وغواړي د دولت له اجازې پرته پاتې شي او هرچیرې چې وغواړي سفر وکړي. البته د دغې مادې او د بشري حقونو د اعلامیې د متن تطابق په دې معنا نه دی چې ټول انسانان کولای شي په افغانستان کې له دغه حق څخه ګټه واخلي. د بهرنیو اتباعو اقامت په افغانستان کې، د بهرنیانو چارو د قانون تابع وي.

## د مالکیت لرلو حق

د اساسي قانون **۴۰** مه ماده د افغانستان د وګړو (شهروند) د خصوصي مالکیت په اړه وایي:

"ملکیت له تیري څخه خوندي دی."

"هیڅ څوک د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کیږي مګر د قانون د احکامو په حدودو کې".

"د هیچا ملکیت د قانون له حکم او دبا صلاحیته محکمې له پریکړې پرته نه مصادره کیږي."

"د شخصی د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تامین په مقصد د مخکیني عادلانه بدل په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دی."

"د شخص دشتمنۍ پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کیدای شي."[۹۸]

دا ماده د افغانستان د اتباعو لپاره له دوو اړخونو اهمیت لري. یو په دې چې د مشروع مالکیت درلودل د انسان بنیادي حق دی او هر انسان حق لري چې د هغه څه خاوند شي چې د خپل کار، پوهې او نوښت په نتیجه کې یې ترلاسه کړي. له بلې خوا دې ټکي ته په پام سره چې په افغانستان کې ناقانونه کړنې، او ظلمونه په خلکو شوي په ځانګړي توګه د ثور د کودتا پر مهال او له هغې نه وروسته، دا په کار وه چې له مالکیت نه قانوني حراست په پام کی نیول شوی وای. سره له دې چې اساسي قانون دا نه څرګندوي چې هدف یې له ملکیت نه څه دی، خو د افغانستان په عرف، شرعي احکامو او اړوندو قوانینو کې د منقولو ملکیتونو، نا منقولو ملکیتونو او معنوي ملکیتونو په اړه صراحت شته. د افرادو د مالکیت سلبول په داسې حال کې چې عامه ګټې یې ایجابوي په حقوقي لحاظ د مالکیت د سلب معنا نه لري بلکې د مالکیت د بدلولو او یا د دولت له خوا د خسارې د ورکولو په توګه مطرح کیږي.

## د ښوونې او روزنې حق

د اساسي قانون د **۴۵** مې مادې پر بنسټ د ښوونځیو لپاره د درسي نصاب تدوینول د دولت له صلاحیتونو او مسولیتونو څخه ګڼل کیږي. کله چې دا ماده د وړیا زدکړو له حق سره د یوه کلیت په توګه په پام کې ونیول شي، نو معنا به یې د اتباعو د اساسي حق په تړاو څرګنده شي. د اساسي قانون **۴۵** مه ماده وایي:

"دولت د اسلام د سپڅیلي دین دحکمونو او ملي فرهنګ پربنسټ او له علمي اصولو سره سم واحد تعلیمي نصاب طرح او تطبیقوي د ښوونځیو د دیني مضامینو نصاب په افغانستان کې د شته اسلامی مذهبونو پر بنسټ تدوینوي."[۹۹]

هغه څه چې د دغې مادې پر بنسټ څرګندیږي، هغه د ټولو ښوونځیو د درسي نصاب پر تدوین د دولت انحصار دی. که څه هم په اساسي قانون کې د خصوصي ښوونیزو مرکزونو د تاسیس اجازه د قانون د احکامو مطابق په رسمیت پیژندل شوې، خو د **۴۵** مې مادې پر بنسټ خصوصي ښوونځي هم د دولت له خوا د جوړ شوی نصاب په رعایتولو مکلف دی.

۹۷ د افغانستان اساسی قانون، **۳۹** ماده، ۱۳۸۲.
۹۸ د افغانستان اساسی قانون، **۴۰** ماده، ۱۳۸۲.
۹۹ د افغانستان اساسی قانون، **۴۵** ماده، ۱۳۸۲.

سره له دې چې۴۳ مه ماده د **۴۵** مې مادې سره تړاو لري، خو هغه څه چې په **۴۳** مه ماده کې د افرادو د تعلیم د حق په اړه مطرح شوي په حقوقي لحاظ ځانګړې معنا لري او د سوسیال دولت د عنصر سره په هغه مفهوم چې مخکې ورته اشاره وشوه تړاو لري. د اساسي قانون **۴۳** مه ماده، زده کړه د افغانستان د ټولو" اتباعو حق دی" ګڼلې چې د لیسانس {تر} درجې پورې وړیا د دولت له خوا تامینېږي".[۱۰۰]

د دغې مادې حکم چې د افغانستان اتباع د لیسانس تر درجې حق لري چې په دولتي موسساتو کې زده کړې وکړي یوه آرماني ماده او یا د اساسي قانون برنامه ګڼل کیږي. که داسې ونه شي په دې دلیل چې دا ماده عملا نه اجرا کیږي او ټول خلک چې په اړوندو تحصیلي ځانګو کې د کافي ځای د نشتوالي له کبله نه شي کولای د لیسانس تر درجې زده کړې وکړي، کولای شي چې د دولت په وړاندې د دعوې اقامه وکړي.

## د کار حق

په اساسي قانون کې د کار د حق تسجیل کیدل د ټولنیزې هوساینې یا سوسیال دولت یو بل عنصر ګڼل کیږي. د اساسي قانون **۴۸** مه ماده وایي:

"کار د هر افغان حق دی" د کار د ساعتونو ټاکل، او بامعاشه رخصتي، د کار او کارګر حقونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي".

"د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دي."[۱۰۱]

د یوه حق په توګه د کار د حق پیژندل د اساسي قانون د یوه آرمان په توګه چې د اتباعو د حق په توګه په قانون کې تسجیل شوي هم دي یو له هغو مسایلو څخه دی چې اساسي قانون پرې د بشري ټولنیزو حقونو د منلو په توګه پرې ټینګار لري. بشري، اقتصادي او ټولنیز حقوقو ته د ډیری لیبرال ولسواکیو په اسنادو کې په کمه کچه پام کیږي. په داسې حال کې چې د بشر حق د یوه ژوند په درلودلو کې او په مادي لحاظ هم مناسب او د بشر لپاره د کار حق د بشري اساسي حقونو په کتار کې راځي. د یوه کسب یا دندې د غوره کولو حق په واقعیت کې د انسان د داسې یوې خپلواکۍ منل دي چې پر بنسټ یې هغه بل ته له اړتیا پرته د خپل ژوند بنسټ جوړوي. د دې ترڅنګ دا حق د داسې چوکاټونو د جوړولو په معنا هم دی چې په نتیجه کې یې انسان کولای شي د یوه خپلواکه موجود په توګه خپل استعدادونه او وړتیاوې لا زیاتې کړي او ویې غوړوي. د دې امکان چې انسان خپله پریکړه وکړي چې کومه دنده باید غوره کړي او یا په کومه ځانګه کې تحصیل وکړي په واقعیت کې د دې مخکنی شرط منل هم دي چې فرد د آزادې ارادې پر بنسټ په ټولنه کې ونډه اخلي.

## د اجباري کار ممنوعیت، ملوک الطوایفي دود له منځه وړي

کله چې د اساسي قانون په نهه څلوېښتمه ماده[۱۰۲] کې د اجباري کار په اړه خبره کیږي، په واقعیت کې یوه داسې فیوډالي رعیتي دود ته د ستنیدو مخنیوی دی چې په هغه کې دولت خپل وګړي دې ته اړباسي چې د حکومت لپاره اجباري کار وکړي.[۱۰۳] پر انسان باندې د اجباري کار تحمیلول د هغه د خپلسرۍ له اصل او د خلکو د حاکمیت له اصل سره په ټکر کې دی. په دې ماده کې د ولس او ملکوک الطوایفي پړاو د ټولنې د حقونو پر اعاده کیدو هم ټینګار شوی دی. خو له اجبار پرته قانون، په خاصو وختونو کې هغه مهال د ډله ییز کار غوښتنه کوي، چې د هیواد یوه برخه د جګړې یا آپت او بلا خولې ته لوېدلې وي، چې په دې وخت کې د وګړو ګډون کول او همکاري ملي وجیبه ګڼل کیږي. خو په دې برخه کې دا د وګړو پر اخلاقي پیغام پورې ډېر تړاو لري، د ښاري کیدو د غوره والي مخاطب ګڼل کیږي نه دا چې اجباري کار ته دې اړ ایستل شي.

## د اداري د اعمالو د قانون خلاف حق غوښتنه

دولت د قانون په چوکاټ کې دا د خپلو وګړو حق بولي، چې د وګړو لپاره هرڅه چې ددوی زړه وغواړي، هماغسې عمل وکړي. دا کار په ځانګړې توګه د اسلامي ځمکې په ختیځ کې په پراخه کچه عملي شوی دی. خلیفه ګانو او حاکمانو د خپلو شخصي تمایلاتو پربنسټ د خلکو مال او ملکونه مصادره کړي دي، دوی به یې بندیانول او ډېر داسې کارونه به یې کول چې نن سبا زموږ په هیواد کې ممنوع دي.

۱۰۰ د افغانستان اساسی قانون، ۴۳ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۱ د افغانستان اساسی قانون، ۴۸ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۲ د افغانستان اساسی قانون ۴۹ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۳ میر غلام محمد غبار، "افغانستان در مسیر تاریخ"، ۷۴۰.

ځینې مهم قوانین او د وګړو د حقونو د پوهاوي په اړه د وګړو تجربې دا ښیي چې د دولت د تجاوز د مخنیوي لپاره د حقونو اعاده کول وګړو ته ښلابښلې لارې چارې ښیي. ځینې ددغې وسیلې په مټ کولی شي یوڅوک چې د سیاسي عمل مخاطب ګرځي، د دولت په مقابل کې ونه دربږي. مثلاً اعتصاب او یا د کارکوونکو تظاهرات چې د خصوصي کار ورکوونکو پر وړاندې (په دغه ډول مواردو کې هم فرد او متضرر افراد دا حق لري چې محکمې ته مراجعه وکړي او عدالت وغواړي). خو هغه څه چې دلته له حقوقي پلوه زموږ په نظر کې دي، قانوني لارو چارو ته مراجعه کول دي، چې د وګړو په اختیار کې ورکړل شي او وګړي کولی شي له دې لارې نه د خپل حق د اعاده کولو هڅه وکړي. لومړی حق دا دی چې د ادارې د ناقانونه کړنې پروړاندې محکمې ته شکایت وشي، داسې چې وګړي زیانمن شوي وو او دویم حق غیر قضایي ارګانونو ته د شکایت کول دي.

په دې اړه د اساسي قانون یو پنځوسمه ماده وایي:

"هرڅوک چې ادارې له خوا بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولی شي د تاوان ترلاسه کولای لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي."

"له هغو حالاتو پر ته چې قانون ښوولي، دولت نه شي د باصلاحیته محکمې له حکمه پرته دخپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړي." [۱۰۴]

ددغې مادې په تدوین کې دوه کړنې اهمیت لري. یو د وګړو د ښاري کېدو حق دی چې ادارې او دولت ته دا اجازه نه ورکوي چې د وګړو ملکیت، خصوصي حریم، جسمي او بدني سلامتیا ته زیان ورسوي او یا انساني کرامت تر پښو لاندې کړي او یا د قانون خلاف یې له خپلې دندې لیرې کړي. د دولت او ادارې دویم اصل پر قانون ولاړ دی. د دولت مهمترین برداشت پر قانون ولاړ دی، چې دولت هم لکه د فرد په څېر د قانون پروړاندې مسؤول دی. دولت مسؤولیت لري چې د قانون خلاف د اعمالو حساب کتاب، چې په هغه کې وګړي زیانمن شوي وي، حساب ورکړي.

هغه وګړي چې د عمدي اجراآتو او نه اجرآتو په پایله او د دولت د ښلابښلو ارګانونو د هم مال په صورت کې متضرر کیږي، کولی شي د دولت د اعمالو په مقابل کې محکمې ته مراجعه وکړي. د وګړي د شکایت په حق کې له هرې دولتي ادارې څخه شکایت کول شامل دي. هېڅ اداره یا د دولت اداري ارګان، د امنیتي ارګانونو په شمول له دې چارې څخه مستثنا نه دي. تصمیم نیوونکې مرجع هم په دا ډول مواردو کې محاکمه کیږي.

دویمه طریقه، د قانون خلاف د اعمالو د مبارزې لپاره حقوقي لارې خپلول دي، وګړي د هیواد ملي شورا ته د شکایت کولو حق لري. د اساسي قانون د اته اتیایمې مادې پربنسټ "د ملي شورا له دواړو جرګه د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظایفو د اصولو له مخې، کمیسیونونه جوړوي"[۱۰۵]. او د اساسي قانون د نهه اتیایمې مادې پربنسټ، "ولسي جرګه واک لري د غړو ددریمې برخې په پیشنهاد، په د حکومت د اعمالو د څېړنې او کتنې لپاره، یو ځانګړی کمیسیون و ټاکي."[۱۰۶] د افغانستان **۵** تجربه کې لیدل کیږي چې د ملي شورا دواړه جرګې د شکایتونو د اورېدو کمیسیونونه لري. ددې لپاره چې د یادو شویو موادو پربنسټ، د حکومت د کړنو کنټرول د افغانستان د ملي شورا له دندو څخه ده، طبعاً د ادارې د کړنو کنټرول هم د ملي شورا له واکونو څخه دی. له دې کبله وګړي کولی شي د جرګې کمیسیونونو ته شکایت وکړي او یا دا چې تقاضا لیک ولیکي.خو د ملي شورا تصمیمونه په دې اړه د حکومت د اعمالو پر کنټرول لا ډېر واک لري، نه دا چې وکړای شي د قضایي احکامو ځای ونیسي. د بېلګې په توګه، ملي شورا نه شي کولی متضرر شوي ته یوه اداره د غرامت په ورکولو محکومه کړي.

خو د اوسني اساسي قانون له لاسته راوړنو یوه دا هم ده چې محاکمو ته د مراجعې یا دواړو شوراګانو ته د شکایت کولو ترڅنګ، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون ته د مراجعې کولو امکان هم ډېر دی. په هغو مواردو کې چې د وګړو د بشري حقونو د نقض مساله وي، وګړي کولی شي دغه کمیسیون ته مراجعه وکړي.

د اساسي قانون د اته پنځوسمې مادې پربنسټ د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په منلو سره له دولت څخه د وګړو د شکایت حق لرل منلي، یاده ماده داسې وایي:

"دولت په افغانستان کې د بشري حقونو درعایت دڅارنې، ښه والي او ملاتړلپاره،د افغانستان د بشرد حقونو خپلواک کمیسیون جوړوي".

"هرڅوک کولی شي د خپلو بشر حقونو د نقض په صورت کې دې کمیسیون ته شکایت وکړي."

---

۱۰۴ د افغانستان اساسی قانون، **۵۱** ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۵ د افغانستان اساسی قانون ۸۸ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۶ د افغانستان اساسی قانون، ۸۹ ماده، ۱۳۸۲.

"کميسيون کولی شي د افرادو د بشري حقونو د نقض موارد مربوطو قانوني ځانګو ته راجع کړي او د هغوی له حقونو څخه په دفاع کې مرسته وکړي."[۱۰۷]

د هر څوک قيد اېښودل دلته د قانون له مخې ټولو انسانانو ته شامل دی.دغه قيد، د بشري حقونو د کميسيون د فعاليتونو بريد د افغانستان له وګړو څخه ټولو اشخاصوته، چې بهرنيان هم پکې راځي، پراخه کوي، او له بلې خوا وګړو ته دا امکان ورکوي ترڅو د خپلو بشري حقونو د نقض په صورت کې چې په حقيقت کې د هغوی د وګړو حق هم دی، يوې مرجع ته شکايت وکړي او حمايت غوښتنه وکړي. يوه مهم قانون ته د بشري حقونو د کميسيون ارتقا ښيي چې قانون جوړوونکی د بشر د حقونو د ملاتړ په برخه کې فوق العاده ارزښت ته قايل دی.

## له کورنۍ څخه ملاتړ

د افغانستان اساسي قانون د اسلامي دين له تعليماتو، د افغانستان د ولس د دود او د ډېرو نورو هېوادونو له ډېرو تجربو سره په همغږۍ، کورنۍ د ټولنې د يوې مهمې برخې په توګه مني، او هغه د قانون تر ملاتړ لاندې راولي، د اساسي قانون څلورپنځوسمه ماده وايي:

"کورنۍ د ټولنې مهمه برخه جوړوي، چې دولت به يې ملاتړ کوي."

"دولت د کورنۍ د جسمي او روحي سلامتيا د خوندي توب لپاره، په خصوصي ډول د ماشوم او مور، د ماشومانو روزنه او د اسلام د سپېڅلي دين د احکامو خلاف د رواجونو له منځه وړلو لپاره لازم تدابير (لار، تېروتنه) نيسي."[۱۰۸]

دغه ماده دولت مکلف کوي ترڅو د کورنۍ له جوړښت څخه د ازدواج د قانون پربنسټ ملاتړ وکړي؛ څکه چې کورنۍ د يوې داسې مهمې برخې په توګه چې دولت يې بايد ملاتړ وکړي، د قانون تابع ګرځولې. دغه ماده همداشان دولت مکلف کوي ترڅو د مور او ماشوم د جسمي او رواني سلامتيا لپاره لاس په کار شي. ددغې مادې په اصل کې د ځينو هغو محافظه کارو حلقو له هغه برداشت سره يوډول ټکر راغلی، چې ګومان کوي د کوچني عمر کسانو ودول چې د قانون پربنسټ جواز لري، شته دي. د ماشومانو ودول د ټولو علمي معلوماتو پربنسټ، ماشومانو ته پراخ جسمي او روحي زيانونه رسوي. له جسمي او روحي زيانونو څخه د مخنيوي لپاره، د اساسي قانون ددغه حکم پر اساس دولت مکلف دی نه بل څوک. د کورنۍ د ارتقا او جوړښت حق د وګړو د اساسي حق په توګه په عين حال کې د وګړو يو دفاعي حق دی، په دې معنا چې نارينه او ښځې حق لري خپل ګډ ژوند اختيار کړي او څوک نه شي کولی په زور يې د دغه حق مانع وګرځي. په بله وينا، دغه حکم وايي د ازدواج ممنوعيت په هغو شرايطو کې ممکن دی چې عملي شي، چې دواړه غاړې د ازدواج قانوني قابليت ته نه وي رسيدلې. لکه له قانوني عمرنه د ټيټ عمر ماشومان.

خو واقعيت دا دی چې زموږ په هېواد کې لاهم عملاً تر قانوني عمر د ټيټ عمر ماشومانو ازدواج او د ښځو له مخالفت سرېېره په ازدواج سترګې پټېږي. دود او ځينې وخت د فقهي بېلابېل تفسيرونه دا کار ممکن ګرځوي. د اهل تشيع د شخصي احوالو د قانون په اړه د اختلاف يو مورد په همدې تړاو و.

د کورنۍ د جوړښت حق د وګړو د اساسي حق په څېر دی، چې په عين وخت کې په دې معنا دی، چې دواړه غاړې په مشترک ژوند کې خپل برابر حقونه او وجايب ولري. دې ته په پام سره چې د ازدواج په تړون کې دوه کسان دا تړون کوي او دې ته په پام سره چې د اساسي قانون د دوه ويشتمې مادې د دويم حکم مطابق "د افغانستان اتباع، ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقونه او وجايب لري"[۱۰۹]، ښځه او مېړه هم په خصوصي ژوند کې برابر حقونه لري. له دغه قانون څخه هر راز تفسير په ټکر کې ګڼل کېږي. البته د قرارداد دواړه غاړې (زوجين) کولی شي د تملک به مورد کې د کار څرنګوالی د کور بهر يا د ننه په بل ډول توافق وکړي. خو دغه توافق بايد د انسانی کرامت له اصل او خپلې فردي ارادې سره مطابق او د ټولنې له اخلاقي اصولو سره يوشان په تناقض کې نه وي. په بله وينا، دواړه غاړې نه شي کولی له يو بل سره داسې هوکړه وکړي چې د يوې غاړې د بشري حقونو او د وګړي اساسي حق پکې نقض شي. کله چې کورنۍ، د قانون جوړوونکي له لوري د "ټولنې اساسي برخه" او په اساسي قانون کې د يوه ثبت شوي بنسټ حد ته ارتقا وکړي، دا ايجابوي چې د مسؤولو ارګانونو له خوا ثبت او راجستر شي، ترڅو دولت پوه شي چې د کوم بنسټ د حمايت مسول دی او ددغه بنسټ راځرګندېدل او د ثبت څرنګوالی څه ډول دی. فرعي مسايل، په دې اړه د کورنۍ د قانون په متن تنظيمېږي يا سمبالېږي.

۱۰۷ د افغانستان اساسی قانون ۵۸ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۸ د افغانستان اساسی قانون ۵۴ ماده، ۱۳۸۲.

۱۰۹ د افغانستان اساسی قانون ۲۲ ماده، ۱۳۸۲

# ۴. پایله

د افغانستان په اساسي قوانینو کې د وګړو د اساسي حقونو له ثبت څخه نږدې یوه پیړۍ تیرېږي. له یوې خوا زموږ د هېواد د حقونو د څرنګوالي ستونزې ته په کتلو سره،او له بل پلوه د تیوري او د قانون د تطبیق ترمنځ جلاوالی و. دا چې د نولسمې پېړۍ له وروستیو څخه، په تېره بیا د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د افغانستان د اصلاح غوښتونکو مشروطه جنبشونه د قانون او اقتدار د مشروعیت په برخه کې ډېرې مبارزې کړې دي او بې شمېرې قربانۍ یې ورکړې دي؛ خو واقعیت دا دی چې دغه هڅې د وګړو د غوښتنو له خوځښتونو سره لکه څرنګه چې په اروپا کې راڅرګند شول، نه وو. همدا دلیل دی چې په افغانستان کې پرمختګ غوښتونکي خوځښتونه ځینې وخت له خلکو سره په ټکر کې شوي، چې په پای کې یې ګټه کړې ده خو له ماتې سره مخامخ شوي دي. هغه ټولنیز طبقات چې باید د دولت د قانون د عامل تحقق په برخه کې د وګړو د پروګرامونو د غوښتنو پربنسټ رامنځته کېږي، په افغانستان کې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې راڅرګند نه شول. د جوړښت دا ډول کمزوري لاهم په افغانستان کې لړترلږه په سیاسي قلمرو کې د لیدلو وړ ده. زما هدف دا دی ددې پرځای چې د طبقاتو د مشترکو غوښتنو پربنسټ د صف بندۍ پرځای هم سیاسي هویت او هم سیاسي ټولنیزې ډلې ګډ پروګرامونه ولري، چې تر ډېره له توکمیزو هویتونو راپورته کېږي.په بله وینا ، فردیت او فردي پوهاوی په هېواد کې لاهم د ټولنیز قرارداد د غوښتنې پربنسټ اغېز نه لري.

له همدې کبله، زموږ په هېواد کې چې د وګړو د اساسي حقونو د جوړښت موجب لومړی کړنه په اساسي قوانینو کې راڅرګنده شوې ده، تر ډېره د واکمنانو په زړونو پورې تړلی او تمایل پکې له ورایه ښکاري او غربي نوښت ته ځان نږدې کوي او په لومړي ګام کې تخنیکي نوښت غواړي. د افغانستان واکمنان او ان لومړی نوښت غوښتونکي، د وګړو داساسي حقونو پربنسټ فلسفې پوهاوی لازم نه بولي. پردې سربېره، هغه ټولنیز بنسټونه چې د دغو ارزښتونو د اجرا کوونکي او ملاتړي په توګه کار کوي، هم شتون نه لري.له دې کبله تر یوویشتمې پېړۍ پورې پرله پسې استبداد او دیکتاتوري په ښکاربېلو کچو دوام وکړ.په بله وینا ، د وګړو د اساسي حقونو او ازادیو مراعاتول،عملاً زموږ د قوانینو په ادبیاتو کې وده ونه کړه او نه پرېښتو ودربدل ځکه چې د ۱۳۴۳ کال اساسي قانونه په دې برخه کې یو ډېر لوی ګام ګڼل کېده.

لکه څرنګه چې ددغې لیکنې په متن کې اشاره شوې ده، د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون، که څه هم ډېرې ستونزې لري، په متن او کړنه کې له یو بل سره ټکر کې دی خو بیا هم زموږ د هېواد تر ټولو پرمختللی اساسي قانون ګڼل کېږي، چې دغه قانون د ارزښتونو د تدوین او د وګړو د اساسي ازادیو په برخه کې په حقیقت کې زموږ د هېواد د قانون جوړونې په تاریخ کې د عطف ټکی ګڼل کېږي.

هغه ستونزه چې د افغانستان د وګړو د هر اړخیزونو حقونو د تحقق په لار کې موجوده ده، د جوړښت خشونت دی چې زموږ له ټولنیزو بنسټونو او واکمنو اړیکو څخه راپورته شوی او هم مهال بیا تولیدېږي. زموږپه هېواد کې داسې دودونه شته چې د تاوتریخوالي او ټولنیز کېدو د منلو لامل ګرځي. کورنی تاوتریخوالی، په ښوونځي کې تاوتریخوالی، له خپلوانو سره تاوتریخوالی او په کوچنیانو سره تاتریخوالی کول د میراث په توګه دي، له یوې دودیزې ټولنې څخه موږ ته پاتې شوي دي. زموږ په څېر ټولنو کې چې د انسان فردیت د ټولو له خوا د منل شوي بنسټ په څېر نه دی منل شوی، د فرد د حقونو مراعاتول هم نه منل کېږي. په ټولنه کې د افرادو شخصي حریم چې د انسان شخصیت پکې په غېز کې نیول کېږي او ټولنه جوړوي، له ستونزو سره سره کولی شي دا معنا ولري چې په یوه ټولنه کې د یوه فرد د اصالت پربنسټ ولاړ وي.

د خلکو د پوهاوي د کچې ټیټوالی او د دوی د پوهې کمزوري او تر دې هم ور هاخوا د ښاري ژوند د کلتور ناتواني چې له حقونو او له ازادیو څخه د انسان د پوهاوي لامل ګرځي د یوه ډېر طبیعي کار په څېر ګرځي،او د وګړو د مدني مقاومت زمینه له دغه حق سره په تناقض کې کمېږي.

د افغانستان د اساسي قانون د واقعیت او تیوري ترمنځ دغه دوه ګونې کېدل د ازادی او د خلکو د اساسي حقونو د تحقق په برخه کې ددې لامل ګرځي چې د هېواد د حقوقي او قانوني ژوند لپاره یوډول ناانډولي رامنځ ته شي. نا انډولي په یوازې سره نه شي کولی د قانون د اصلاح او تناقضاتو د لیرې کولو له لارې او محدودیتونو څخه که څه هم ډېر الزامي نه وي، لیرې شي.د انسان د حقونو پېژندل اود ښوونې او روزنې د کچې لوړول د قانون له واکمنۍ او دا قانون د جراکوونکو او ژمنتیا سره تړلې مسایل دي، چې په دې برخه کې ترې مخ اړول د نه منلو دي.دغه نیمګړتیاوې د اداري تدابیرو په نیولو سره نه شي کولی برطرف شي؛ بلکې باید په یوه دوامداره تاریخي پروسه کې د هغه د لیرې کولو هڅه وشي. دغه پرله پسې تاریخي بهیر د خلکو له مبارزاتې ګډون څخه پرته چې له خپلو حقونو د دفاع او اساسي حقونود ترلاسه کولو لپاره وي، هدف ته نه رسېږي. له هغو وګړو پرته چې د خپلو حقونو ترلاسه کول غواړي، د وګړو حقونه او ازادی او چې د تحقق لپاره یې هڅې کوي، لکه له دیموکراتانو پرته د دیموکراسۍ د هیلو لرلو په څېر دي، محدود ، مهجور او مصدوم.

# ۵. وړاندیزونه

## د افغانستان د اساسي قانون اصلاح

- دا چې د اساسي قانون په متن او نص کې تناقضات شته او همدارنګه د متضاد او متفاوت تفسیر امکان هم شته، نو له دې کبله سپارښتنه کیږي چې د قانون په متن کې ناڅرګندتیاوې لیرې شي. مثلاً، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون دوه نوي یمه ماده وايي: "په وزیر باندې د (نه باوررایه) باید صریحه، مستقیمه او پرېکړو دلایلو ولاړه وي." دا چې کوم مقام، ددې کار د تشخیص صلاحیتونه لري، چې د عدم اعتماد د رایې دلالیل "موجه" دي، یا "موجه" نه دي، نه مشخص کیږي.

- د بشر د حقونو په هغو مادو کې چې د افغانستان دولت ورته ژمن دی، د قانون نص لا ډېر صراحت ته اړتیا لري، باید په دا ډول مواردو کې چې د بحث وړ وي، د قانون په نص کې باید صراحت رامنځته شي، ترڅو په راتلونکي کې یې د ابهاماتو مخه ونیوله شي. په دې برخه کې د هغو مسلمانو روشنفکرانو نظرونه راوړل چې د دودیزو علماوو په پرتله له اسلام نه متفاوت نظر لري، او د ترکیې، تونس، اندونیزیا او نورو اسلامي هېوادونو له مثبتو تجربو څخه ګټه اخلي، زموږ د هېواد لپاره لا ډېر څه ورښودلی شي.

- د قانون په متن د افغانستان د قومي تنوع په رسمیت پېژندل ددغه هېواد د کثیرالقومي واقعیت له کبله باید په قانون کې بل ډول افاده شوی وای نه دا چې د وګړو فردي هویت د قومونو په چوکاټ کې یې حقوقي تعبیر او تفسیر راغلی وای. د بېلګې په توګه، غوره به دا وای چې ددغه متن ورته جمله بندي داسې لیکل شوې وای: "افغانستان یو کثیرالقومي هېواد دی چې پکې د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، بلوڅ، پشه یي، او نورو په څېر قومونه اوسېږي."، "د افغانستان ملت له هغو ټولو وګړو جوړ دی چې د افغانستان تابعیت لري." دا ډول وینا د دیموکراسۍ له روح سره همغاړې ده، دا چې دولت د قانون پربنسټ دیموکراسي نه شي رامنځ ته کولی.

## د افغانستان د دولت لپاره

- ددغه هدف د تحقق لپاره دولت مکلف دی چې لازم قوانین وضع او له مقتضا سره سم تدابیر رامنځ ته کړي. د ټولنیزې مرستې قوانین، بیمه، د وړتیا، د زده کړې حق، د تقاعد حق او لړترلږه د انساني ژوند د عاید مشخصول او دې ته ورته د ټولنیزې واکمنۍ دندې شاملې وي. له دې اړخه پر هغه قانون ټینګار چې د قانون پربنسټ د دولت له نورم ترځنګ د ټولنیز عدالت د تحقق، د وګړو د حقونو د رعایتولو او د انساني کرامت د ساتنې عناصر جوړول او د اساسي قانون د هیلو جوړښت پکې راځي.

- دولت مکلف دی چې خپل قوانین د هغو تړونونو له احکامو سره په ورته ډول چې ورسره یوځای شوی، همغږي کړي. په بله وینا، دا یو منل شوی حقوقي اصل دی، کله چې دولت له نړیوالو قوانینو سره د یوځای کېدو هوکړه کوي، پر ملي حقونود نړیوالو حقونو رعایتولو ته ترجیح ورکوي او دولت مکلف دی تر څو خپل قوانین د قوانینو له احکامو سره سم او یا له نړیوال تړون سره مطابق چې له هغه سره یوځای شوی وي، اصلاح کړي.

- خو، که چېرې کوم قرارداد له اساسي قانون سره په تناقض کې وي، لومړی، حکومت باید هغه لاسلیک نه کړي، دویم، که چېرې حکومت له اساسي قانون سره په ټکر کې کوم قرارداد لاسلیک کړی وي، باید ملي شورا یې تصویب نه کړي، او دریېم، که چېرې ملي شورا هم هغه تصویب کړی وي، ذیصلاح ارګانونه کولی شي د مطابقت د ارزونې تقاضا او یا عدم مطابقت یې له اساسي قانون سره، د اساسي قانون د یوسل او یوویشتمې مادې مطابق له سترې محکمې څخه تقاضا وکړي. که چېرې ستره محکمه دا ډول قرارداد له اساسي قانون سره مغایر تشخیص کړي، حکومت مکلف دی چې ترې ووځي او یا یې هغه برخه اصلاح کړي، چې له اساسي قانون سره په ټکر کې ده، او د قرارداد له مقابل لوري سره په موافقې سره قرارداد وشي. یا دا چې که چېرې ملي شورا افغانستان له دا ډول معاهدو یا تړونونو څخه د وتلو لپاره دوه اړخیزه یا څو اړخیزه فیصله کوي. ترڅو چې دا کار نه دی شوی، د افغانستان دولت د نافذو قراردادونو په رعایتولو مکلف دی.

- دولت باید د برابرۍ اصل رعایت کړي. د قانون په وړاندې برابري له عملي اړخه په دې معنا ده چې قانون د هېڅ مقام، موقعیت او یا د وګړې د ټولنیز مقام پروا نه کوي، بلکې پر ټولو یو ډول تطبیقیږي. همداشان، دا معنا لري چې هېڅ دولتي ارګان نه شي کولی د قانون له تطبیق څخه پخپل زیان یا ګټه سرغړونه وکړي.

- په وروستیو دریو لسیزو کې د تاوتریخوالي او جنګ جګړو فرهنګ او د دولت په نامه له قانونه تنبتیدونکی دولتونه د دې لامل شوه چې دغلته تاوتریخوالی دود شي چې له مخې یې هغو کسانو ته اجازه ورکړل شوه چې د خلکو له بنسټیزو حقونو سرغړونې وکړي. دولت اړ دی چې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه نوی فرهنګ دود کړي.
- د خلکو د حقونو تر پښو لاندې کونکو پر وړاندې د معافیت فرهنګ د قانون د پلي کونکو ادارو د نه چمتوالي له امله چې د خلکو اساسي حقونه یې محدود کړي ، نو دولت ته په کار دي چې د خلکو پر حقونو دغه تیري کونکي د قانون منګولو ته وسپاریاو د معافیت فرهنګ پر ضد مبارزه پیل کړي.

## د خلکو لپاره د ټولنیزو بنسټونو او کمیسیونونو جوړونه

- پرګنیز غورځنګونه او د افغانستان بشري حقونه د خلکو د ربښتینو غورځنګونو جوړولو ته اړتیا لري چې وکولای شي د خلکو په نوښت او د مدني مبارزو په غښتلتیا د خلکو له بنسټیزو حقونو ننګه او ملاتړ وکړي. بیله شکه د بشري حقونو خوندیتوب د ملاتړو ادارو شتوالی ته اړتیا لري او د دغسې ادارو او بنسټونو د شتون لپاره تخنیکي او مادي شونتیاوې ډیرې اړینې دي، خو دغه بنسټونه په لومړي ګام کې باید داسې مبارزاتي بنسټونه وي نه داسې بنسټونه چې یوازې د مادي مرستو لپاره وړاندیزونه وکړي.
- هغه سیاسي ګوندونه چې د خلکو د نظرونو او سیاسي زده کړو په پایله کې د خلکو د معرفت او د خلکو د افکارو د اغیزمنولو په برخو کې فعالیت کوي، په کار دي چې ملاتړ یې وشي . سیاسي ګوندونه له یوې خوا په سیاسي نظام کې د خلکو لپاره د ګډون زمینه برابروي او له بله پلوه د هغوی د سیاسي پوهې د پراختیا لپاره زمینه برابروي، چې له همدې امله په سیاسي هڅو کې هغوی دې ته هڅوي چې په براخه کچه برخه واخلي.
- د وګړو د بنسټیزو حقونو په بحث او د دغو حقونو پلي کېدو لپاره یوه مهمه موضوع دا ده، د دې لپاره چې وګړي وکړای شي خپلو بنسټیزو حقونو ته لاسرسی ولري او یا د هغو حقونو چې سرغړونه ترې شوي وي او په قانون کې راغلي په محکمه کې دعوا وکړي، د میکانیزمونو شتون مهم دی. متاسفانه، په افغانستان کې خلکو او وګړو تر اوسه دغه طریقه نه ده تجربه کړې او له همدې امله د وګړو له اساسي حقونو سرغړونه د حکومت له لوري پرته له قضایي ارزونې پاتې دي. د همدې لپاره وړاندیز دا دی چې د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون د وګړو په استازیتوب، په هغو ځایونو کې د دوی د هغو حقونو چې په قانون کې راغلي او یا یې بنسټیز حقونه نقض شوي وي، د محکمې پر وړاندې دعوا وکړي. او په بل پړاو کې د مشرانو جرګې او یا ولسي جرګې د شکایتونو اورېدو کمېسیون د وګړو د اعتراضونو په برخه کې همکاري وکړي.

## فارسي سرچینې

"د افغانستان د قوانینو ټولګه". کابل: د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عدلیې وزارت خپرونې ، ۱۳۸۲کال

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت اساسي اصول .۱۳۵۹کال.

سپنتا دادفر، رنگین، "ستونزمن کلونه". کابل، ۱۳۸۸کال.

سپنتا دادفر، رنگین. "معاصر سیاسی گوندونه"، د آسمایی مجله، شمیره ۲۲. کابل، ۲۰۰۳کال.

غبار، میر غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ. جلد لومړی او دویم ګنه، کابل، ۱۳۸۲.

د افغانستان اساسی قانون ۱۳۴۳کال.

د افغانستان اساسی قانون ۱۳۵۵کال.

د افغانستان اساسی قانون ۱۳۶۶کال.

د افغانستان اساسی قانون ۱۳۸۲کال.

د افغانستان اساسی قانون ۱۹۳۱کال.

کدیور، محسن. حق الناس. تهران، ۱۳۸۷.

کدیور، محسن. حق الناس.تهران، ۱۳۸۳.

## انګلیسی او آلمانی سرچینې

Bachof, Otto. Begriff und Wesen des sozialen Rechtstaates. Berlin: Walter de Gruyter & Co., 1954.

British Library.“English Translation of 1215 Edition of Magna Carta.” http://www.bl.uk/treasures/magnacarta/translation/mc_trans.html (accessed 9 September 2014).

Eide, Kai. Power Struggle over Afghanistan.New York: Skyhorse, 2012.

“Internationaler Paktüberwirtschaftliche, soziale und kulturelle Rechtevom 19.Dezember1966 [International Covenant on Economic, Cultural, and Social Rights of 19. December 1966].” http://www2.fzs.de/uploads/unsozialpakt.pdf (accessed September 2014).

Ipsen, Jörn. Staatsrecht II. Munich: Vahlen, 2014.

Marshall, Thomas H. Bürgerrechte und Sozial Klassen. Frankfurt: Campus, 1992.

Meyer, Thomas. Was ist Demokratie. Wiesbaden: VS Verlag, 2009.

Ramleh, Ber A. Akt Afghanistan. Bonn: 1922.

Spanta, Rangin Dadfar.Afghanistan: entstehung der Unterentwicklung, Krieg und Widerstand [Afghanistan: Genesisof Underdevelopment, War and Resistance]. Frankfurt a.M.: Lang 1993.

Spanta, Rangin Dadfar. “Modern Political Parties,” Asmaee Magazine 26 (2003).

“The Declaration of the Rights of Man,”http://avalon.law.yale.edu/18th_century/rightsof.asp(accessed September 2014).

United Nations. “The Universal Declaration of Human Rights: Article 22, 1948.” http://www.un.org/en/documents/udhr/index.shtml#a22(accessed January 2015).

University of Groningen. “The Final Text of the Declaration of Independence July 4 1776.” http://www.let.rug.nl/usa/documents/1776-1785/the-final-text-of-the-declaration-of-independence-july-4-1776.php (accessed 17 September 2014)

Vorländer, Hans. “Gründzuge der Demokratie.” Bonn: Bundeszentralefür politische Bildung, 2013.

Zeh, Juli. Die Diktatur der Demokraten. Hamburg: Körber-Stiftung, 2012.

# دڅرګندونولپارهستاسيغوښتنې

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ډېره علاقه لري چې ستاسو څخه اوري. په هر صورت که تاسی د دی واحد خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد کې په لکچر یا ورکشاپ کې ګډون کړی وی، یا مو له کتابونو څخه استفاده کړی وی، یا مو د ادارې له کارونو او څېړنو سره آشنایی پیدا کړی وی، ستاسي څرګندونی او غوښتنې زمونږ لپاره ډیر د ارزښت وړ دی، ستاسی وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه توګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته راوړنې په ښه څیر د خپلو خبرونو له لوستونکو سره شریکې کړو.

ترټولواسانهلاردڅرګندونولپارهستاسيغوښتنىدبرښنالیکلهلارىareu@areu.org.afهمدارنګهتاسيکولاىچېلهمونږسرهپهاړ یکهکېشي ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰)۹۳+

- تاسيپهخپلواکهتوګهنظرورکولاىشى،اماستاسىځوابونهاومعلوماتپهدىاړهزمونږلپارهډیرارزښناک تماميږى
- لهدىادارېاوددىادارىلهڅېړنوسرهڅنګهاشناشوى(دخپرونولهلارى،یاددىادارىپهغونډویامجلسونوکېګډونلهلارى)
- دافغانستاندڅېړنېاوارزونېدادارېلهڅېړنودڅهلپارهاستفادهکوى
- دافغانستاندڅېرنېاوارزونېدادارېڅېړنېڅنګهترلاسهکوى
- آیا لهخپرونونه پهبرښنایيیاچاپيڅیراستفاده کوی
- دخپرونومعلوماتتاسو ته څه دول وړاندیشی
- ستاسووړاندیزنهددىادارىدڅېرنوپهاړهڅهشىدى
- د افغانستان د څېرنی او ارزونی د اداری کومه خپرونه یا پیښنه تاسوته په زړه پوری ده؟
- ستاسيپهباورپهکوموموادوکېزمونږکارونهګټورتماميږى
- علاقه،ددندىساحهاویاستاسىدمطالعىځاى

## د افغانستان دڅېړنې اوارزونې واحد خپرونې

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دری | دڅېړنې موضوع | د څېړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه گنه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | | کتاب |
| فبروری ۲۰۱۵ | د معیشت د خوندیتوب ډله ایزه څېړنې، کالنی سمینار | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | پایښت لرونکی معیشت | د سمینار موندنه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د افغانستان د اساسی قانون لس کال | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | دکنفرانس خلاصه |
| فبروری ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننگرهار ولایت بېلگه | اشلی جکسن | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابری او په کابل کې گډونکي | ریچارد مالت او ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| جنوری ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننگرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پین او ومیق الله ممتاز | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولی یوازی سفر کوی؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتی هیوادونو ته د تگ انگیزې | چونا آر. اچاویز جنیفر لین ال بگاپورو لیحه ویلفر داری پیلانگو شکریه آزادمنش | ✓ | ✓ | کډوالي او نړیوالې شبکې | تحلیلی څېړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننگرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا او ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✓ | ✓ | جندر | پالیسی پاڼه |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ کلیوال اقتصاد او د اپیمو اوښتونکی حالت | پاول فیشستین | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | ترکیبی څېړنه |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | د معیشیت د خوندیتوب ډله ایزه څېړنه، د افغانستان د څېړنی پروگرام | چونا آر. اچاویز | | | پایښت لرونکی معیشت | برشور |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | جنډر، ځوانان او ښاري مارکیټ کی گډون: د گډونی د سکتور بیلگي په کابل افغانستان کی | ادم پین او ریچارد مالت | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| سپتمبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د اوبو په تړاو د لانجو د حل د بهیر د پېچلتیاوو سپړنه | ونسنت تاماس | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| آگست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړود حل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | ارونی جیاکودی | ✓ | ✓ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| آگست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننگرهار ولایت بېلگه | اشلی جکسن | ✓ | ✓ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د گردی میز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د گردی میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کړ» د ښنتو په ولایتونو هلمند او ننگرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزوني لپاره د یوې طریقې جوړول | ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دولسمه گنه ۲۰۱۴ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | ✓ | ✓ | | کتاب |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندی پرتې ننگونې | انتونیو جیستازی او پیټر کوینتن | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروگرامونه څنگه په ټولنیزوځایوالي کې ونډه اخلې؟ د افغانستان، بنگله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاگن-زانکر او ربیکا هولمز | ✓ | ✓ | جندر | ترکیبی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ) BRAC ( د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنیز مشارکت کی | چونا آر. اچاوز، بابکن بابه جانین، جسیکا هیگن زنکر | ✓ | ✓ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنگه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړی بیلگی | چونا آر. اچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاگن-زانکر، شاهین اکتر، او جنیفرباگوپورا | ✓ | ✓ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | به افغانستان کی حکومتولی ته یوه کتنه | اریه نجات | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیوکاروبارونو (پانگونو) پر مختک او سیمه ییزه سوداگری | مجیب مشعل | | ✓ | سیاسی اقتصاد | کاری لیکنه |

AREU

د ښه څېړنې افغانستان لپاره

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.

**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي یعقوب له څلور لارې څخه د شهید د څلورلارې په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴ کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af

۱۳ کاله
باکیفیته څېړنه